د رسول الله علیه افضل الصلاة والسلام په ژبه دیرش قیصي

لیکوال : عصام عبدالعزیز الشایع

ژباړه او د احادیثو تخریج : عبد الباري (جمال)

(م م ج)

د کتاب عربي نوم : ثلاثون قصة بلسان محمد صلی الله علیه وسلم

لیکوال : عصام عبدالعزیز الشایع

چاپځاي او نیټه : دار الطرفین للنشر والتوزیع ، الطائف ۱۴۳۰ هجری

اهداء

خپل اروابناد پلار ته چي د رسول الله علیه افضل الصلاه والسلام نه وروسته زما لپاره قدوه دی

خپلی مور جاني ته چی د الله عزوجل او د هغه د رسول علیه افضل الصلاه والسلام نه وروسته پر ما ډیره گرانه او مهربانه ده او زما د ژوند اولني استاذه او مدرسه ده.

د لیکوال سریزه :

'لحمد لله الذي أرسل لنا أعظم أنبيائه ، و أكرمنا بسنة خير أصفيائه، محمد بن عبدالله أعظم البشر خلقا و أفصحهم لسانا ، و أقواهم ايمانا ، أما بعد :[1]

دا کتاب چی ما لیکلی دی په دی کتاب کی هر حدیث د فصاحت نه ډک دی او دا خبره ښکه عجیبه نه ده چی دا ټول 'حادیث د رسول الله علیه افضل الصلاة والسلام له مبارکي خولی روایت شوی دی .[2]
د دی کتاب هره قیصه می د صحیحو احادیثو څخه را ټوله کړی ده ، او د هر حدیث لاندی می فائدي هم لیکلی تر څو د دغه فائدو څخه لوستونکي ګټه واخلی ، هر ایت می په اعوذ بالله شروع کړی دی ښکه الله عزوجل فرمایلی دی :

(فاذا قرات القران فاستعذ بالله من الشیطن الرجیم) النحل ۹۸ .

د بعضو سختو کلماتو معناګاني می په قوسونو کی د هماغه کلماتو سره پیوسته ذکر کړی تر څو لوستونکی د قیصی څه لری لاړ نشی ، دغه کار دا ګټه هم لری چی لوستونکي په معنی زر پوهیږی او په اساني بل هم پوهولی شی .[3]

دا کتاب می استاد ته چی په مکتب کی یې شاګردانو ته و وایې ، داعي او ملا ته چی عامو خلکو ته یی ورسوی او فائدي یی بیان کړی او مور او پلار ته چی خپلو ماشومانو ته یی و وایې لیکلی دی .
که چیرته په دی کتاب کی څه پاتی شوی او یا غلط شوی وی نو هغه زما او د شیطان تیروتنه ده .[4]

د الله عزوجل ته دعا ګوی یم چی هر هغه څوک چی دا کتاب لولئ او یا یی نورو ته اوروی د هغوی په عمرونو او مالونو کی برکت واچوی .

ما (لیکوال) ، زما مور او پلار ، اولاده او میرمن له خپلو دعاؤ څخه مه هیروی .

عصام بن عبدالعزیز الشایع

1
2
3
4

دپیل خبرې :

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله رب العالمين والصلاة والسلام على أشرف الأنبياء والمرسلين سيدنا محمد وعلى آله وصحبه آجمعين ، و بعد :

دا د انسان فطرت دی چې قيصي د بل هر شي نه ډیری په غور او خوند لولئ او اوري ، د خلکو په جذبولو کی که هغه وړوکي وی او که لوی قیصه ډیره زیاته اغیزه لری او همدا لامل دی چې اسلام رښتینو قیصو ته ډير اهميت ورکړی ، الله عزوجل فرمایلی :

(فَٱقۡصُصِ ٱلۡقَصَصَ لَعَلَّهُمۡ يَتَفَكَّرُونَ) . د اعراف سورت ۱۷۶ ایت .

ژباړه : دوی ته دغه قیصی (او احوال) بیان کړه کیدای شی دوی فکر وکړي (په دغه قیصو کی او ایمان راوړي) .

په قران کریم کی ځایې په ځایې د تیرو قومونو احوال او قیصی راغلي دی تر څو مونږ د هغو قیصو څخه پند او عبرت واخلو الله عزوجل فرمایلي :

(كَذَٰلِكَ نَقُصُّ عَلَيۡكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ مَا قَدۡ سَبَقَۚ) ، د طه سورت ۹۹ ایت .

ژباړه : هم داسی مونږ تاته د هغه امورو چې تیر شوی دی قیصی کوو .

الله عزوجل بل ځاي فرمایلی :

(لَقَدۡ كَانَ فِي قَصَصِهِمۡ عِبۡرَةٞ لِّأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِۗ)، د یوسف سورت ۱۱۱ ایت .

ژباړه : بیشکه د دوي (یوسف علیه السلام او د هغه د ورونو یا نورو انبیاؤ او امتونو) په قیصه کی د عقل د خاوندانو (هوښیارانو) لپاره پند او عبرت شته دی .

په دی کتاب کی چی کومي قیصی را ټولی شوی دی هغه د ستر لارښود رسول الله علیه افضل الصلاة والسلام له مبارکي خولی روایت شوی دی چی د هغه په باره کی الله عزوجل فرمایلی دی :

(وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلْهَوَىٰٓ ٣ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ ٤)

ژباړه : او (رسول الله علیه افضل الصلاة والسلام) له هوا (له ځانه) خبری نه کوی ، دغه وحیه ده چی ورته لیږل شوی ده .

ولي دا کتاب :

دا کتاب می ځکه د ژباړي لپاره خوښ کړ چی :

۱ : د مبارک رسول الله علیه افضل الصلاة والسلام په مبارکه ژبه دیرش قیصی دی .

۲ : دغه قیصی د صحاح ستة ؤ ځخه را ټولي شوی .

۳ : په دغه احادیثو (قیصو) کي ډیر عبرت او درس پروت دی .

۴ : په دی کی ډیر شرعي احکام ، تربوي ګټي ، فائدي او اسلامي اداب پراته دی .

۵ : د مور او پلار لپاره تر ټولو ښه کتاب دی چی خپلو بچیو ته ترینه قیصی وکړی .

٦ : یو داعي . استاد او ملا ته تر ټولو ښکلی کتاب دی تر څو نورو ته دا قیصی ورسوي او هغوی ته د دغه احادیثو فائدی بیان کړی .

د احادیثو تخریج :

الف : محترم ليکوال چی په دی کتاب کی کوم احاديث راوړی دی د هغی په اخر کی به یی داسی ليکلی ول : صحبح بخاري ، يا به يې ليکلی ول : حديث صحيح ، يا به یی ليکلی ول: اخرجه مسلم او يا هم داسی چی حديث حسن.

ب : که ليکوال د صحيح بخاري کوم حديث (قيصه) په خپل کتاب کی ذکر کړي (راوړي) نو که هغه حديث امام بخاري په خپل کتاب کی تکرار (راوړي) کړي وی ما هغه د صحيح بخاري د تکرار شوی کتاب او باب ذکر کړي دی .

د مثال په توګه :

ليکوال د پنځمي قيصي (حديث) چی د (په دم سره شفا موندل) نوميړی په اخره کی يواځي دومره ليکلی : صحيح بخاري .

ما د دغه حديث (قيصی) تخريج داسی کړی :

صحيح البخاري واللفظ له: كتاب الإجارة ، باب ما يعطى فى الرقية على أحياء العرب بفاتحة الكتاب حديث: (٢٢٧٦) او همداسی امام بخاري په كتاب الطب ، باب : الرقى بفاتحة الكتاب، (٥٧٣٦)او په باب : النفث فى الرقية کې (٥٧٣٧) او همداسې په كتاب : فضائل القرآن ، باب : فضل فاتحة لكتاب (٥٠٠٦) کی هم ذکر کړي .
صحيح مسلم: كتاب السلام، باب جواز أخذ الأجرة على الرقية بالقرآن و الأذكار، حديث: (٢٢٠١)
سنن الترمذى: أبواب الطب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم، باب ما جاء فى أخذ الأجر على التعويذ، حديث: (٢٠٦٣)
سنن أبى داود: كتاب الاجارة، باب فى كسب الأطباء، حديث: (٣٤١٨)
سنن ابن ماجه: أبواب التجارات، باب أجر الراقى، حديث:(٢١٥٦) .

ج : د حديث په فائدو کی چی ليکوال کوم احاديث ذکر کړي ول هلته به ليکوال يواځي دمره ليکلی ول چی حديث صحيح ، هلته می هم کوښښ کړی چی د هر حديث تخريج وکړم .
د : د بعضو احاديثو په فائدو کی می زياتوالی راوستی دی او هلته می د قران کريم ايتونه او نبوی احاديث هم راوړی دی .
احاديث می د الكتب الستة (صحيح البخاري ، صحيح مسلم ،سنن آبي داود ، جامع الترمذي ، سنن النسائي ، سنن ابن ماجة) چی د صالح بن عبدالعزيز بن محمد بن ابراهيم ال الشيخ د

اشراف او مراجعې لاندې دارالسلام (الرياض) په ۲۰۰۰ م چاپ کړې دی ځخه تخريج کړي دی.

که څه هم د احاديثو تخريج يو ستونزمن کار دی او دغه تخريج زما ډير وخت ونيوه خو بيا هم د الله عزوجل ډير شکر اداء کوم چې وتوانيدم د دې کتاب ټول احاديث د صحاح سته نه تخريج کړم ، حديث مي په صحاح سته کې ليدلی او د کوم کتاب لفظ مې چې راوړی د هغه کتاب نوم مې هم ورسره ذکر کړي دی ، بيا هم انسان کمزوری دی او کيدای شي د بعضو احاديثو تخريج رانه پاتې او يا غلط شوی وی نو د هغې له مخکې نه ښښنه غواړم ، کيدای شي د احاديثو په ژباړه کې غلط شوی يم او اميد کوم چې دغه شوی غلطی راته په گوته کړی تر څو په راتلونکي کې ورته پاملرنه وکړم .

د گران ورور او ملگري رشتين زابلوال صيب څخه د زړه له تله مننه کوم چې هر وخت يې ليکلو ته هڅولی يم او لار ښوونه يې راته کړی ده .
د خوږ ورور دکتور محمد شفيق عبدالظاهر ډير مننوی يم چې احاديث يې له نظره تير کړل .

د خپلي مور مننوي يم چې تل يې زما کتابونه ، قلم او کتابچې د ماشومانو او کور نورو غړو څخه په ډير احتياط ساتلي دی تر څو زه يې بيا په لټولو ستړي نه شم .

د ام بشائر مننوی يم چې د احاديثو په تخريج کې يې راسره مرسته کړی .

عبدالباري جمال

۲۰۱۴ ميلاديز کال پيښور

۱: قیصه : د نیک عمل په کولو سره نجات موندل .

عن عَبْدَاللهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهما،قَالَ : سَمِعْتُ ر سُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ،يَقُولُ : " انْطَلَقَ ثَلَاثَةُ رَهْطٍ مِمَّنْ كَانَ قَبْلَكُمْ ،حَتَّى أَوَوْا الْمَبِيتَ إِلَى غَارٍ فَدَخَلُوهُ ،فَانْحَدَرَتْ صَخْرَةٌ مِنَ الْجَبَلِ فَسَدَّتْ عَلَيْهِمَا الْغَارَ ،فَقَالُوا : إِنَّهُ لا يُنْجِيكُمْ مِنْ هَذِهِ الصَّخْرَةِ إِلَّا أَنْ تَدْعُوا اللَّهَ بِصَالِحِ أَعْمَالِكُمْ ،فَقَالَ رَجُلٌ مِنْهُمْ : اللَّهُمَّ كَانَ لِي أَبَوَانِ شَيْخَانِ كَبِيرَانِ ،وَ كُنْتُ لَا أَغْبِقُ قَبْلَهُمَا أَهْلًا وَلَا مَالًا ،فَنَأَى بِي فِي طَلَبِ شَيْءٍ يَوْمًا ،فَلَمْ أُرِحْ عَلَيْهِمَا حَتَّى نَامَا ،فَحَلَبْتُ لَهُمَا غَبُوقَهُمَا فَوَجَدْتُهُمَا نَائِمَيْنِ ،وَكَرِهْتُ أَنْ أَغْبِقَ قَبْلَهُمَا أَهْلًا أَوْمَالًا ،فَلَبِثْتُ وَالْقَدَحُ عَلَى يَدَيَّ أَنْتَظِرُ اسْتِيقَاظَهُمَا حَتَّى بَرَقَ الْفَجْرُ ،فَاسْتَيْقَظَا فَشَرِبَا غَبُوقَهُمَا ، اللَّهُمَّ إِنْ كُنْتُ فَعَلْتُ ذَلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ ،فَفَرِّجْ عَنَّا مَا نَحْنُ فِيهِ مِنْ هَذِهِ الصَّخْرَةِ ،فَانْفَرَجَتْ شَيْئًا لَايَسْتَطِيعُونَ الْخُرُوجَ ،قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : وَقَالَ الْآخَرُ : اللَّهُمَّ كَانَتْ لِي بِنْتُ عَمٍّ كَانَتْ أَحَبَّ النَّاسِ إِلَيَّ ،فَأَرَدْتُهَا عَنْ نَفْسِهَا ،فَامْتَنَعَتْ مِنِّي حَتَّى أَلَمَّتْ بِهَا سَنَةٌ مِنَ السِّنِينَ ،فَجَاءَتْنِي فَأَعْطَيْتُهَا عِشْرِينَ وَمِائَةَ دِينَارٍ ،عَلَى أَنْ تُخَلِّيَ بَيْنِي وَبَيْنَ نَفْسِهَا ،فَفَعَلَتْ حَتَّى إِذَا قَدَرْتُ عَلَيْهَا ،قَالَتْ : لا أُحِلُّ لَكَ أَنْ تَفُضَّ الْخَاتَمَ إِلَّا بِحَقِّهِ ، فَتَحَرَّجْتُ مِنَ الْوُقُوعِ عَلَيْهَا فَانْصَرَفْتُ عَنْهَا وَهِيَ أَحَبُّ النَّاسِ إِلَيَّ وَتَرَكْتُ الذَّهَبَ الَّذِي أَعْطَيْتُهَا ،اللَّهُمَّ إِنْ كُنْتُ فَعَلْتُ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ فَافْرُجْ عَنَّا مَا نَحْنُ فِيهِ ،فَانْفَرَجَتِ الصَّخْرَةُ غَيْرَ أَنَّهُمْ لَايَسْتَطِيعُونَ الْخُرُوجَ مِنْهَا ،قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : وَقَالَ الثَّالِثُ : اللَّهُمَّ إِنِّي اسْتَأْجَرْتُ أُجَرَاءَ فَأَعْطَيْتُهُمْ أَجْرَهُمْ غَيْرَ رَجُلٍ وَاحِدٍ تَرَكَ الَّذِي لَهُ وَذَهَبَ فَثَمَّرْتُ أَجْرَهُ حَتَّى كَثُرَتْ مِنْهُ الْأَمْوَالُ ،فَجَاءَنِي بَعْدَ حِينٍ ،فَقَالَ : يَاعَبْدَاللهِ ، أَدِّ إِلَيَّ أَجْرِي ،فَقُلْتُ لَهُ : كُلُّ مَا تَرَى مِنْ أَجْرِكَ مِنَ الْإِبِلِ ، وَالْبَقَرِ ،وَالْغَنَمِ ،وَالرَّقِيقِ ،فَقَالَ : يَاعَبْدَاللهِ ،لَاتَسْتَهْزِئُ بِي ،فَقُلْتُ : إِنِّي لَا أَسْتَهْزِئُ بِكَ فَأَخَذَهُ كُلَّهُ ،فَاسْتَاقَهُ فَلَمْ يَتْرُكْ مِنْهُ شَيْئًا ،اللَّهُمَّ فَإِنْ كُنْتُ فَعَلْتُ ذَلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ ،فَافْرُجْ عَنَّا مَا نَحْنُ فِيهِ ،فَانْفَرَجَتِ الصَّخْرَةُ ،فَخَرَجُوا يَمْشُونَ)) .

دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روایت دی چی وائي : ما د رسول الله علیه افضل الصلاة والسلام نه واوریدل چی فرمایل يې :

تر تاسې نه په مخکنیو امتونو کې درې کسان (په لاره) روان وو ،دوی د شپې تېرولو په موخه یوه غار ته راغلل او هلته ننوتل. د غره نه یوه لویه تیږه را ونښوېده اوپه دوی پسې يې د غار خوله بنده کړه دوی وویل: یواځې په دې به وژغورل شئ، چې د خپلو نېکو عملونو په طفیل مو الله تعالی ته دعاء وکړئ ، یو خپله دعاء داسی پیل کړه:

یا الله زما مور او پلار بوډاګان (سپین ږیري) وو، ما به تر دوی وړاندې خپل اهل او مال ته شیدې د څکلو لپاره نه ورکولې (یعنې هغوی مې دېته نه پرېښودل، چې زما د مور او پلار نه مخکې شیدې وڅکې، بلکې لومړی به مې خپل مور او پلار ته د څکلو لپاره ورکولې) یوه ورځ د یوه شي په لټه پسې

ډېر لرې ولاړم، هغه مهال خپل کور ته راستون شوم، چې دوی دواړه ویده شوي وو، دوی ته مې شیدې را ولوشلې اما دوی ویده وو، دا مې زړه نه منله چې تر دوی وړاندې دې خپل اولاد ته شیدې د څکلو لپاره ورکړم، پیاله په لاس د دوی د راوېښېدلو په انتظار پاتې شوم، تردې چې سهار وځلېد او دوی را پاڅېدل او خپلې شیدې یې وڅکلې، ای الله! که چېرته ما دغه کار یواځې ستا د رضاء لپاره کړی و، نو په مونږ دغه مصیبت اسانه کړه ، هغه تیږه لرې شوه، خو دوی ترېنه دباندې نه شو وتلی، رسول الله علیه الصلاة والسلام وفرمایل: هغه بل داسې و ویل : یاالله! زما د تره (کاکا) یوه لور وه، چې هغه ماته تر هر چا ډېره ګرانه وه، ما دهغې سره د یو والي (د حرام کار) اراده وکړه، مګر هغې زه منع کړم تر دې چې یو کال قحطي راغله، هغه ماته راغله، ما هغې ته په دې شرط ۱۲۰ دینار ورکړل تر څو د هغې په بدل کې زما سره بد کار وکړي، هغه راضي شوه، او زما پری لاس بر شو مګر هغې راته و ویل: تاته دا نه ده روا چې دا مهر له حقه پرته مات کړې، (ده دې خبرې په اورېدلو) دا راته ډېره بده ښکاره شوه، چې زه دې خپل غرض پوره کړم، نو زه د هغه ځایه لاړم، حال دا چې هغه ماته تر هر څه ډېره ګرانه او نزدې وه، هغه څه چې ما هغې ته ورکړي وو هغه می ورته پرېښودل، یاالله! که ما دا کار ستا د رضاء لپاره کړی وي، نو یاالله په مونږ رحم وکړې او دا تیږه لیرې کړې، هغه تیږه لرې شوه، خو دوی ترینه نه شو وتلي.

رسول الله علیه الصلاة والسلام وفرمایل: دریم داسې وویل:

یاالله ما څو مزدوران کار کولو ته راوستي وو، ما هغه ټولو مزدورانو ته خپله مزدوري ورکړه، خو په دوی کې یو د خپلې مزدورۍ د اخستلو پرته ولاړ، ما د هغه د مزدوري پیسې په کاروبار کې ولګولې، هغې ډېره ګټه وکړه، څه وخت پس هغه کس راغی اوله ما څخه یې خپله مزدوري وغوښتله، ما هغه ته وویل: دا اوښان، غواګانې، پسونه او غلامان چې وینې دا ټول ستا دي، هغه راته وویل: ای د الله بنده خندا را پورې مه کوه، ما هغه ته وویل: رښتیا وایم او ټوقې در سره نه کوم، هغه ټول مال په مخه کړ او هېڅ شی یې هم پرې نه ښودل، یاالله که چېرته دغه کار ما ستا د رضاء لپاره کړی وي، نو زمونږ نه دا مصیبت لرې کړې، هماغه وه چې تیږه لرې شوه او هغوی د هغه غار نه را ووتل او روان شول.

دحدیث تخریج :

بخاري : کتاب الاجارة ،باب من استأجر أجیرا فترک أجره فعمل فیه المستأجر فزاد : حدیث: (۲۲۷۲) .
او په کتاب البیوع ، باب : اذا اشتری شیئا لغیره بغیر اذنه فرضي ، حدیث : (۲۲۱۵).
بخاري په أحادیث الأنبیاء،باب حدیث الغار (۳۴۶۵) او په کتاب الأدب ، باب : اجابة دعاء من بر والدیه (۵۹۷۴) او په کتاب الحرث والمزارعة ، باب اذا زرع بمال قوم غیر اذنهم (۲۳۳۳) .
مسلم : کتاب،الرقاق :باب : قصة اصحاب الغارالثلاثة،والتوسل بصالح الأعمال،حدیث : (۲۷۴۳).

د حدیث فائدی:

۱: په خوشحالۍ کې د الله عزوجل يادول ددې سبب ګرځي، چې الله عزوجل به دی په سختيو کې ياد ولري.
۲: په ښه عملونو سره دعا کول لکه د مور اوپلار سره ښه کول د زناء نه ځان ساتل، امانت ساتل، چې څوک محتاج وي د هغوی سره په پټه مرسته کول او داسې نور.
۳: ښه ناسته او ښه ملګرتيا د کاميابی او نجات سبب ګرځي .
۴: د مور او پلار عزت، احترام او د هغوی په خدمت کې سختي ګالل تر ټولو ښه او بهتره عمل دی او د هغو سره مينه تر هر څه مخکې دی.
۵: کله چې مور او پلار بوډاګان شي د هغوی حق زياتېږی او د دې ټولو نه ډېر د هغوی سره ناسته او خبرې اورېدل ضروري دي د هغوی شرعي حاجتونه پوره کول د هر څه نه اول او ضرور دي.
٦: الله داسې هېڅ يو عمل نه قبلوي چې هغه خالص د هغه لپاره نه وي.
۷: د زناء او هر ناوړه عمل نه ځان ساتنه خير پيدا کوي.
۸: امانت خپل حقدار ته سپارل او په هغې کې خيانت نه کول د الله د رضاء او خوشحالۍ سبب ګرځي لکه څنګه چې اخرني کس وويل او تيره بيخي لرې شوه او هغوی د غار څخه ووتل.
۹: وليان او د الله دوستان کرامات لري، خو د الله د دوستانو د کرامت او د شيطان د ملګرو سحر کې فرق واضح دی.
۱۰: د مخکنيو قومونو کيسو کې د عبرت ډېر څه نغښتي دي، چې انسان ته پکار دي د هغوی د ژوند نه عبرت واخلې.

۲: توبه ويستونکې قاتل:

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: كَانَ فِيمَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ رَجُلٌ قَتَلَ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ نَفْسًا ، فَسَأَلَ عَنْ أَعْلَمِ أَهْلِ الأَرْضِ فَدُلَّ عَلَى رَاهِبٍ ، فَأَتَاهُ فَقَالَ: إِنَّهُ قَتَلَ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ نَفْسًا، فَهَلْ لَهُ مِنْ تَوْبَةٍ ؟ فَقَالَ: لا، فَقَتَلَهُ فَكَمَّلَ بِهِ مِائَةً ، ثُمَّ سَأَلَ عَنْ أَعْلَمِ أَهْلِ الأَرْضِ ، فَدُلَّ عَلَى رَجُلٍ عَالِمٍ ، فَقَالَ: إِنَّهُ قَتَلَ مِائَةَ نَفْسٍ فَهَلْ لَهُ مِنْ تَوْبَةٍ ؟فَقَالَ: نَعَمْ وَمَنْ يَحُولُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ التَّوْبَةِ, انْطَلِقْ إِلَى أَرْضِ كَذَا وَكَذَا ،فَإِنَّ بِهَا أُنَاسًا يَعْبُدُونَ اللَّهَ فَاعْبُد اللَّهَ مَعَهُمْ وَلاتَرْجِعْ إِلَى أَرْضِكَ فَإِنَّهَا أَرْضُ سَوْءٍ ، فَانْطَلَقَ حَتَّى إِذَا نَصَفَ الطَّرِيقَ أَتَاهُ الْمَوْتُ ، فَاخْتَصَمَتْ فِيهِ مَلائِكَةُ الرَّحْمَةِ

وَمَلائِكَةُ الْعَذَابِ ، فَقَالَتْ مَلائِكَةُ الرَّحْمَةِ : جَاءَ تَائِبًا مُقْبِلاً بِقَلْبِهِ إِلَى اللَّهِ. وَقَالَتْ مَلاَئِكَةُ الْعَذَابِ: إِنَّهُ لَمْ يَعْمَلْ خَيْرًا قَطُّ ، فَأَتَاهُمْ مَلَكٌ فِي صُورَةِ آدَمِيٍّ فَجَعَلُوهُ بَيْنَهُمْ ، فَقَالَ: قِيسُوا مَابَيْنَ الأَرْضَيْنِ فَإِلَى أَيَّتِهِمَا كَانَ أَدْنَى فَهُوَ لَهُ، فَقَاسُوهُ فَوَجَدُوهُ أَدْنَى إِلَى الأَرْضِ الَّتِي أَرَادَ ، فَقَبَضَتْهُ مَلائِكَةُ الرَّحْمَةِ.

دأبو سعيدالخدري رضى الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل :

له تاسې نه په مخکنيو امتونو کې يو کس وو، چې نهه نوي (۹۹) قتلونه يې کړي وو، هغه د ځمکې په مخ تر ټولو ځخه د لوی عالم پوښتنه وکړه، خلکو ورته يو راهب وښوده، هغه راهب ته ورغی او ورته يې وويل: ما نهه نوي مړي کړي دي. آيا زما توبه به قبوله شی که نه؟ راهب ورته وويل: نه! هغه کس راهب هم وواژه او په دې سره يې سل مړي پوره کړل. بيا يې د خلکو ځخه په ځمکه تر ټولو د ښه عالم پوښتنه وکړه، خلکو ورته يو بل عالم وښوده، قاتل عالم ته ورغی او ورته يې وويل: ما سل مړي کړي آيا زما توبه به قبوله شی؟! هغه ورته وويل: هو! څوک دی چی ستا او د توبې ترمنځ حائل شي، ته داسې وکړه چې فلانې ځای ته لاړ شه، هلته څه خلک دي چې هغه د الله عزوجل په عبادت بوخت دي ته هم د هغوی سره په عبادت کې مصروفه شه، او خپل ځای (کلی) ته مه ځه، ځکه هغه بد ځای دی. هغه کس د هغه ځای په لور روان شو، خو هغه ځای ته د رسېدلو نه مخکې په نيمايي لار کې ورته مرګ راغی ، د عذاب او رحمت فرښتې په خپلو کې په دعوه شوی ، د رحمت فرښتو وويل: هغه توبه ويستلې وه او د الله لور ته يې رجوع کړې وه، د عذاب فرښتو وويل: هغه هېڅ ښه عمل نه دی کړی، تردې چې د انسان په شکل يوه فرښته راغله، نو دواړو ډلو (دنيکې او عذاب فرښتو) په هغه د فيصلې کولو موافقه وکړه، هغه وويل:

د دې دواړو کلو ترمنځ ځمکه اندازه (لويشت) کړئ هغه (سړی) چې کوم کلی ته نزدې وي، نو بيا يې هماغه فرښته روح واخلئ ، کله چې هغوی د ځمکې اندازه واخيستله، نو هغه (سړی) هغی ځمکې ته نزدې و چې د کومی قصد يې کړی و، نو د رحمت فرښتو د هغه روح واخيسته ، قتاده وايي: حسن وايي: ما اوريدلي دي چې هغه کله مړ کېده، نو په سينه وغورځېده. (تر څو هغه کلي ته نزدې شي).

دحديث تخريج:

بخاري: كتاب: أحاديث الأنبياء، باب: حديث الغار، حديث: (۳۴۷۰)
مسلم واللفظ له: كتاب التوبة، باب: قبول التوبة القاتل، وان كثر قتله، حديث: (۳۷۶۶)
ابن ماجة: أبواب الديات، باب: هل لقاتل مؤمن توبة، حديث،(۲۶۲۲)

د حديث فائدې:

۱: که د بنده ګناهونه هر څومره هم ډېر شي الله عزوجل بیا هم ورته د توبې دروازه خلاصه کړې ده. الله عزوجل فرمایلی:

(قُلْ يَاعِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ) . د زمر سورت ۵۳ ایت.

ووایه(ای محمده! چې الله عزوجل فرمایلي) ای زما هغه بنده ګانو چې په خپلو نفسونو یې اسراف، د الله له رحمته مه نا امیده کېږئ، بېشکه الله ټول ګناهونه بښي او بېشکه هغه (الله عزوجل) ډېر بښونکې او رحم کونکی دی.

۲: د الله عزوجل د رحمت څخه نا امیدي انسان نور هم بې لارې کوي او بدۍ ته یې کشوي لکه په دې کېسه کې چې هغه سړي راهب مړ کړ او د هغه په قتل یې سل مړګونه پوره کړل.

۳: له علم نه پرته د فتوی خبره کول د خلکو او ویونکې د هلاکت سبب ګرځېدلی شی.

۴: چاته چې د کومې مسئلې په باره کې مشکل وي او غواړي خپله مسئله حل کړي پکار ده، چې یو تکړه او ښه عالم نه پوښتنه وکړي.

۵: څوک چې توبه اوباسي هغه ته ضروري ده، چې د خپلو خرابو ملګرو او خرابو ځایونو کې د ناستې څخه ډډه وکړي، تر څو د هغوی سره د ناستې له امله بېرته په ګناه کې واقع نه شې.

٦: د ښو خلکو سره ناسته د دې سبب ګرځي، چې انسان ښه کارونه وکړي او له بدو نه ځان وساتي.

۷: د ګناه کولو نه وروسته په ګناه پښېمانتیا او د الله عزوجل څخه د بښنې غوښتل کول لازم دي.

۸: الله عزوجل هره ګناه بښي خو شرک یواځې داسې ګناه ده، چې هغه نه بښي، الله عزوجل فرمایلي:

(أن الله لا يغفر أن يشرک به)

بېشکه الله عزوجل دا نه بښي چې دهغه سره شریک ونیول شي او هغه ګناه چې له شرکه ښکته وي (که کبیره وي او که وړه) هر هغه چاته یې بښي چې چاته یې و غواړي.

۹: الله عزوجل بنده ته د هغه د نیت کولو مطابق جزاء ورکوي که څه هغه عمل هم نه وي کړی، لکه په پورتنۍ کېسه کې چې هغه سړی هغه ځای ته ونه رسېده چې په کوم ځائې کی ښه خلک اوسیدل او په لاره کې مړ شو .

۱۰: هغه فرښتې چې د انسانانو روح أخلي فرق لري، کوم خلک چې ښه او صالح وي د هغوی روح د رحمت فرښتې او کوم چې بیا بد وي دهغوی روح بیا د عذاب فرښتی أخلي.

۳: د یوه کس له امله د پوره ملت لار ښوونه :

عَنْ صُهَيْبٍ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " كَانَ مَلِكٌ فِيمَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ،وَكَانَ لَهُ سَاحِرٌ،فَلَمَّا كَبِرَ،قَالَ لِلْمَلِكِ : إِنِّي قَدْ كَبِرْتُ ،فَابْعَثْ إِلَيَّ غُلَامًا أُعَلِّمْهُ السِّحْرَ،فَبَعَثَ إِلَيْهِ غُلَامًا يُعَلِّمُهُ،فَكَانَ فِي طَرِيقِهِ إِذَا سَلَكَ رَاهِبٌ ،فَقَعَدَ إِلَيْهِ وَسَمِعَ كَلَامَهُ ،فَأَعْجَبَهُ ،فَكَانَ إِذَا أَتَى السَّاحِرَ مَرَّ بِالرَّاهِبِ ،وَقَعَدَ إِلَيْهِ ،فَإِذَا أَتَى السَّاحِرَ ضَرَبَهُ ،فَشَكَا ذَلِكَ إِلَى الرَّاهِبِ ،فَقَالَ : إِذَا خَشِيتَ السَّاحِرَ ،فَقُلْ حَبَسَنِي أَهْلِي، وَإِذَا خَشِيتَ أَهْلَكَ ،فَقُلْ حَبَسَنِي السَّاحِرُ ،فَبَيْنَمَا هُوَ كَذَلِكَ إِذْ أَتَى عَلَى دَابَّةٍ عَظِيمَةٍ قَدْ حَبَسَتِ النَّاسَ ،فَقَالَ : الْيَوْمَ أَعْلَمُ آلسَّاحِرُ أَفْضَلُ أَمْ الرَّاهِبُ أَفْضَلُ ،فَأَخَذَ حَجَرًا ،فَقَالَ : اللَّهُمَّ إِنْ كَانَ أَمْرُ الرَّاهِبِ أَحَبَّ إِلَيْكَ مِنْ أَمْرِ السَّاحِرِ ،فَاقْتُلْ هَذِهِ الدَّابَّةَ حَتَّى يَمْضِيَ النَّاسُ ،فَرَمَاهَا فَقَتَلَهَا ،وَمَضَى النَّاسُ ،فَأَتَى الرَّاهِبَ فَأَخْبَرَهُ ،فَقَالَ لَهُ الرَّاهِبُ : أَيْ بُنَيَّ أَنْتَ الْيَوْمَ أَفْضَلُ مِنِّي قَدْ بَلَغَ مِنْ أَمْرِكَ مَا أَرَى ،وَإِنَّكَ سَتُبْتَلَى فَإِنِ ابْتُلِيتَ فَلَا تَدُلَّ عَلَيَّ ،وَكَانَ الْغُلَامُ يُبْرِئُ الْأَكْمَهَ وَالْأَبْرَصَ ،وَيُدَاوِي النَّاسَ مِنْ سَائِرِ الْأَدْوَاءِ ،فَسَمِعَ جَلِيسٌ لِلْمَلِكِ كَانَ قَدْ عَمِيَ ،فَأَتَاهُ بِهَدَايَا كَثِيرَةٍ ،فَقَالَ : مَا هَا هُنَالَكَ أَجْمَعُ إِنْ أَنْتَ شَفَيْتَنِي ،فَقَالَ : إِنِّي لَا أَشْفِي أَحَدًا إِنَّمَا يَشْفِي اللَّهُ ،فَإِنْ أَنْتَ آمَنْتَ بِاللَّهِ دَعَوْتُ اللَّهَ فَشَفَاكَ ،فَآمَنَ بِاللَّهِ فَشَفَاهُ اللَّهُ ،فَأَتَى الْمَلِكَ فَجَلَسَ إِلَيْهِ كَمَا كَانَ يَجْلِسُ ،فَقَالَ لَهُ الْمَلِكُ : مَنْ رَدَّ عَلَيْكَ بَصَرَكَ ؟، قَالَ : رَبِّي ،قَالَ : وَلَكَ رَبٌّ غَيْرِي ؟، قَالَ : رَبِّي وَرَبُّكَ اللَّهُ ،فَأَخَذَهُ فَلَمْ يَزَلْ يُعَذِّبُهُ حَتَّى دَلَّ عَلَى الْغُلَامِ ،فَجِيءَ بِالْغُلَامِ ،فَقَالَ لَهُ الْمَلِكُ : أَيْ بُنَيَّ قَدْ بَلَغَ مِنْ سِحْرِكَ مَا تُبْرِئُ الْأَكْمَهَ وَالْأَبْرَصَ ،وَتَفْعَلُ وَتَفْعَلُ ،فَقَالَ : إِنِّي لَاأَشْفِي أَحَدًا إِنَّمَا يَشْفِي اللَّهُ ،فَأَخَذَهُ فَلَمْ يَزَلْ يُعَذِّبُهُ حَتَّى دَلَّ عَلَى الرَّاهِبِ ،فَجِيءَ بِالرَّاهِبِ ،فَقِيلَ لَهُ : ارْجِعْ عَنْ دِينِكَ ،فَأَبَى فَدَعَا بِالْمِنْشَارِ ،فَوَضَعَ الْمِنْشَارَ فِي مَفْرِقِ رَأْسِهِ ،فَشَقَّهُ حَتَّى وَقَعَ شِقَّاهُ ثُمَّ جِيءَ بِجَلِيسِ الْمَلِكِ ،فَقِيلَ لَهُ : ارْجِعْ عَنْ دِينِكَ ،فَأَبَى فَوَضَعَ الْمِنْشَارَ فِي مَفْرِقِ رَأْسِهِ ،فَشَقَّهُ بِهِ حَتَّى وَقَعَ شِقَّاهُ ،ثُمَّ جِيءَ بِالْغُلَامِ ،فَقِيلَ لَهُ : ارْجِعْ عَنْ دِينِكَ ،فَأَبَى فَدَفَعَهُ إِلَى نَفَرٍ مِنْ أَصْحَابِهِ ،فَقَالَ : اذْهَبُوا بِهِ إِلَى جَبَلِ كَذَا وَكَذَا ،فَاصْعَدُوا بِهِ الْجَبَلَ ،فَإِذَا بَلَغْتُمْ ذُرْوَتَهُ ،فَإِنْ رَجَعَ عَنْ دِينِهِ وَإِلَّا فَاطْرَحُوهُ ،فَذَهَبُوا بِهِ فَصَعِدُوا بِهِ الْجَبَلَ ،فَقَالَ : اللَّهُمَّ اكْفِنِيهِمْ بِمَا شِئْتَ ،فَرَجَفَ بِهِمُ الْجَبَلُ ،فَسَقَطُوا وَجَاءَ يَمْشِي إِلَى الْمَلِكِ ،فَقَالَ لَهُ الْمَلِكُ : مَافَعَلَ أَصْحَابُكَ ؟، قَالَ : كَفَانِيهِمُ اللَّهُ ،فَدَفَعَهُ إِلَى نَفَرٍ مِنْ أَصْحَابِهِ ،فَقَالَ : اذْهَبُوا بِهِ ،فَاحْمِلُوهُ فِي قُرْقُورٍ ،فَتَوَسَّطُوا بِهِ الْبَحْرَ ،فَإِنْ رَجَعَ عَنْ دِينِهِ ،وَإِلَّا فَاقْذِفُوهُ ،فَذَهَبُوا بِهِ ،فَقَالَ : اللَّهُمَّ اكْفِنِيهِمْ بِمَا شِئْتَ ،فَانْكَفَأَتْ بِهِمُ السَّفِينَةُ ،فَغَرِقُوا وَجَاءَ يَمْشِي إِلَى الْمَلِكِ ،فَقَالَ لَهُ : الْمَلِكُ مَافَعَلَ أَصْحَابُكَ ؟،قَالَ : كَفَانِي هِمُ اللَّهُ ،فَقَالَ لِلْمَلِكِ : إِنَّكَ لَسْتَ بِقَاتِلِي حَتَّى تَفْعَلَ مَا آمُرُكَ بِهِ ،قَالَ : وَمَاهُوَ ؟، قَالَ : تَجْمَعُ النَّاسَ فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ ،وَتَصْلُبُنِي عَلَى جِذْعٍ ثُمَّ خُذْ سَهْمًا مِنْ كِنَانَتِي ،ثُمَّ ضَعِ السَّهْمَ فِي كَبِدِ الْقَوْسِ ،ثُمَّ قُلْ : بِاسْمِ اللَّهِ رَبِّ الْغُلَامِ ،ثُمَّ ارْمِنِي ،فَإِنَّكَ إِذَا فَعَلْتَ ذَلِكَ قَتَلْتَنِي ،فَجَمَعَ النَّاسَ فِي

صَعِيدٍ وَاحِدٍ وَصَلَبَهُ عَلَى جِذْعٍ ،ثُمَّ أَخَذَ سَهْمًا مِنْ كِنَانَتِهِ ،ثُمَّ وَضَعَ السَّهْمَ فِي كَبْدِالْقَوْسِ ،ثُمَّ قَالَ : بِاسْمِ اللَّهِ رَبِّ الْغُلَامِ ثُمَّ رَمَاهُ ،فَوَقَعَ السَّهْمُ فِي صُدْغِهِ ،فَوَضَعَ يَدَهُ فِي صُدْغِهِ فِي مَوْضِعِ السَّهْمِ ،فَمَاتَ ،فَقَالَ : النَّاسُ آمَنَّا بِرَبِّ الْغُلَامِ ،آمَنَّا بِرَبِّ الْغُلَامِ ،آمَنَّا بِرَبِّ الْغُلَامِ ،فَأُتِيَ الْمَلِكُ ،فَقِيلَ لَهُ : أَرَأَيْتَ مَا كُنْتَ تَحْذَرُ ؟، قَدْ، وَاللَّهِ ! نَزَلَ بِكَ حَذَرُكَ قَدْ آمَنَ النَّاسُ ،فَأَمَرَ بِالْأُخْدُودِ فِي أَفْوَاهِ السِّكَكِ ،فَخُدَّتْ وَأَضْرَمَ النِّيرَانَ ،وَقَالَ : مَنْ لَمْ يَرْجِعْ عَنْ دِينِهِ ، فَأَحْمُوهُ فِيهَا أَوْقِيلَ لَهُ اقْتَحِمْ ،فَفَعَلُوا حَتَّى جَاءَتِ امْرَأَةٌ وَمَعَهَا صَبِيٌّ لَهَا ،فَتَقَاعَسَتْ أَنْ تَقَعَ فِيهَا ،فَقَالَ لَهَا الْغُلَامُ : يَاأُمَّهْ اصْبِرِي ،فَإِنَّكِ عَلَى الْحَقِّ .

دصهیب رضی الله عنه نه روایت دی چې وایي: رسول الله علیه الصلاة والسلام وفرمایل:

تر تاسي نه په مخکې امتونو کې یو بادشاه و او هغه سره یو کوډګر(جادوګر) و، کله چې هغه کوډګر بوډا (سپین ږیری) شو، نو بادشاه ته یې وویل: یو ځوان را ولېږه تر څو زه هغه ته کوډې (جادو) ور وښیم بادشاه هغه ته یو هلک ور ولیږه، کوډګر به هغه ته کوډې ښودلې، هغه هلک به چې په کومه لار کوډګر ته ورته هلته به یو راهب کېناسته، دغه هلک یوه ورځ هغه راهب ته کېناست او د هغه خبرې یې واوریدی ، هغه هلک به چې هر وخت کوډګر ته ورته، نو د راهب سره به ناست و، کله به چې نا وخته کوډګر ته ورغی هغه به بیا واهه، هلک راهب ته د کوډګر د وهلو شکایت وکړ، راهب ورته وویل:

کله چې ته د کوډګر نه ډارېږی (چې ودې نه وهي) نو هغه ته وایه چې زه د کور خلکو ایسار کړی وم او کله چې د کور خلکو څخه ډارېدې، نو هغوی ته وایه چې زه کوډګر ایسار کړی وم، هغه هلک یوه ورځ په لاره تېرېده، چې یو غټ ځناور یې ولید چې لاره یې بنده کړې وه، هلک د ځانه سره وویل:

نن به پوه شم چې راهب غوره دی اوکه کوډګر. هغه یوه تیږه را واخیستله او داسی یې وویل:

یاالله! که تاته د کوډګر نه د راهب عمل ډېر خوښ وي، نو دا ځناور مړ کړه تر څو خلک په لاره تېر شي او بیا یې په هغه تیږه هغه ځناور وویشته، چې هغه مړ شو او خلک تیر شول ، هغه هلک بیا راهب ته ورغی او ټوله قیصه یې ورته وکړه. راهب ورته و ویل:

اي ځویه ! زه چې تا وینم نو نن ورځ ته زما څخه غوره یې، ته به ډېر زر په ازمایښت کې راګیر شې که چېرته ته په ازمیښتونو کې را ګیر شې نو ما چاته مه ور ښیه.

هغه هلک به د ړندو، برص (برګي مرض) او نورو مرضونو علاج کاوه، د پاچاه د مجلس یوه ملګري چې هغه ړوند شوی و د هغه په باره کې واورېدل، ، هغه د ډېرو سوغاتونو سره هغه هلک ته راغي او ورته یې وویل:

که چېرته ته ما جوړ کړې دا ټول مال ستا دی ، هغه هلک ورته وویل: زه ددې وس نه لرم چې څوک جوړ کړم بلکې الله عزوجل شفاء ورکوي، که چېرته ته ایمان راوړې زه به الله عزوجل ته دعاء وکړم چې هغه تاته شفاء درکړي، هغه کس ایمان راوړ او الله عزوجل هغه ته شفاء ورکړه.
د بادشاه دغه وزیر بادشاه ته ورغی او د مخکې په څیر په هغه ځای کی ورسره کیناست چې مخکی به کیناسته، پادشاه ورته وویل:
ستا د سترګو نور چا بیرته درکړ، هغه ورته وویل: زما رب. بادشاه ورته وویل: آیا ته زما نه بغیر بل رب لری؟ وزیر ورته وویل:
زما او ستا دواړو رب الله دی. بادشاه هغه ونیوه او تر دې یې سزا ورکړه چې اړ شو او بادشاه ته یې هغه هلک ور وښوده کوم چې ده ته دعاء کړی وه، پاچا هغه هلک را وغوښته، پاچا هغه هلک ته وویل:
زما بچیه! ته په کوډګری کې دې درجې ته ورسېدې چې ړانده او برص ښه کوې او داسې او داسې کارونه کوې. هلک پاچا ته و ویل:
زه چاته هم د شفاء ورکولو وس نه لرم بلکې الله عزوجل شفاء ورکوي. پاچا هغه دومره وواهه تر هغې چې هغه د راهب نوم ور وښوده. باچا راهب ونیوه او هغه ته یې وویل: خپل دین څخه وګرځه. خو راهب انکار وکړ او په خپل دین ولاړ وه. پاچا اره را وغوښته او د راهب په سر یې کېښوده تر څو هغه نیمایي کړي، خو هغه لا هماغسې په خپل دین کلک ولاړ و، هغه راهب یې دوه ټوټې کړ بیا یې هغه وزیر را وغوښته او ورته یې وویل: له خپل دین نه وګرځه، هغه انکار وکړ، د هغه په سر یې هم اره کېښوده او داسې یې اره کړ چې دوه ټوټې شو. ورپسې یې هغه هلک را وغوښت او ورته یې وویل: له خپل دین څخه واوړه. هغه انکار وکړ. پاچا هغه خپلو یوه ډله دوستانو ته وسپاره او ورته یې وویل:
دا فلاني غره ته بوځئ او د هغه غره پاس څوکې ته یې وخېژوئ. کله چې د غره څوکې ته ورسیدل دې هلک ته ووایئ، چې خپل دین نه واوړي، که چېرته هغه د خپل دین نه و ګرځېده، نو ښه که نه بیا یې د هغه ځای نه ښکته را وغورځوئ. هغوی دا هلک د غره سر ته وخیژاوه هغه هلک هلته داسې دعاء وکړه: یاالله څنګه دې چې خوښه وي هغسې ما د دوی له شر نه په امان کې وساته.
(دهغه له دعا سره) غر وخوځېده (ولړځېده) او هغه کسان ترینه لاندې را وغورځېدل. هغه هلک پاچا ته راغی. پاچا ترینه (په حیرانی سره) پوښتنه وکړه: ستا سره چې کوم کسان تللي ول هغوی څه شول ؟ هلک ورته وویل: الله عزوجل زه د هغوی د شره نه وساتلم.
پاچاه هغه نورو کسانو ته وسپاره او ورته یې وویل: دا په یوه کشتۍ کې سور کړئ او د بحر منځ ته یې ورسوئ. کله چې د بحر منځ ته ورسیدئ نو ده ته ووایئ که د خپل دین نه واوښته نو پرې یې ږدئ که نه نو بیا یې اوبو ته ور وغورځوئ. هغوی چې کله د بحر منځ ته ورسېدل هلک الله عزوجل ته دعا وکړه : یاالله ته چې څنګه غواړې هغسې ما د دوی د شر څخه وساته په هغوی باندې کشتۍ واوښتله او

دوی د کشتۍ سره ډوب شول او هغه هلک پاچا ته روغ را وگرځېده. پاچا ترېنه وپوښتل: تا سره چې کوم کسان تللي ول هغه څه شول؟ هلک ورته وویل: الله عزوجل زه د هغوی د شره څخه وساتلم. بیا هلک پاچا ته وویل:

ته ما تر هغې نه شې مړ کولی تر څو زما په وینا عمل ونه کړې؟ پاچا ورته وویل: هغه څه شی دی؟! هلک ورته وویل: ټول خلک په یو میدان کې را غونډ کړه او په یوه لرگي پوری ما وتړه، بیا زما د غشو له کڅوړې څخه یو غشی را واخله او هغه بیا په لینده کې کېږده او ووایه: د هغه الله په نوم چې د دغه هلک رب دی؟ بیا ما په غشي ووله. که چېرته ته داسې وکړې نو په دې توانېږی چې ما قتل کړې پاچا خلک یو میدان ته را ټول کړل او هغه هلک یې په یوه لرگي پورې وتاړه او بیا یې د هغه د غشو د کڅوړې څخه غشی را واخست او ویې ویل: د هغه الله په نوم چې د دغه هلک رب دی او بیا یې هلک په اورمیږ (څټ) کې وویشت هغه هلک خپل لاس په هغه ځای کېښود په کوم ځای چې لگېدلی و او مړ شو. کله چې خلکو دا حال ولیده، نو خلکو وویل: مونږ ددغه هلک په رب باندی ایمان راوړو، مونږ د دغه هلک په رب ایمان راوړو، مونږ ددغه هلک په رب ایمان راوړو. پاچا ته وویل شول چې د څه نه ډارېدې هماغه وشول (یعنې خلکو ایمان راوړو) پاچا حکم وکړ چې د لارو په غاړو باندی کندې (خندق) وباسي، کله چې خندق وویستل شول په هغې کې اور بل شو او بیا بادشاه وویل: څوک چې د خپل دین(یعنې د هغه هلک دین) نه وانه وړي، نو هغوی په دغه خندق کې ور وغورځوی او یا هغوی ته ووایئ چې ځانونه ور وغورځوي (ټوپ ور ووهي) خلکو همداسې وکړل تر دې چې یوه ښځه راغله چې دهغې په غېږ کې زوی هم وه، هغه ښځه وروسته شوه چې ور ونه غورځېږی(یعنې وروسته شوه د غورځېدلو نه) دهغې د غېږې ماشوم ورته وویل: مورې! صبر وکړه ته په حقه یې.

دحدیث تخریج:

مسلم واللفظله : کتاب الزهد (والرقائق) باب : قصة أصحاب الأخدود والساحر والراهب والغلام،حدیث : (۳۰۰۵) .
ترمذي : أبواب تفسیرالقرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم،باب : ومن سورة البروج،حدیث : (۳۳۴۰) .

د حدیث فائدې:

۱: د الله عزوجل او اسلام دښمنانو تل د دې هڅه کړې چې د کم او لږ عمر خلک په خپلو اهدافو کې راگیر کړي او هغه بیا هغسې د خپلو موخو لپاره استعمال کړي څنگه یې چې خوښه وي څکه همدغه ماشومان د راتلونکي مشران جوړېږی، څکه خو هغه جادوگر پاچا ته وویل: زه بوډا شوی یم یو ماشوم (هلک) را ولېږه چې جادو ورته ور وښیم.

۲: الله عزوجل چې چاته د خیر او هدایت اراده وکړي هغه ته بیا لاره او کار اسانه کوي، لکه څنګه چې هغه هلک جادوګر ته ورته تر څو جادو ور ښخه زده کړي خو په لار کې یې راهب ولیده.
۳: دُعا د مسلمان سلاح ده، څنګه چې هغه هلک په لاره روان و، نو په لاره کې یې هغه وحشي ځناور ولید او دُعا یې وکړه.
۴: بعضو نېکو، صالحو او پرهیزګاره مسلمانانو ته الله عزوجل کرامات هم ورکوي لکه هغه هلک چې به خلک دمول او ړوندوالی او د پېس مرض به یې الله ښه کاوه.
۵: د مسلمان تر ټولو لوی فکر باید د الله عزوجل په لاره کې د دعوت او نېکو ته د بلنې وي لکه څنګه چې هغه هلک د پاچاه وزیر ته وویل: زه خلک نه روغوم بلکې الله ورته صحت ورکوي، که چېرته ته ایمان راوړې زه به الله ته دعا وکړم.
٦: کله چې د کوم مسلمان ایمان په الله ډېر پوخ او کلک شي، نو هغه بیا د ایمان تر ټولو لویو درجو ته رسیږي لکه څنګه چې یې په دغه کیسه کې هغه سړی د سر له خوا نه دوه ځایه اره کړ، خو د الله عزوجل مینه او ایمان ورته د خپل ځان ښخه ډېر ګران وه.
۷: کله چې یو مسلمان په کوم مشکل کې راګیر شي او یا هم ورسره څوک ظلم کوي باید دعا وکړي لکه هغه ماشوم چې کړې وه، کله چې یې هغه د غر نه را غورځاوه او په اوبو کې یې غرقاوه.
۸: په عمل کې د برکت سبب او د هغه رښتیا کېدل د بسم الله ویلو سره تړلی دی لکه څنګه چې په دغه کیسه کې هلک پاچا ته وویل: دا ووایه، شروع کوم په نوم د دغه هلک د رب او بیا ما په غشی ووله، که چېرته ته داسې (بسم الله ووایې) کولی شي چې بیا ما قتل کړې.
۹: په دې کېسه کې د هغو کسانو ذکر هم راغلی، چې هغوی مسلمانان شول، نو د هغوی مسلمانېدل هم د دغه هلک چې پاچا مړ کړ په نېکیو کې حسابېږي، ځکه هغه خلک چې مسلمانېدل نو ویې ویل چې مونږ د دغه هلک په رب ایمان راوړی دی، مونږ د دغه هلک په رب ایمان راوړی دی دغه خلک د دغه هلک له امله مسلمانان شول. د سعد بن سهل رضی الله عنه نه یو اوږد حدیث روایت دی، چې رسو ل الله علیه الصلا ة والسلام په کې وفرمایل:

(لَأَنْ يُهْدَى بِكَ رَجُلٌ وَاحِدٌ خَيْرٌ لَكَ مِنْ حُمْرِ النَّعَمِ) . .

ژباړه: که ستا په وجه (له امله) الله عزوجل یو کس ته هدایت وکړي، نو دا ستا لپاره د سرو اوښانو د درلودلو ښخه بهتره دی.

بخاري: کتاب فضائل اصحاب النبي صلی الله علیه وسلم، باب: مناقب علی بن أبی طالب.... (۳۷۰۱)
مسلم: کتاب فضائل الصحابة، باب: من فضائل علي بن ابي طالب: (۴۴۰۶)
ابوداود: کتاب اول کتاب العلم . باب فضل النشر العلم (۳۶۶۱)

۱۰: په دعوت کې دا شرط نه دی چې یواځې پلار، مور او یا هم نور مشران دې بچیو او وړو ته بلنه ورکړي بلکې واړه هم مشرانو ته دعوت ورکولی شي لکه په دغه کیسه کې چې ماشوم خپلې مور ته وویل چې، صبر وکړه ته په حقه یې.
۱۱: د دې کېسې نه مالومه شوه چې په مخکنیو امتونو کې هم مؤمنان په خپل دین ډېر کلک ولاړ وو لکه وزیر او راهب ته چې بادشاه سخته سزا ورکړه، خو هغوی د خپل دین څخه وا نوښتل.

۴ : د الله تعالی د رحمت له کبله د رسول الله علیه السلام امت ته غنیمت حلال شو .

عن أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه ، قال: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " غَزَا نَبِيٌّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ ،فَقَالَ لِقَوْمِهِ : لا يَتْبَعْنِي رَجُلٌ قَدْ مَلَكَ بُضْعَ امْرَأَةٍ ، وَهُوَ يُرِيدُ أَنْ يَبْنِيَ بِهَا ،وَلَمَّا يَبْنِ ،وَلَا آخَرُ قَدْ بَنَى بُنْيَانًا ، وَلَمَّا يَرْفَعْ سُقُفَهَا ، وَلَا آخَرُ قَدِ اشْتَرَى غَنَمًا – أَوْ خَلِفَاتٍ – وَهُوَ مُنْتَظِرٌ وِلَادَهَا "،قَالَ: " فَغَزَا ، فَأَدْنَى لِلْقَرْيَةِ حِينَ صَلَاةِ الْعَصْرِ، أَوْ قَرِيبًا مِنْ ذَلِكَ ، فَقَالَ لِلشَّمْسِ : أَنْتِ مَأْمُورَةٌ، وَأَنَا مَأْمُورٌ ،اللهُمَّ ،احْبِسْهَا عَلَيَّ شَيْئًا ،فَحُبِسَتْ عَلَيْهِ حَتَّى فَتَحَ اللهُ عَلَيْهِ " ،قَالَ: " فَجَمَعُوا مَاغَنِمُوا ،فَأَقْبَلَتِ النَّارُ لِتَأْكُلَهُ ،فَأَبَتْ أَنْ تَطْعَمَهُ ،فَقَالَ: فِيكُمْ غُلُولٌ ،فَلْيُبَايِعْنِي مِنْ كُلِّ قَبِيلَةٍ رَجُلٌ ،فَبَايَعُوهُ ،فَلَصِقَتْ يَدُ رَجُلٍ بِيَدِهِ ،فَقَالَ: فِيكُمُ الْغُلُولُ ،فَلْتُبَايِعْنِي قَبِيلَتُكَ ،فَبَايَعَتْهُ "،قَالَ: " فَلَصِقَتْ بِيَدِ رَجُلَيْنِ أَوْثَلَاثَةٍ ،فَقَالَ: فِيكُمُ الْغُلُولُ ،أَنْتُمْ غَلَلْتُمْ "،قَالَ: " فَأَخْرَجُوا لَهُ مِثْلَ رَأْسِ بَقَرَةٍ مِنْ ذَهَبٍ ،قَالَ: فَوَضَعُوهُ فِي الْمَالِ وَهُوَ بِالصَّعِيدِ ،فَأَقْبَلَتِ النَّارُ فَأَكَلَتْهُ ،فَلَمْ تَحِلَّ الْغَنَائِمُ لِأَحَدٍ مِنْ قَبْلِنَا ،ذَلِكَ بِأَنَّ اللهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى رَأَى ضَعْفَنَا وَعَجْزَنَا ،فَطَيَّبَهَا لَنَا .

د أبو هريرة رضی الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله عليه الصلاة والسلام وفرمايل:
په نبييانو کې يو نبي غزاء کوله ، خپل قوم ته يې وويل: هغه څوک دې له ما سره نه ځي چا چې کوژده کړې وي او هغه تر اوسه واده نه وي کړی او غواړي چې واده وکړي او نه دې هغه څوک راسره ځي، چې هغوی کور جوړ کړی وي او د هغه بام يې لا نه وي جوړ کړی(د کوټې چت يې نه وی اچولی)، او نه هغه څوک چې هغوی اوزې (چېلی) او نور حيوانات لري او هغوی په دې انتظار کې وي، چې کله به بچي راوړي، هغه پيغمبر غزاء ته روان شو او د مازديگر د لمانځه يا هغه ته نزدې وخت کې هغه کلي ته ورلنډ شو(چېرته چې په جهاد کولو مامور شوی و) لمر ته يې وويل: ته هم تابعدار يې او زه هم، يا الله دا لمر د لږ وخت لپاره را ايسار کړې، لمر ودربده تر دې چې هغوی فاتح شول، هغوی د غنيمت مال جمع کړ او اور راغی تر څو د هغوی غنيمت وخوري، مگر اور هغه د غنيمت مال ونه خوړ، هغه نبي وويل: په تاسو کې چا د غنيمت په مال کې خيانت کړی دی، تاسو د هرې قبيلې يو ،يو کس زما سره بيعت وکړئ، هغوی بيعت وکړ ، د يوه کس لاس د هغه نبي د لاس سره ونښته. نبي عليه السلام هغه ته وويل: ستاسو په قبيله کې چا خيانت کړی دی، ستا قوم دی ما سره بعت وکړی تر دې چې د هغه سرې ټولې قبيلې د هغه سره بيعت وکړ، د دغه قبيلې د دوو يا دريو کسانو لاس د هغه نبي عليه السلام دلاس سره ونښته هغه ورته وويل: په تاسو کې چا خيانت کړی دی، تر دې چې هغوی د غوا د سر په اندازه سره زر راوړل، هغوی هغه سره زر په يو لوړ (اوچت) ځای کې د هغه مال سره يو ځای کېښودل، اور راغی او هغه د غنيمت مال يې وخوړ. بيا رسول الله عليه افضل الصلاة والسلام وفرمايل

: زمونږ نه مخکې هیچا ته هم د غنیمت مال نه و حلال، مګر الله عزوجل زمونږ کمزوري او عاجزي ولیدله نو مونږ ته یې غنیمت حلال کړ.

دحدیث تخریج:

بخاري : کتاب : فرض الخمس ،باب : قول النبي علیه السلام أحلت لکم الغنائم ،حدیث : (۳۱۲۴) او په کتاب النکاح ، باب : من أحب البناء فبل الغزو (۵۱۵۷) .
مسلم واللفظ له : کتاب الجهاد والسیر ،باب : تحلیل الغنائم لهذه الأمة خاصة،حدیث (۱۷۴۷).

د حدیث فائدې:

۱: د مخکنیو ملتونو غنیموتونه ته به اور راغی او هغه به یې و خوړل.

۲: الله عزوجل په خپله لار کې پاک او حلال مال قبلوي.

۳: غنیمتونه صرف د رسول الله علیه الصلاة والسلام امت ته حلال شول مخکې نورو قومونو ته حرام ول.

۴: الله عزوجل چې کله د رسول الله علیه الصلام والسلام د امت کمزوري او عاجزي ولیدله نو غنیمتونه یې ورته حلال کړل.

۵ : په دم سره شفا موندل :

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ،قَالَ: انْطَلَقَ نَفَرٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفْرَةٍ سَافَرُوهَا ،حَتَّى نَزَلُوا عَلَى حَيٍّ مِنْ أَحْيَاءِ العَرَبِ ،فَاسْتَضَافُوهُمْ فَأَبَوْا أَنْ يُضَيِّفُوهُمْ ،فَلُدِغَ سَيِّدُ ذَلِكَ الحَيِّ ،فَسَعَوْا لَهُ بِكُلِّ شَيْءٍ لاَيَنْفَعُهُ شَيْءٌ ،فَقَالَ بَعْضُهُمْ : لَوْ أَتَيْتُمْ هَؤُلاَءِ الرَّهْطَ الَّذِينَ نَزَلُوا ،لَعَلَّهُ أَنْ يَكُونَ عِنْدَ بَعْضِهِمْ شَيْءٌ ،فَأَتَوْهُمْ ،فَقَالُوا : يَا أَيُّهَا الرَّهْطُ إِنَّ سَيِّدَنَا لُدِغَ ،وَسَعَيْنَا لَهُ بِكُلِّ شَيْءٍ لاَ يَنْفَعُهُ ،فَهَلْ عِنْدَ أَحَدٍ مِنْكُمْ مِنْ شَيْءٍ ؟ فَقَالَ بَعْضُهُمْ: نَعَمْ ،وَاللَّهِ إِنِّي لَأَرْقِي ،وَلَكِنْ وَاللَّهِ لَقَدِ اسْتَضَفْنَاكُمْ فَلَمْ تُضَيِّفُونَا ،فَمَا أَنَا بِرَاقٍ لَكُمْ حَتَّى تَجْعَلُوا لَنَا جُعْلًا ،فَصَالَحُوهُمْ عَلَى قَطِيعٍ مِنَ الغَنَمِ ،فَانْطَلَقَ يَتْفِلُ عَلَيْهِ ،وَيَقْرَأُ : (الحَمْدُلِلَّهِ رَبِّ العَالَمِينَ) فَكَأَنَّمَا نُشِطَ مِنْ عِقَالٍ ،فَانْطَلَقَ يَمْشِي وَمَا بِهِ قَلَبَةٌ ،قَالَ: فَأَوْفَوْهُمْ جُعْلَهُمُ الَّذِي صَالَحُوهُمْ عَلَيْهِ ،فَقَالَ بَعْضُهُمْ : اقْسِمُوا ،فَقَالَ الَّذِي رَقَى : لاَ تَفْعَلُوا حَتَّى نَأْتِيَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَذْكُرَ لَهُ الَّذِي كَانَ ،فَنَنْظُرَ مَا يَأْمُرُنَا ،فَقَدِمُوا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرُوا لَهُ ،فَقَالَ: «وَمَا يُدْرِيكَ أَنَّهَا رُقْيَةٌ ؟ »، ثُمَّ قَالَ : «قَدْ أَصَبْتُمْ ،اقْسِمُوا ،وَاضْرِبُوا لِي مَعَكُمْ سَهْمًا » فَضَحِكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

د أبو سعيد الخدري رضی الله عنه نه روايت دی چې وايي:

د رسول الله صلی الله عليه وسلم يوه ډله صحابه په سفر لاړل، هغوی د عربو يوې قبيلې سره پړاو واچوه، صحابه کرامو وغوښتل چې دغه قبيله د دوی مېلمستيا وکړي، خو هغې قبيلې انکار وکړ او دوی يې ميلمانه نه کړل ، د دغه قبيلې مشر مار وچيچه د قبيلې غړو د هغه هر رقم علاج وکړ، مګر د هغوی دغه علاج هيڅ فائده ونه کړه. د قبيلې يو کس وويل: که دغه کسانو ته ورشي چې هغوی دلته پړاؤ اچولی کېدای شي د هغوی سره څه وي، هغوی د صحابو رضی الله عنهم ځای ته راغلل او ورته يې وويل:

ای خلکو! زمونږ د قبيلې مشر مار چيچلی دی مونږ ډېر کوشش وکړ خو هيڅ فائده يې ونه کړه په تاسو کې کوم کس څه لري ؟ يو صحابي رضی الله عنه وويل: هو! په خدای قسم! زه دم کوم، مونږ ستاسو نه مېلمستيا وغوښته خو تاسو انکار وکړ تر هغې به زه دم ونه کړم تر څو چې تاسو ماته عوض را نه کړی هغوی، هغه ته د اوزو د رمي ورکولو وړانديز وکړ هغه صحابي په هغه کس باندې يې د فاتحې سورت لوسته او دم يې پرې اچوه تر دې چې هغه ښه شو. داسې ښکارېده لکه چا چې د تړلو څخه خلاص کړی وی هغوی چې د صحابې سره کومه وعده کړې وه هغه يې ورکړه. په صحابو رضی الله

عنهم کې یو کس وویل: راځئ چې دا اوزې په خپلو کې تقسیم کړو، کوم صحابي چې دم اچولی و هغه وویل: صبر وکړی تر څو رسول الله علیه افضل الصلاة والسلام ته ورشو او هغه ته ټوله کیسه ووایو، چې هغه څه حکم کوي؟! کله چې هغوی رسول الله علیه الصلاة والسلام په خدمت کې حاضر شول ټوله کیسه یې ورته وکړه، رسول الله علیه الصلاة والسلام ورته وفرمایل: ته څنګه پوه شوې چې په دې (د فاتحې سورت) سره دم کېږي. بیا هغه علیه افضل الصلاة والسلام وفرمایل: تاسو ښه وکړل هغه تقسیم کړی او زما برخه هم په کې وکړئ. بیا رسول الله علیه افضل الصلاة والسلام مبارک وخندل.

د حدیث تخریج :

صحیح البخاري واللفظ له: کتاب الإجارة ، باب مایعطی فی الرقیة علی أحیاء العرب بفاتحة الکتاب حدیث: (۲۲۷۶) او په کتاب الطب ، باب : الرقی بفاتحة الکتاب، (۵۷۳۶)او په باب : النفث فی الرقیة کې (۵۷۳۷) هم راغلی او همداسې په کتاب : فضائل القرآن ، باب : فضل فاتحة الکتاب (۵۰۰۶)
صحیح مسلم: کتاب السلام، باب جواز أخذ الأجرة علی الرقیة بالقرآن و الأذکار، حدیث: (۲۲۰۱)
سنن الترمذی: أبواب الطب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم، باب ما جاء فی أخذ الأجر علی التعوید، حدیث: (۲۰۶۳)
سنن أبی داود: کتاب الاجارة، باب فی کسب الأطباء، حدیث: (۳۴۱۸)
سنن ابن ماجه: أبواب التجارات، باب أجر الراقی، حدیث:(۲۱۵۶)

د حدیث فائدې:

۱: که چېرته به چا د صحابه کرامو سره بد وکړل، نو هغوی رضی الله عنهم به ورسره ښه کول.

۲: په سورة فاتحې سره د زهر لرونکې شیانو دم کېږی.

۳: قرآن کریم کې د هر مرض علاج شته. الله عزوجل فرمایلی:(وننزل من القرآن ماهو شفاء و رحمة للمؤمنین)

۴: صحابه رضی الله عنهم به د حرامو شیانو څخه سخته وېره کوله او ځان به یې ترینه ډېر په احتیاط ساته لکه دغه کیسه کې صحابه کرامو د هغه اوزو د تقسیم خبره وکړه او بل صحابي ورته وویل: چې تر څو رسول الله علیه الصلاة والسلام ته نه یو ورغلي او د هغه نه مو پوښتنه نه وي کړې دا کار مه کوئ.

۵: د یو چا په دمولو سره د دم پیسې اخیستی شی.

٦ : په رسول الله صلی الله علیه وسلم د قران کریم نازلیدل او خلک اسلام ته رابلل

عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ أَنَّهَا قَالَتْ : ((أَوَّلُ مَا بُدِئَ بِهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْوَحْيِ الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ فِي النَّوْمِ ،فَكَانَ لايَرَى رُؤْيَا إلا جَاءَتْ مِثْلَ فَلَقِ الصُّبْحِ ،ثُمَّ حُبِّبَ إِلَيْهِ الْخَلاءُ وَكَانَ يَخْلُو بِغَارِ حِرَاءٍ فَيَتَحَنَّثُ فِيهِ ــ وَهُوَا لتَعَبُّدُ ــ اللَّيَالِيَ ذَوَاتِ الْعَدَدِ قَبْلَ أَنْ يَنْزِعَ إِلَى أَهْلِهِ وَيَتَزَوَّدُ لِذَلِكَ ، ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى خَدِيجَةَ فَيَتَزَوَّدُ لِمِثْلِهَا ، حَتَّى جَاءَهُ الْحَقُّ وَهُوَ فِي غَارِ حِرَاءٍ ، فَجَاءَهُ الْمَلَكُ فَقَالَ: اقْرَأْ ، قَالَ :مَا أَنَا بِقَارِئٍ ، قَالَ : فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجَهْدَ ثُمَّ أَرْسَلَنِي فَقَالَ: اقْرَأْ ، قُلْتُ :مَا أَنَا بِقَارِئٍ ، فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّانِيَةَ حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجَهْدَ ثُمَّ أَرْسَلَنِي فَقَالَ : اقْرَأْ، قُلْتُ مَا أَنَا بِقَارِئٍ ، فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّالِثَةَ ثُمَّ أَرْسَلَنِي فَقَالَ :((اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ ، خَلَقَ الإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ ، اقْرَأْ وَ رَبُّكَ الأَكْرَمُ ،)) ،(العلق : ١ ،٣) ،فَرَجَعَ بِهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْجُفُ فُؤَادُهُ ، فَدَخَلَ عَلَى خَدِيجَةَ بِنْتِ خُوَيْلِدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فَقَالَ : زَمِّلُونِي ، زَمِّلُونِي فَزَمَّلُوهُ حَتَّى ذَهَبَ عَنْهُ الرَّوْعُ ، فَقَالَ لِخَدِيجَةَ ــ وَأَخْبَرَهَا الْخَبَرَ ــ لَقَدْ خَشِيتُ عَلَى نَفْسِي ، فَقَالَتْ له خَدِيجَةُ: كَلا وَاللهِ! مَا يُخْزِيكَ اللهُ أَبَدًا، إِنَّكَ لَتَصِلُ الرَّحِمَ ، وَتَحْمِلُ الْكَلَّ ،وَتَكْسِبُ الْمَعْدُومَ، وَتَقْرِي الضَّيْفَ ، وَتُعِينُ عَلَى نَوَائِبِ الْحَقِّ ،فَانطَلَقَتْ بِهِ خَدِيجَةُ حَتَّى أَتَتْ بِهِ وَرَقَةَ بْنَ نَوْفَلِ بْنِ أَسَدِ بْنِ عَبْدِ الْعُزَّى ـ ابْنَ عَمِّ خَدِيجَةَ ــ وَكَانَ امْرَأً قَدْ تَنَصَّرَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ ، وَكَانَ يَكْتُبُ الْكِتَابَ الْعِبْرَانِيَّ، فَيَكْتُبُ مِنْ الإِنْجِيلِ بِا لْعِبْرَانِيَّةِ مَاشَاءَ اللهُ أَنْ يَكْتُبَ ، وَكَانَ شَيْخًا كَبِيرًا قَدْ عَمِيَ ، فَقَالَتْ لَهُ خَدِيجَةُ: يَا ابْنَ عَمِّ اسْمَعْ مِنْ ابْنِ أَخِيكَ ،فَقَالَ لَهُ وَرَقَةُ : يَاابْنَ أَخِي مَا ذَا تَرَى ؟ فَأَخْبَرَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَبَرَ مَا رَأَى ، فَقَالَ لَهُ وَرَقَةُ :هَذَا النَّامُوسُ الَّذِي نَزَّلَ اللهُ عَلَى مُوسَى ، يَا لَيْتَنِي فِيهَا جَذَعٌ ، لَيْتَنِي أَكُونُ حَيًّا إِذْ يُخْرِجُكَ قَوْمُكَ ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :أَوَ مُخْرِجِيَّ هُمْ ؟ قَالَ: نَعَمْ لَمْ يَأْتِ رَجُلٌ قَطُّ بِمِثْلِ مَا جِئْتَ بِهِ إِلا عُودِيَ ، وَإِنْ يُدْرِكْنِي يَوْمُكَ أَنْصُرْكَ نَصْرًا مُؤَزَّرًا ،ثُمَّ لَمْ يَنْشَبْ وَرَقَةُ أَنْ تُوُفِّيَ وَ فَتَرَ الْوَحْيُ .

د أم المؤمنين عائشې رضی الله عنها نه روايت دی چې فرمايي:

په اوله کې به چې په رسول الله علیه الصلاة والسلام وحی نازلیده هغه به ښه خوبونه لیدل، رسول الله علیه الصلاة والسلام به چې د شپې کوم خوب ولیده هغه به لکه د سهار د رڼا په څیر داسی ښکاره او صحیح ثابتېده، بیا رسول الله علیه الصلاة والسلام ته تنهایي خوښه شوه هغه علیه الصلاة والسلام به د حراء غار ته لاړ او هلته به پرله پسې څو شپې په عبادت بوخت و ، تر څو به چې به خپل کور ته ستون شو او د بیا لپاره به یې ځان تیار کړ ، بیا به د خدیجې رضی الله عنها کور ته لاړ او د هغه ځای نه به یې د نورو ورځو لپاره خوراک واخیست او غار حراء ته به لاړ تر دې چې هغه علیه الصلاة والسلام

ته حق ښکاره شو او جبرائيل عليه السلام ورته راغی او ورته يې وويل: ووايه (ولوله): رسول الله عليه الصلاة والسلا ورته وفرمايل: زه لوستی نه يم! رسول الله عليه الصلاة والسلام فرمايي: هغه (جبرائيل عليه السلام) زه دومره کلک ونيولم (دومره زور يې راکړ) چې ما يې وس نه درلود بيا زه هغه پرېښودلم او راته يې وويل: ووايه (ولوله) ما ورته وويل: زه لوستی نه يم! هغه زه بيا ونيولم او دومره زور يې راکړ چې زما طاقت ځواب راکړ بيا يې پرېښودلم او راته يې وويل: ولوله ما ورته وويل: زه لوستی نه يم. رسول الله عليه الصلاة والسلام فرمايي: هغه زه بيا د دريم ځل لپاره ونيولم او دومره زور يې راکړ چې زما حوصلې ماته ځواب راکړ او راته يې وويل: و وايه :((**اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ ، خَلَقَ الإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ ، اقْرَأْ وَ رَبُّكَ الأَكْرَمُ** ،)) ،(**العلق : ۱ ،۳**) رسول الله عليه الصلاة والسلام د همدغه آياتونو سره د غار حراء نه په داسې حال کې د خديجې رضی الله عنها کور ته لاړ چې د دغې واقعې له امله يې زړه رېږدېده. کله چې د خديجې رضی الله عنها کورته لاړ هغې ته يې وويل: ما په کمپله کې ونغاړه ، ما په کمپله کې تاو کړه. هغه عليه الصلاة والسلام يې په کمپله کې پټ کړ تر دې چې هغه عليه الصلاة والسلام ارام شو، بيا يې خديجې رضی الله عنها ته ټوله کيسه وکړه او ورته يې وويل: زه په خپل ځان باندی و ويريدم .

خديجې رضی الله عنها ورته وويل: نه داسې نه ده په الله قسم چې هغه به تا کله هم رسوا نه کړی، ته د ښو اخلاقو څښتن يې، ته د خپلوانو پوښتنه کوې، د بې کسو او غريبو ملګری او مددګار يې. ميلمه نواز يې او دخلکو مصيبتونه لرې کوې. خديجې رضی الله عنها رسول الله عليه الصلاة والسلام ورقة بن نوفل بن اسد ته ور ووست، چې هغه د خديجې رضی الله عنها دتره ځوی و او په جاهليت کې نصراني شوی و ، د عبراني ژبې ليکوال و او هغه به انجيل په عبراني ژبه ليکه. هغه ډېر سپين ږيری شوی و او په سترګو ړوند و، خديجې رضی الله عنها ورقة بن نوفل ته وويل: ای د تره ځويه! د وراره خبره دې واوره! ورقة بن نوفل رسول الله عليه الصلاة والسلام ته عرض وکړ: وراره څه دی وليدل ؟ رسول الله عليه الصلاة والسلام چې څه ليدلي وو د هغې ټوله کيسه يې ورته وکړه. ورقه چې کله د رسول اله عليه الصلاة والسلام خبرې واورېدلې ورته يې وويل: دا خو هماغه ناموس (تر ټولو اوالعزمه فرښته جبرائيل عليه السلام) دی کوم چې موسی عليه السلام ته وحيه راوړې وه. کاش چې زه ستا د نبوت په ورځو کې ځوان او تکړه وای. کاش زه تر هغه وخته ژوندی پاتی شم په کوم وخت کې چې ستاخپل قوم تا له خپل ښاره وباسي. رسول الله عليه الصلاة والسلام په تعجب سره وپوښتل: ايا هغوی به ما اوباسي؟! ورقة عرض وکړ: چا چې هم ستا غوندې دعوت کړی دی د هغه سره خلکو دښمني کړې ده که چېرته زه په هغه وخت کې ژوندی او اوسم زه به ستا تر ټولو کلک ملګری و اوسم څو ورځې وروسته ورقة بن نوفل مړ شو او د څه وخت لپاره وحيه نازليدل هم بند شول.

د حدیث تخریج:

بخاری واللفظ له: کتاب بدء الوحی، باب: کیف کان بدء الوحی الی رسول الله صلی الله علیه وسلم، حدیث: (۳) او په کتاب: احادیث الأنبیاء، باب: (واذکر فی الکتب موسی انه کان مخلصا وکان رسولانبیا، (۳۳۹۲) همداسې په کتاب: التفسیر: سورة (اقراء باسم ربک الذی) (۴۹۵۳) او په: کتاب لتعبیر، باب: اول ما بدئ به رسول الله صلی الله علیه وسلم من الوحی الرؤیا الصالحة، (۶۹۸۲)
مسلم: کتاب الایمان، باب: بدء الوحی الی رسول الله صلی الله علیه وسلم، حدیث: (۱۶۰)
ترمذی: أبواب المناقب عن رسول الله، باب: فی ذکر رؤیا الصادقة عند بدء النبوة، حدیث: (۳۶۳۲)

د حدیث فائدې:

۱ : رسول الله علیه الصلاة والسلام ته به په اوله کې وحیه په خوب کې راتله او هغه به سهار ته رښتیا شوه

۲: رسول الله علیه الصلام والسلام په غار حراء کې تنهایي خوښوله.

۳: جبرائیل علیه السلام چې به رسول الله علیه الصلاة والسلام په خپله غیږه کې کلک نیوه، نو د هغې نه یې مراد داوه تر څو هغه علیه الصلام والسلام جبرائیل علیه السلام ته په په زړه او ذهن سره متوجه شی چې هغه څه وایي.

۴: جبرائیل علیه السلام چې خپلې خبرې درې ځلې تکرار کړې د دې نه یې مراد دا وه، چې هغه په دې یقیني کړي، چې هغه ته ډېر مهم څه ویل کېدونکي دي.

۵: اولنی آیت چې په رسول الله علیه الصلاة والسلام نازل شو هغه د ا اقرأ باسم ربک الذی خلق دی.

٦: خدیجه رضی الله عنها د اخلاقو یوه ډېره ښائسته نمونه وه، کله چې رسول الله علیه الصلاة والسلام د غار حراء نه راستون شو او هغه علیه السلام ریږدیده نو هغې رضی الله عنها په ټوټه کې تاو کړ او ورته یې وویل: الله عزوجل به تا کله هم نه رسوا کوي، ځکه ته علیه السلام د خلکو سره ښیګڼه کوې او داسې نور.

۷: د ښو صفاتو څخه یو هم د خپلوانو سره نیکي او د هغوی پوښتنه کول دي که هغه نېکي په مال وي که په خدمت وي او که په لېدلو او پوښتنه وي.

۸: د ښو صفاتو څخه یو هم د غریبو او یتمیانو سره مرسته او د هغوی پوښتنه کول دي.

۹: یو ښه مسلمان ته پکار دي، چې هغه میلمه دوست او میلمه خوښونکی وي.

۱۰: په دې کیسه کې د خدیجې رضی الله عنها دپوهې کاملیت هم معلومېږی، د هغې رایه د زړه قویوالی او ښه نظر، د علي بن ابي طالب نه روایت دی، چې رسول الله علیه الصلاة والسلام وفرمایل: (خَيْرُ نِسَائِهَا مَرْيَمُ ابْنَةُ عِمْرَانَ وَخَيْرُ نِسَائِهَا خَدِيجَةُ).

مریم بنت عمران علیها السلام د خپل وخت تر ټولو ښه ښځه وه او خدیجه رضی الله عنها د دې امت تر ټولو بهترینه ښځه ده.

بخاري: کتاب احادیث الانبیاء، باب: (واذ قالت الملئکة یمریم ان الله اصطفک) حدیث، (۳۴۳۲)
مسلم: کتاب فضائل الصحابة، باب: فضائل خدیجة أم المؤمنین رضی الله عنها (۳۴۳۰)

۱۱: په حدیث کې د ناموس نه مراد جبرائل علیه السلام دی او ناموس د خیر رازدان ته وایي. الله عزوجل جبرائیل علیه السلام د وحی لیږلو لپاره ټاکلی وه.

۱۲: داسې هېڅ نبي نه دی راغلی، چې قوم یې د خپل کلی څخه نه وي ویستلی، الله عزوجل بیا هغوی بیرته کامیاب کړي او خپل کلي او ښار ته کامیاب راستانه شوي وي لکه رسول الله علیه الصلاة والسلام چې د مکې نه مدینې ته هجرت وکړ او بېرته فاتح مکې مکرمې ته ننوت.

۷ : قران کریم اطمینان او خشوع ده .

عَنْ عَبْدِاللهِ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " اقْرَأْ عَلَيَّ ،قَالَ : قُلْتُ : أَقْرَأُ عَلَيْكَ وَعَلَيْكَ أُنْزِلَ ؟،قَالَ : إِنِّي أَشْتَهِي أَنْ أَسْمَعَهُ مِنْ غَيْرِي ،قَالَ : فَقَرَأْتُ النِّسَاءَ حَتَّى إِذَا بَلَغْتُ :(فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْكُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلَاءِ شَهِيدًا) ،(سورة النساء ۴۱آیت) ،قَالَ لِي : كُفَّ أَوْ أَمْسِكْ ،فَرَأَيْتُ عَيْنَيْهِ تَذْرِفَانِ " .

د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دی چې وایي: رسول الله علیه الصلاة والسلام راته وفرمایل: ماته قرآن کریم واوروه (د قرآن کریم تلاوت وکړه)، عبد الله بن مسعود رضی الله عنه وایي، ما رسول الله علیه الصلام والسلام ته عرض وکړ چې: یا رسول الله علیه افضل الصلاة والسلام تاسو ته تلاوت وکړم حال دا چې په تاسو نازل شوی دی ؟! ، رسول الله علیه افضل الصلاة والسلام راته وفرمایل: زه دا خوښوم چې د بل نه قرآن کریم واورم، عبد الله بن مسعود وایي: ما د سورة النساء تلاوت شروع کړ کله چې دې آیت (فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلَاءِ شَهِيدًا) ته ورسېدم، رسول الله علیه الصلاة والسلام راته وفرمایل: بس کړه د روای شک دی چی یا یې وفرمایل: نور مه وایه. عبد الله بن مسعود رضی الله عنه وایې: ما رسول الله علیه الصلاة والسلام ولیده، چې د د مبارکو سترګو نه یې اوښکې روانې وې.

دحدیث تخریج:

بخاري واللفظ له : كتاب فضائل القرآن ،باب : البكاء عند قراءة القرآن ،حديث : (۵۰۵۵) او (۵۰۵۶).
و همداسی بخاري په كتاب التفسير ،باب : فكيف اذا جئنا من كل أمة بشهيد وجئنا بک على هؤلاء شهيدا (۴۵۸۳).
مسلم : كتاب فضائل القرآن ومايتعلق بها،باب : فضل استماع القرآن وطلب القراءة،حديث : (۸۰۰)
بوداود : أول كتاب العلم،باب : فى القصص،حديث : (۳۶۶۸).
ترمذى :أبواب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم،باب : ومن سورة النساء،حديث : (۳۰۲۵)

د حديث فائدې:

۱: قرآن عظيم ډېر لوی تأثير لري انسان د قرآن له تلاوت نه ډېر متاثره کېږي.

۲: د انسان نفس تغيير ته ضرورت لري، ځکه خو رسول الله عليه الصلاة والسلام قرآن کريم لوسته او اوريده.

۳: تر ټولو نه ښه کار دا دی، چې انسان د قرآن کريم تلاوت په ډېره چوپتيا او فکر سره وکړي.

۴: قرآن کريم د زړه په مينه لوستل د انسان زړه مطمئن او روح خوشحالوي.

۸ : د صدقي فضيلت .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ،عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ،قَالَ : " بَيْنَا رَجُلٌ بِفَلَاةٍ مِنَ الْأَرْضِ ،فَسَمِعَ صَوْتًا فِي سَحَابَةٍ اسْقِ حَدِيقَةَ فُلَانٍ ،فَتَنَحَّى ذَلِكَ السَّحَابُ ،فَأَفْرَغَ مَاءَهُ فِي حَرَّةٍ ،فَإِذَا شَرْجَةٌ مِنْ تِلْكَ الشِّرَاجِ قَدِ اسْتَوْعَبَتْ ذَلِكَ الْمَاءَ كُلَّهُ ،فَتَتَبَّعَ الْمَاءَ ،فَإِذَا رَجُلٌ قَائِمٌ فِي حَدِيقَتِهِ يُحَوِّلُ الْمَاءَ بِمِسْحَاتِهِ ،فَقَالَ لَهُ : يَا عَبْدَ اللَّهِ مَا اسْمُكَ ،قَالَ : فُلَانٌ لِلِاسْمِ الَّذِي سَمِعَ فِي السَّحَابَةِ ،فَقَالَ لَهُ : يَا عَبْدَ اللَّهِ لِمَ سْأَلْتَنِي عَنِ اسْمِي ؟،فَقَالَ : إِنِّي سَمِعْتُ صَوْتًا فِي السَّحَابِ الَّذِي هَذَا مَاؤُهُ ، يَقُولُ : اسْقِ حَدِيقَةَ فُلَانٍ لِاسْمِكَ فَمَا تَصْنَعُ فِيهَا ،قَالَ : أَمَّا إِذْقُلْتَ هَذَا ،فَإِنِّي أَنْظُرُ إِلَى مَا يَخْرُجُ مِنْهَا فَأَتَصَدَّقُ بِثُلُثِهِ ،وَ آكُلُ أَنَا وَعِيَالِي ثُلُثًا،وَ أَرُدُّ فِيهَا ثُلُثَهُ .

د ابو هريرة رضی الله عنه نه روايت دی چې وايي: رسول الله عليه الصلاة والسلام وفرمايل:
په صحراء کې يو کس و هغه د وريځو څخه يو اواز واوريده چې ويل يې: د فلاني سړي باغ ته اوبه ورکړه، وريځ يو خوا ته لاړه او د ځمکې په داسې ځای يې باران وکړ، چې هلته تيږې وې هلته د اوبو يوه وياله جوړه شوه او هغه د اوبو څخه ډکه شوه هغه کس د دغه اوبو پسې لاړ هغه په باغ کې يو سړی وليد، چې په خپله بېلچه باندې اوبه خپل باغ ته اړولي د هغه سړي نه يې وپوښتل ای د الله بنده ستا څه نوم دی؟! هغه ورته وويل: فلانی! هماغه نوم يې ورته واخيست کوم چې ده د وريځو څخه اوريدلی وه. باغ والا دده څخه پوښتنه وکړه: ای د الله بنده تا ولې زما د نوم پوښتنه وکړه؟ هغه ورته

وويل: ما د وريځو څخه داسې غږ واورېده، چې دا اوبه دهغې وريځې دي، غږ وويل: د فلاني سړي باغ اوبه کړه، چې ستا نوم يې واخيست او بيا يې دباغ والا نه پوښتنه وکړه:
ته په خپل باغ کې څه کوې؟ باغ والا ورته وويل: دا چې تا دا راته وويل(زما د معمول پوښتنه دې رانه وکړه نو واوره). زه د باغ تر حاصله پورې انتظار کوم يوه حصه به يې خيرات (صدقه) کړم يوه يې زه او زما کورنۍ وخورو او يوه حصه به يې بېرته په باغ کې ولګوم.

دحديث تخريج:

مسلم:کتاب الزهد و لرقائق، باب الصدقة فی المساکين، حديث:(۲۹۸۴)

د حديث فائدې:

۱: کرامت د الله عزوجل فضل دی هغه عزوجل په کراماوتو سره انسانانو ته خپل قدرت او رحمت ورښيي لکه څنګه چې په دغه حديث کې يو سړی په وريځو کې غږ واوريده.

۲: وريځې د الله عزوجل په حکم او امر باران کوي هېڅ بشر په دې نه پوهېږي، چې څنګه او چېرته باران کېدونکی دی. الله عزوجل فرمايلي:

(إِنَّ اللَّهَ عِندَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَ يُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ ۖ وَ مَا تَدْرِي نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا ۖ وَ مَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ) د لقمان سورت ۳۴ ايت .

بېشکه يواځې الله عزوجل ته د قيامت د ورځې او د باران د نازلېدلو (کېدلو) علم دی او الله عزوجل ته هغه څه چې په ارحامو (د ښځو په رحم) کې وي معلوم دی او هېڅ نفس په دې نه پوهېږی، چې سبا به څه کار کوي او هېڅ نفس په دې نه پوهېږي، چې په کومه ځمکه به مري. بېشکه الله عزوجل ښه عالم او ښه خبر دی.

۳: کله چې کوم کس ته دبل انسان نوم نه وي معلوم، نو هغه ته په کار دي چې هغه ته دعبدالله خطاب وکړي لکه څنګه چې په پورتني حديث کې راغلي، چې هغه ترينه پوښتنه وکړه ای عبدالله ستا نوم څه دی هغه ورته وويل فلانی.

۴: مسلمان سره دا نه ښايي، چې هغه خپل ښه کارونه، او عمل پټ کړي کوم چې نورو ته معلوم شوی وی او هغه ترينه دهغه په باره کې پوښتنه وکړي، لکه په حديث کې چې هغه ورته وويل چې ته په دې څه کوې؟

۵: په دې حديث کې دصدقې او احسان ذکر راغلی دی لکه هغه سړی چې بل ته وويل: دريمه برخه يې صدقه کوم.

٦: په دې حدیث کې په ځان او په خپله کورنۍ دمصرف کولو فضیلت هم بیان شویدی لکه هغه سړی چې وایي: ددینه زه او زما کورنۍ هم خوراک کوو.

٧: رزق په هیله او امید نه پیدا کیږي بلکې په عمل، خواري او محنت پیدا کیږي لکه په حدیث کې چې هغه کس د بیلچې سره باغ ته اوبه ورکولې.

٩ : په شکر ویستلو سره نعمتونه لا زیاتیږي.

عن أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ : إِنَّ ثَلَاثَةً فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ : أَبْرَصَ ،وَأَقْرَعَ ،وَأَعْمَى ،بَدَا لِلَّهِ عَزَّ وَجَلَّ أَنْ يَبْتَلِيَهُمْ ،فَبَعَثَ إِلَيْهِمْ مَلَكًا ،فَأَتَى الْأَبْرَصَ ،فَقَالَ: أَيُّ شَيْءٍ أَحَبُّ إِلَيْكَ ؟قَالَ: لَوْنٌ حَسَنٌ وَ جِلْدٌ حَسَنٌ قَدْ قَذِرَنِي النَّاسُ ،قَالَ: فَمَسَحَهُ فَذَهَبَ عَنْهُ ، فَأُعْطِيَ لَوْنًا حَسَنًا وَجِلْدًا حَسَنًا ،فَقَالَ: أَيُّ الْمَالِ أَحَبُّ إِلَيْكَ ؟قَالَ: الْإِبِلُ أَوْ قَالَ: الْبَقَرُ ،هُوَ شَكَّ فِي ذَلِكَ : إِنَّ الْأَبْرَصَ وَ الْأَقْرَعَ قَالَ أَحَدُهُمَا : الْإِبِلُ ، وَقَالَ الْآخَرُ: الْبَقَرُ ؛ فَأُعْطِيَ نَاقَةً عُشَرَاءَ ،فَقَالَ: يُبَارَكُ لَكَ فِيهَا ،وَأَتَى الْأَقْرَعَ فَقَالَ: أَيُّ شَيْءٍ أَحَبُّ إِلَيْكَ ؟قَالَ: شَعَرٌ حَسَنٌ وَيَذْهَبُ هَذَا عَنِّي قَدْ قَذِرَنِي النَّاسُ ،قَالَ: فَمَسَحَهُ فَذَهَبَ ، وَأُعْطِيَ شَعَرًا حَسَنًا ، قَالَ: فَأَيُّ الْمَالِ أَحَبُّ إِلَيْكَ ؟قَالَ: الْبَقَرُ. قَالَ: فَأَعْطَاهُ بَقَرَةً حَامِلًا ،وَقَالَ: يُبَارَكُ لَكَ فِيهَا ،وَأَتَى الْأَعْمَى ،فَقَالَ: أَيُّ شَيْءٍ أَحَبُّ إِلَيْكَ ؟قَالَ: يَرُدُّ اللَّهُ إِلَيَّ بَصَرِي فَأُبْصِرُ بِهِ النَّاسَ ،قَالَ: فَمَسَحَهُ فَرَدَّ اللَّهُ إِلَيْهِ بَصَرَهُ ،قَالَ: فَأَيُّ الْمَالِ أَحَبُّ إِلَيْكَ ؟ قَالَ: الْغَنَمُ ،فَأَعْطَاهُ شَاةً وَالِدًا ،فَأُنْتِجَ هَذَانِ وَوَلَّدَ هَذَا ،فَكَانَ لِهَذَا وَادٍ مِنْ إِبِلٍ ،وَ لِهَذَا وَادٍ مِنْ بَقَرٍ ،وَلِهَذَا وَادٍ مِنْ غَنَمٍ ،ثُمَّ إِنَّهُ أَتَى الْأَبْرَصَ فِي صُورَتِهِ وَهَيْئَتِهِ ،فَقَالَ: رَجُلٌ مِسْكِينٌ ،تَقَطَّعَتْ بِيَ الْحِبَالُ فِي سَفَرِي ،فَلَا بَلَاغَ الْيَوْمَ إِلَّا بِاللَّهِ ،ثُمَّ بِكَ ،أَسْأَلُكَ بِالَّذِي أَعْطَاكَ اللَّوْنَ الْحَسَنَ وَالْجِلْدَ الْحَسَنَ وَالْمَالَ بَعِيرًا ؛أَتَبَلَّغُ عَلَيْهِ فِي سَفَرِي ،فَقَالَ لَهُ : إِنَّ الْحُقُوقَ كَثِيرَةٌ ،فَقَالَ لَهُ: كَأَنِّي أَعْرِفُكَ ؛أَلَمْ تَكُنْ أَبْرَصَ يَقْذَرُكَ النَّاسُ ؟،فَقِيرًا فَأَعْطَاكَ اللَّهُ ؟،فَقَالَ: لَقَدْ وَرِثْتُ لِكَابِرٍ عَنْ كَابِرٍ ، فَقَالَ: إِنْ كُنْتَ كَاذِبًا فَصَيَّرَكَ اللَّهُ إِلَى مَا كُنْتَ ،وَأَتَى الْأَقْرَعَ فِي صُورَتِهِ وَ هَيْئَتِهِ ،فَقَالَ لَهُ مِثْلَ مَا قَالَ لِهَذَا ،فَرَدَّ عَلَيْهِ مِثْلَمَا رَدَّ عَلَيْهِ هَذَا ،فَقَالَ: إِنْ كُنْتَ كَاذِبًا فَصَيَّرَكَ اللَّهُ إِلَى مَا كُنْتَ ،وَأَتَى الْأَعْمَى فِي صُورَتِهِ فَقَالَ: رَجُلٌ مِسْكِينٌ ،وَ ابْنُ سَبِيلٍ ،وَ تَقَطَّعَتْ بِيَ الْحِبَالُ فِي سَفَرِي ، فَلَا بَلَاغَ الْيَوْمَ إِلَّا بِاللَّهِ ،ثُمَّ بِكَ ،أَسْأَلُكَ بِالَّذِي رَدَّ عَلَيْكَ بَصَرَكَ شَاةً أَتَبَلَّغُ بِهَا فِي سَفَرِي ، فَقَالَ: قَدْ كُنْتُ أَعْمَى فَرَدَّ اللَّهُ بَصَرِي ،وَ فَقِيرًا فَقَدْ أَغْنَانِي ،فَخُذْ مَا شِئْتَ ،فَوَ اللَّهِ لَا أَجْهَدُكَ الْيَوْمَ بِشَيْءٍ أَخَذْتَهُ لِلَّهِ ، فَقَالَ: أَمْسِكْ مَالَكَ ؛فَإِنَّمَا ابْتُلِيتُمْ فَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنْكَ ،وَ سَخِطَ عَلَى صَاحِبَيْكَ.

د ابو هرير ة رضی الله عنه نه روايت دی، چې وايي ما د رسول الله عليه افضل الصلاة والسلام نه واورېدل چې فرمايل يې:

په بني اسرائيلو کې درې کسان چې يو يې پيس (برص) بل گنجی او دريم ړوند وو. الله عزوجل د دوی د امتحان اراده وکړه. الله عزوجل دې دريو واړو ته يوه فرښته ور ولېږله. فرښته پيس (برگي) ته راغله او ورته يې وويل: ستا څه خوښېږي؟ پيس ورته ځواب ورکړ چې: ښائسته رنګ او ښائسته پوستکی (څرمن) او دا زه چې په کوم حالت کې يم دا مرض زما څخه لرې شی، ځکه چې د دې له امله خلک زما څخه نفرت کوي. رسول الله عليه افضل الصلاة و السلام فرمايي: فرښتې د هغه په جسم لاس را کش کړ دهغه کس نه هغه مرض لرې شو او ښه رنګ او پوستکی ورې پيدا شو. د هغه نه بيا فرښتې وپوښتل: په مال کې دې څه خوښ دی؟ هغه ورته وويل: اوښ يا غوا (د رواي اسحاق بن عبدالله شک دی، پيس او گنجي دواړو کې يو اوښ غوښتی و او بل غوا). فرښتې هغه ته د لسو مياشتو حامله اوښه ورکړه او داسی دعايې ورته وکړه: الله دې درته په کې برکت واچوي. فرښته بيا گنجي ته ورغله او ورته يې وويل: ستا تر ټولو ډېر څه خوښ دی؟ هغه ورته وويل: ښائسته ويښته او چې دا مرض را څخه لرې شي، ځکه خلک ددې په وجه زما څخه نفرت کوي. رسول الله عليه افضل الصلاة والسلام فرمايي: فرښتې د هغه په سر لاس راکش کړ . الله عزوجل هغه ته ويښته ورکړل او هغه مرض يې ترينه لرې کړ. فرښتی بيا ترينه وپوښتل: په مال کې دې تر ټول ډېر څه خوښېږی؟ هغه ورته وويل: غوا. فرښتې هغه ته حامله غوا ورکړه او داسې دعا يې ورته وکړه : الله دې درته په کې برکت واچوی. فرښته بيا ړوند ته ورغله او ورته يې وويل: تر ټولو ډېر ستا څه خوښ دي؟ ړوند ورته وويل: دا چې الله عزوجل ماته بېرته د ليدلو طاقت راکړي تر څو زه خلک ووينم. رسول الله عليه الصلاة والسلام فرمايي: فرښتې د هغه په سترگو لاس راکش کړ او الله عزوجل د هغه سترگې بېرته بيناء کړې. فرښتی ترينه بيا وپوښتل: په مال کې دې تر ټولو ډېر څه خوښ دي؟. هغه ورته وويل: ميږه (گډه). فرښتی هغه ته حامله ميږه ورکړه او داسې دعا يې ورته وکړه. الله دې درته په کې برکت واچوی.

دريو واړو څناورو بچي وزېږول او د برگي د اوښانو خپله گله (رمه) شوه. همداسی د گنجي د غواگانو او د ړوند د اوزو رمه شوه .

فرښته د برگي (پيس) مرض والا ته بيا په هماغه شکل راغله لکه څنگه چې مخکې ورته راغلې وه او ورته يې وويل:

زه يو ډېر محتاج انسان يم په سفر کې زما ټول سامان او اسباب خلاص شو د الله عزوجل د مدد نه بغير زه خپل منزل ته نه شم رسيدلی، زه ستا نه د هغه الله په نوم سوال کوم ،کوم الله چې تاته ښه رنگ او ښائسته پوستکی درکړ او د اوښانو دغه رمه يې درکړې ده، د هغه په نوم يو اوښ راکړه تر څو

زه پرې خپل سفر سرته ورسوم. هغه(پيس) ورته وويل: په ما حقوق ډېر زيات دي. فرښتې ورته وويل: غالباً زه تا پېژنم. آيا ته هغه غريب او پيس نه وې؟، چې خلکو در څخه نفرت کاوه. الله صحت او دغه مال درکړ؟. هغه کس ورته وويل: دا مال ماته زما د پلار او نيکه نه را پاتې شوی دی. فرښتې ورته وويل: که چېرته ته دروغجن يې، نو الله عزوجل دې خپل اولني حالت ته ور وګرځوه.

فرښته بيا ګنجي ته هم په هماغه پخواني صورت کې راغله او هماغه څه يې ورته و ويل کوم يې چې د پيس مرض وهلي ته ويلي و. ګنجي فرښتې ته هماغسې ځواب ورکړ کوم چې پيس ورکړی و. فرښتې ګنجي ته وويل:

که ته دروغجن يې نو الله دې هماغه اولني حالت ته ور وګرځوه. فرښته بيا ړوند ته په هماغه اولني صورت راغله او ورته يې وويل:

زه يو حاجتمند مسافر يم په سفر کې زما ټول اسباب خلاص شوی دی. د الله عزوجل د مرستې او بيا ستا له مرستي نه بغير زه خپل منزل ته نه شم رسېدلی. زه درنه د هغه الله په نوم سوال کوم، کوم چې تاته سترګې درکړي د هغه په نوم يوه ميږه راکړه تر څو زما په سفر کې په کار راشي؟! ړوند ورته وويل: بيشکه زه يو ړوند وم الله عزوجل په خپل کرم سترګې راکړې او غريب وم په خپل رحم يې مالداره کړم. قسم د هغه په ذات! نن چې ته د هغه په لاره هر څه غواړې او اخلې زه به تا د هغی له اخيستلو څخه منع نه کړم. فرښتې ورته وويل: ته خپل مال د ځانه سره وساته. تاسو درې واړه الله امتحان کړی. الله عزوجل ستا څخه رضا شو او ستا دواړو ملګرو ته غصه او دهغوی څخه ناراضه دی.

دحديث تخريج :

صحيح البخاري: كتاب أحاديث الأنبياء، باب: حديث أبرصوأعمى و أقرع فى بنى إسرائيل،برقم: (۳۴۶۴)او په: كتاب الايمان والنذور، باب: لايقول ماشاء الله و شئت، وهل يقول أنا بالله ثم بک ؟ ۶۶۵۳.

صحيح مسلم: كتاب الزهد (والرقائق) باب: الدنيا سجن الؤمن وجنة للكافر، حديث: (۲۹۶۴).

د حديث فائدې:

۱: د غريبو او مسکينانو سره مرسته کول د مسلمان د ښو صفتونو نه يو ښه صفت دی.

۲: الله عزوجل په خلکو امتحان راولي.

۳: څوک چې بل ته هديه يا بل څه ورکوي، نو دعا دې ورته کوي لکه فرښتې چې هغوی ته د مال د ورکولو نه وروسته کوله.

۴: د الله عزوجل په نعمتونو شکر نه ويستل د نعمت د زوال سبب ګرځي.

۵: د الله په نعمتونو شکر ويستل په نعمت کې زياتوالی پيدا کوي، الله عزوجل فرمايلي:

(وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِن شَكَرْتُمْ لأَزِيدَنَّكُمْ وَلَئِن كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ ﴿٧﴾) ، سورة ابراهيم ۷ ایت .

او یاد کړه هغه وخت چې ستاسو رب تاسو ته خبر درکړ، که چېرته تاسو شکر و ویست (په تېرو نعمتونو او احسانونو) نو تاسو ته به نعمت زیات کړم او که تاسو نا شکري او بې قدري مو وکړه، نو بې له شکه زما عذاب ډېر سخت دی.

٦: په هر انسان واجب دی، چې د خپل ځان د جوړښت له امله د الله عزوجل شکر اداء کړی.

۱۰ : هر ژوندی ژي (ځناور) سره په نیکی کولو کی اجر دی .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ:

بَيْنَمَا رَجُلٌ يَمْشِي بِطَرِيقٍ ، اشْتَدَّ عَلَيْهِ الْعَطَشُ , فَوَجَدَ بِئْرًا , فَنَزَلَ فِيهَا ، فَشَرِبَ ، ثُمَّ خَرَجَ ، فَإِذَا كَلْبٌ يَلْهَثُ ، يَأْكُلُ الثَّرَى مِنَ الْعَطَشِ ، فَقَالَ الرَّجُلُ : لَقَدْ بَلَغَ هَذَا الْكَلْبَ مِنَ الْعَطَشِ مِثْلُ الَّذِي كَانَ بَلَغَ مِنِّي ، فَنَزَلَ الْبِئْرَ، فَمَلأَ خُفَّهُمَاءً ، ثُمَّ أَمْسَكَهُ بِفِيهِ ، حَتَّى رَقِيَ ، فَسَقَى الْكَلْبَ ، فَشَكَرَ اللَّهُ لَهُ ، فَغَفَرَ لَهُ ، قَالُوا : يَارَسُولَ اللَّهِ ، وَإِنَّ لَنَا فِي هَذِهِ الْبَهَائِمِ لأَجْرًا ؟فَقَالَ: فِي كُلِّ كَبِدٍ رَطْبَةٍ أَجْرٌ .

د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی وایي: رسول الله علیه افضل الصلاة والسلام وفرمایل:

یو سړی په لاره روان و سختې تندې واخیست په لاره کې یې یوه څاه ولیدله هغې ته ور کوز شو او اوبه یې وڅکلې او د څاه څخه را وخوت. د څاه په غاړه یې یو سپی ولیده، چې ژبه یې را ایستلې وه او د ډېرې تندې له لاسه یې لمده خاوره خوړله، سړي د ځانه سره وویل: دا سپی هم داسې تندې اخیستی لکه زه یې چې اخیستی وم. څاه ته کوز شو خپله موزه یې له اوبو ډکه کړه او له څاه څخه په داسې حال کې را و ووت، چې هغه خپله موزه په خوله کې نیولې وه او سپي ته یې اوبه ورکړې. الله د هغه کس دغه کار خوښ شو او هغه ته یې ببښنه وکړه. صحابو رضی الله عنهم عرض وکړ: ای د الله رسوله ! د څناورو سره په نیکې کولو کې هم مونږ ته ثواب او اجر شته؟! رسول الله علیه الصلاة والسلام وفرمایل: په هر لامده جگر لرونکې کې ثواب شته دی (هر ژوندی شي کې).

دحدیث تخریج:

بخاری : کتاب المساقاة ،باب : فضل سقي الماء،حدیث : (۲۳۶۳). اوپه کتاب المظالم،باب : لآبار التي على الطريق ذالم يتأذ بها (۲۴۶۶) اوبخاري په کتاب الادب،باب : رحمة الناس والبهائم (۶۰۰۹).

مسلم وللفظ ه : کتاب السلام،باب : فضل سقي البهائم واطعامها،حدیث : (۲۲۴۴).

بوداود : کتاب الجهاد،باب : مايؤمر به من القيام على الدواب والبهائم (۲۵۵۰).

دحديث فائدې:

۱: کله چې په انسان سختي او مرض راشي هغه بيا د آسانی او روغ صحت په قدر پوهېږی.

۲: کله چې مسلمان کوم ښه او نېک کار کوي الله عزوجل د هغه دغه کار خوښوی.

۳: د ښه او نېک عمل په کولو سره الله عزوجل انسان ته مغفرت کوي.

۴: په حيواناتو رحم کول د الله عزوجل د رضاء سبب گرځي.

۵: په هر ژوندي ژوي رحم کول اجر لري.

۱۱ : هغه کوچنيان چې حق وينا يې کړې ده .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ،عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ،قَالَ: " لَمْ يَتَكَلَّمْ فِي الْمَهْدِ إِلَّا ثَلَاثَةٌ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ ،وَ صَاحِبُ جُرَيْجٍ ،وَكَانَ جُرَيْجٌ رَجُلًا عَابِدًا ،فَاتَّخَذَ صَوْمَعَةً ،فَكَانَ فِيهَا ،فَأَتَتْهُ أُمُّهُ وَ هُوَ يُصَلِّي ،فَقَالَتْ: يَا جُرَيْجُ فَقَالَ: يَا رَبِّ أُمِّي وَ صَلَاتِي ،فَأَقْبَلَ عَلَى صَلَاتِهِ ،فَانْصَرَفَتْ ،فَلَمَّا كَانَ مِنَ الْغَدِ أَتَتْهُ وَ هُوَ يُصَلِّي ، فَقَالَتْ : يَا جُرَيْجُ فَقَالَ: يَا رَبِّ أُمِّي وَ صَلَاتِي ،فَأَقْبَلَ عَلَى صَلَاتِهِ ،فَانْصَرَفَتْ ،فَلَمَّا كَانَ مِنَ الْغَدِ أَتَتْهُ وَ هُوَ يُصَلِّي فَقَالَتْ: يَا جُرَيْجُ فَقَالَ: أَيْ رَبِّ أُمِّي وَصَلَاتِي ،فَأَقْبَلَ عَلَى صَلَاتِهِ ،فَقَالَتْ: اللَّهُمَّ لَا تُمِتْهُ حَتَّى يَنْظُرَ إِلَى وُجُوهِ الْمُومِسَاتِ ،فَتَذَاكَرَ بَنُو إِسْرَائِيلَ جُرَيْجًا وَعِبَادَتَهُ وَكَانَتِ امْرَأَةٌ بَغِيٌّ يُتَمَثَّلُ بِحُسْنِهَا ،فَقَالَتْ: إِنْ شِئْتُمْ لَأَفْتِنَنَّهُ لَكُمْ ،قَالَ: فَتَعَرَّضَتْ لَهُ ،فَلَمْ يَلْتَفِتْ إِلَيْهَا ،فَأَتَتْ رَاعِيًا كَانَ يَأْوِي إِلَى صَوْمَعَتِهِ ،فَأَمْكَنَتْهُ مِنْ نَفْسِهَا ،فَوَقَعَ عَلَيْهَا فَحَمَلَتْ ،فَلَمَّا وَلَدَتْ قَالَتْ: هُوَ مِنْ جُرَيْجٍ ،فَأَتَوْهُ فَاسْتَنْزَلُوهُ وَهَدَمُوا صَوْمَعَتَهُ وَجَعَلُوا يَضْرِبُونَهُ فَقَالَ: مَاشَأْنُكُمْ ؟قَالُوا : زَنَيْتَ بِهَذِهِ الْبَغِيِّ ،فَوَلَدَتْ مِنْكَ ،فَقَالَ: أَيْنَ الصَّبِيُّ ؟فَجَاءُوا بِهِ ،فَقَالَ: دَعُونِي حَتَّى أُصَلِّيَ ،فَصَلَّى ،فَلَمَّا انْصَرَفَ أَتَى الصَّبِيَّ فَطَعَنَ فِي بَطْنِهِ ، وَقَالَ: يَا غُلَامُ مَنْ أَبُوكَ ؟قَالَ: فُلَانٌ الرَّاعِي ،قَالَ: فَأَقْبَلُوا عَلَى جُرَيْجٍ يُقَبِّلُونَهُ وَيَتَمَسَّحُونَ بِهِ ، وَقَالُوا: نَبْنِي لَكَ صَوْمَعَتَكَ مِنْ ذَهَبٍ ،قَالَ: لَا ،أَعِيدُوهَا مِنْ طِينٍ كَمَا كَانَتْ ،فَفَعَلُوا. وَبَيْنَا صَبِيٌّ يَرْضَعُ مِنْ أُمِّهِ ،فَمَرَّ رَجُلٌ رَاكِبٌ عَلَى دَابَّةٍ فَارِهَةٍ ،وَشَارَةٍ حَسَنَةٍ ،فَقَالَتْ أُمُّهُ : اللَّهُمَّ اجْعَلِ ابْنِي مِثْلَ هَذَا ،فَتَرَكَ الثَّدْيَ وَ أَقْبَلَ إِلَيْهِ ،فَنَظَرَ إِلَيْهِ ،فَقَالَ: اللَّهُمَّ لَا تَجْعَلْنِي مِثْلَهُ ،ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَى ثَدْيِهِ فَجَعَلَ يَرْتَضِعُ ". قَالَ: فَكَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ هُوَ يَحْكِي ارْتِضَاعَهُ بِإِصْبَعِهِ السَّبَّابَةِ فِي فَمِهِ ،فَجَعَلَ يَمُصُّهَا ،قَالَ: " وَمَرُّوا بِجَارِيَةٍ وَهُمْ يَضْرِبُونَهَا وَيَقُولُونَ: زَنَيْتِ ،سَرَقْتِ ،وَهِيَ تَقُولُ : حَسْبِيَ اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ ،فَقَالَتْ أُمُّهُ: اللَّهُمَّ لَاتَجْعَلِ ابْنِي مِثْلَهَا ،فَتَرَكَ الرَّضَاعَ وَنَظَرَ إِلَيْهَا ،فَقَالَ: اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِثْلَهَا ،فَهُنَاكَ تَرَاجَعَا الْحَدِيثَ ،فَقَالَتْ: حَلْقَى ! مَرَ رَجُلٌ حَسَنُ الْهَيْئَةِ فَقُلْتُ : اللَّهُمَّ اجْعَلِ ابْنِي مِثْلَهُ ،فَقُلْتَ: اللَّهُمَّ لَا تَجْعَلْنِي مِثْلَهُ ،وَمَرُّوا بِهَذِهِ الْأَمَةِ وَهُمْ يَضْرِبُونَهَا وَيَقُولُونَ :

زَنَيْتِ ، سَرَقْتِ ،فَقُلْتُ : اللهُمَّ لا تَجْعَلِ ابْنِي مِثْلَهَا فَقُلْتَ: اللهُمَّ اجْعَلْنِي مِثْلَهَا ،قَالَ: إِنَّ ذَاكَ الرَّجُلَ كَانَ جَبَّارًا ،فَقُلْتُ: اللهُمَّ لا تَجْعَلْنِي مِثْلَهُ ،وَإِنَّ هَذِهِ يَقُولُونَ لَهَا زَنَيْتِ وَلَمْ تَزْنِ ،وَ سَرَقْتِ وَلَمْ تَسْرِقْ فَقُلْتُ : اللهُمَّ اجْعَلْنِي مِثْلَهَ .

د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چې وايي: رسول الله عليه الصلاة والسلام وفرمايل:

په وړوکوالي (د غېږې ماشوم) کې بغير د دريو کسانو نه نورو خبرې نه دي کړې. يو عيسٰی عليه السلام و او بل (دويم ماشوم) د جريج ماشوم (جريج يو عابد و) هغه يو عبادت ځای جوړ کړی و، چې په هغه کې به يې عبادت کاوه، يوه ورځ هغه عبادت کاوه، چې مور يې راغله او ورته يې نارې کړې، چې ای جريجه! جريج د ځانه سره وويل: ای ربه! زما مور او لمونځ (زما مور ماته نارې وهي او زه ستا عبادت کوم). جريج خپل عبادت ته مخه کړه، مور يې لاړه په سبا يې بيا مور راغله او ورته يې نارې کړې، چې ای جريجه! جريج وويل: ای ربه زما لمونځ او زما مور . جريج بيا خپل عبادت ته مخه کړه. په دريمه ورځ يې مور بيا راغله او ورته يې نارې کړې، ای جريجه! جريج وويل: ياالله زما مور او زما لمونځ (يوې خوا راته مور نارې وهي او د بلې خوا زه ستا عبادت کوم) . جريج بيا خپل عبادت ته مخه کړه. د جريج مور جريج ته داسی ښيرا وکړه: ياالله تر هغې جريج مه مړ کوې تر کومه چې هغه د بد کاره (زناءکارو) ښځو مخونه ونه ويني؟!

په بني اسرائيلو کې د جريج او د جريج د عبادت په باره کې خلکو ډېرې خبرې کولې او د هغه صفتونه به يې کول. په بني اسرائيلو کې يوه ښائسته او بد کاره ښځه هم اوسيدله، چې د هغې د ښائست په تولو کې ضرب المثل درلود. هغې وويل: که تاسو غواړی زه به جريج په فتنه کې راگير کړم. هغه جريج ته ورغله (تر څو هغه په فتنه کې را گير کړي)، مگر جريج هغې ته هېڅ اهميت ور نه کړ . آخر هغه ښځه يوه شپون ته ورغله، چې د جريج دعبادت ځای سره څنگ ته اوسېده. هغې ښځې دغه شپون ته د بد کاری بلنه ورکړه او هغه د دې بلنه ومنله. هغه ښځه د شپون نه حامله شوه، کله چې يې ماشوم پيدا شو خلکو ته يې وويل : دا د جريج ماشوم دی. خلکو چې دا واورېدل د جريج عبادت ځای ته ورغلل. جريج يې له عبادت ځای څخه را وويست د هغه عبادت خانه يې ورانه کړه او د هغه په وهلو يې شروع وکړه. جريج ترينه و پوښتل: څه خبره ده ؟ خلکو ورته وويل: تا له دې بدکارې ښځې سره زنا کړې ده او له هغې نه يو ماشوم هم لري. جريج ورته وويل: ماشوم چېرته دی؟ خلکو ورته ماشوم راوست. جريج وويل: اجازه راکړئ چې لمونځ وکړم. لمونځ يې چې وکړ ماشوم ته ورغی او په خېټه کې يې په گوته و واهه او ورته يې وويل: ای ماشومه! ستا پلار څوک دی؟! ماشوم ورته وويل : فلانکی شپون. کله چې خلکو د ماشوم دغه خبرې واورېدې په منډه جريج ته راغلل د هغه په ښکولولو يې

شروع وکړه او ورته يې وويل: مونږ به تاته د سرو زرو نه د عبادت خونه جوړه کړو. جريج ورته وويل: نه! بلکې د ختې نه يې جوړ کړی او خلکو ورته هماغسې عبادت ځای جوړ کړ لکه څنګه چې مخکې و.

او يو بل (دريم ماشوم) چې د مور شيدې يې رودلې په دې وخت کې يو کس چې په يوه ښه سپرلې سور او ښائسته کالی يې اغوستی ول تېر شو ددغه هلک مور الله ته دعا وکړه چې : ياالله زما ځوی هم داسې کړه (لکه په آس سپور ځوان)، کله چې ماشوم د مور دا دعا واوريده د مور د سينې رودل يې پرېښودل او ويې ويل: ياالله ما داسې مه کوه او بيا يې د مور د سينې په رودلو شروع وکړه.

ابو هريرة رضی الله عنه فرمايي: ما رسول الله عليه افضل الصلاة والسلام وليده، چې خپله مبارکه ګوته يې رودله، بيا رسول الله عليه افضل الصلاة والسلام وفرمايل: بيا خلکو يوه انجلۍ نيولې وه او هغه يې وهله او ورته يې ويل: چې تا زنا کړی ده، تا غلا کړی ده او هغه انجلۍ ويلې : الله عزوجل زما لپاره کافي دی او هغه زما غوره وکيل دی. د دغه هلک مور چې کله دغه حالت وليده الله عزوجل ته يې دعا وکړه، چې ياالله زما ځوی داسې مه لوی يه وې. هغه ماشوم د مور سينه پرېښوده هغې جلې ته يې وکتل او داسې دعا يې وکړه: ياالله ما همداسې لوی کړې. مور يې (دغه ماشوم) ځوی ته وويل: عجيبه ده! يو ښائسته (په مالي لحاظ پوره) کس تېر شو. ما د الله نه دعا وکړه، چې يا الله زما ځوی هم داسې لوی کړې تا وويل: ياالله ما داسې مه لوی يه وې او يوه انجلۍ چې خلکو وهله او ورته يې ويل: چې تا غلا او زنا کړې ما دعا وکړه، يا الله زما ځوی داسې مه لويوه، نو تا وويل: چې ياالله ما داسې لوی کړه. ځوی يې ورته و ويل:

کوم کس چې تېر شو هغه يو ظالم سړی وه، نو ما وويل: ياالله ما داسې مه لويوه او کومه انجلۍ چې خلکو وهله او ورته يې ويل: تا زنا او غلا کړې، حال دا چې هغې خو نه زنا کړی وه او نه غلا، نو ما وويل: ياالله ما داسې لوی کړې.

دحديث تخريج:

بخاري : كتاب أحاديث الأنبياء ،باب : قوله تعالى : واذكر في الكتب مريم اذ انتبذت من أهلها،حديث (۳۴۳۶) او (۳۴۶۶) او په ابواب العمل في الصلاة ، باب : اذ ا دعت الأم ولدها في الصلاة (۱۲۰۶) او په كتاب المظالم ، باب : اذا هدم حائطا فليبن مثله (۲۴۸۲).
مسلم واللفظ له : كتاب البر والصلة والأدب ،باب : تقديم بر الوالدين على التطوع بصلاة،وغيرها،حديث : (۲۵۵۰).

د حديث فائدې:

۱: د مور او پلار غږ ته په وخت ځواب ورکول د نفلي لمونځ او نفلي روژې نه افضل دی.

۲: مور او پلار ته نه دي پکار، چې بچيو ته ښېرا وکړي لکه څنګه چې د جريج مور خپل ځوی ته ښېرا کړې وې او هغه ورته قبولې شوې.

۳: د مور او پلار ښېرا زر قبلېږی لکه جريج ته چې قبولې شوې.

۴: مور او پلار ته پکار دي، چې خپلو بچیو ته ښه دعا وکړي.
۵: د شیطان او مفسدو خلکو دښمني د ښو خلکو سره په هر وخت او دایمي وي.
٦: ښائست کله نا کله د فتنې سبب ګرځي لکه هغه ښځه چې ښائسته وه.
۷: مؤمن ته پکار دي، چې ګناهونو نه په ډېر احتیاط سره ځان وساتي لکه جریج ته چې هغه ښځې غږ وکړ او هغه ورته هېڅ اهمیت هم ور نه کړ او نه یې ورته ځواب ورکړ.
۸: د شیطان او مفسدینو پلانونه کله نا کله ډېر اوږده او وخت نیونکې وي لکه په دې حدیث کې چې کله هغه ښځې جریج ته غږ وکړ هغه ځواب ور نه کړ او هغه بیا هغه شپون ته لاړه او نهه میاشتی وروسته یې ماشوم وزیږاوه او بیا یې وویل دا د جریج ماشوم دی.
۹: پلټنه او څېړنه د مؤمنانو له صفتونو څخه یو صفت دی، ځکه الله عزوجل فرمایلی:

(يَا أَيُّهَاالَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَأٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَافَعَلْتُمْ نَادِمِينَ)
د حجرات سورت ٦ ایت.

۱۱: په حدیث کې خلکو د دې پر ځای چې د جریج نه پوښتنه وکړي د هغه په وهلو شروع وکړه او عبادت ځای یې ورته وران کړ.
۱۰: الله عزوجل د مظلوم دعا قبلوي. په پورتني حدیث کې مو ولوستل چې جریج مظلوم و او کله یې چې دعا وکړه ماشوم پرې شاهدي ورکړه.
۱۱: د صالحو او نېکو خلکو کرامات حق دي لکه د جریج قصه مو چې ولوستله چې د غیږې ماشوم خبرې وکړې.
۱۲: د الله عزوجل نه ویره کول او تل د ځان محاسبه د مسلمان د کامیابی او خلاصون لاره ده. الله عزوجل فرمایلی:
(وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ) د طلاق سورت .
۱۳: د دینا د خوند او مزو نه ځان ساتنه د متقي مؤمن شیوه ده.
۱۴: په ظلم، حرامه او ناپاکه لاره پیسې پیدا کول د انسان د تباهی سبب ګرځي لکه څنګه چې په قارون باندې الله عزوجل ځمکه سر چپه کړه. او په دې حدیث کې چې هغه ماشوم د مور د دعا نه وروسته وویل: یاالله ما د دې سړي غوندې مه لویوه.
۱۵: په پاک لمنو مسلمانو ښځو باندی تهمت د ستر ګناهونو څخه یوه ده او الله عزوجل د مظلومانو مرستندوی دی لکه په دې حدیث کې چې هغه ماشوم د مور د دعا نه وروسته وویل یاالله ما داسې لوی کړه لکه دا جلی.

۱۲ : د هر ژوندي پای مرگ دی .

عن أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم :
جَاءَ مَلَكُ الْمَوْتِ إِلَى مُوسَى عَلَيْهِ السَّلاَمُ ، فَقَالَ لَهُ : أَجِبْ رَبَّكَ ،– قَالَ – فَلَطَمَ مُوسَى عَلَيْهِ السَّلاَمُ عَيْنَ مَلَكِ الْمَوْتِ فَفَقَأَهَا – قَالَ : – فَرَجَعَ الْمَلَكُ إِلَى اللهِ تَعَالَى ، فَقَالَ : إِنَّكَ أَرْسَلْتَنِي إِلَى عَبْدٍ لَكَ لاَ يُرِيدُ الْمَوْتَ ، وَ قَدْ فَقَأَ عَيْنِي – قَالَ – فَرَدَّ اللهُ إِلَيْهِ عَيْنَهُ وَقَالَ : ارْجِعْ إِلَى عَبْدِي فَقُلِ : الْحَيَاةَ تُرِيدُ ؟ فَإِنْ كُنْتَ تُرِيدُ الْحَيَاةَ فضَعْ يَدَكَ عَلَى مَتْنِ ثَوْرٍ ، فَمَا تَوَارَتْ يَدُكَ مِنْ شَعْرَةٍ ، فَإِنَّكَ تَعِيشُ بِهَا سَنَةً ، قَالَ ثُمَّ مَهْ ؟ قَالَ : ثُمَّ تَمُوتُ . قَالَ : فَالآنَ مِنْ قَرِيبٍ ، رَبِّ ! أَمِتْنِي مِنَ الأَرْضِ الْمُقَدَّسَةِ ، رَمْيَةً بِحَجَرٍ . قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم : وَاللهِ لَوْ أَنِّ عِنْدَهُ لأَرَيْتُكُمْ قَبْرَهُ إِلَى جَانِبِ الطَّرِيقِ ،عِنْدَ الْكَثِيبِ الأَحْمَرِ.

د ابو هريرة رضی الله عنه روايت دی چې وايي: رسول الله عليه افضل الصلاة والسلام وفرمایل:
ملک الموت (دمرگ فرښته) موسی عليه السلام ته راغی او ورته يې وويل: خپل رب ته ځواب ورکړه او حاضر شه . موسی عليه السلام ملک الموت په داسې څپېړه ووهه چې سترگه يې ورته وويستله. ملک الموت بېرته د الله عزوجل دربار ته راغی او ورته يې عرض وکړ: ياالله زه تا داسې يو بنده ته ور ولیږم، چې هغه مرگ نه خوښوي او هغه زما سترگه وويستله. الله عزوجل د هغه سترگه روغه کړه او ورته يې وويل: زما بنده ته بېرته ورشه او ورته ووايه، چې که ژوند غواړې، نو د غويي په ملا لاس کېږده چې ستا دلاس لاندې څومره ویښته راشي د هغه هر ویښته په بدل کې به هغه يو کال ژوندی وی (ملک الموت بېرته موسی عليه السلام ته راغی او موسی عليه السلام ته يې دغه خبره وکړه) موسی عليه السلام وويل: د دې نه وروسته به بيا څه وي؟ ورته وويل شول: بيا به مړ کېږې. موسٰی عليه السلام وويل: مرگ بيا اوس ښه دی. ای زما ربه ما د دې پاکې خاورې نه د يوې تيږې د ويشتلو په اندازه ليرې مړ کړه.

ابو هريرة رضی الله عنه وايي: بيا رسول الله عيه افضل الصلاة والسلام وفرمایل:
په الله قسم که زه هلته وم، نو ما به تاسو ته د موسی عليه الصلا والسلام قبر ښودلی و، چې د لاري په غاړه د سرو شکو ډيرى (وړه غونډی) سره دی.

دحديث تخريج:

بخاری : کتاب أحاديث الانبياء ،باب : وفاة موسى وذكره بعد (٣٤٠٧) اوپه کتاب الجنائز ،باب : من أحب لدفن في لأرض المقدسة ونحوها،(١٣٣٩) .
مسلم وهذا لفظه : كتاب الفضائل،باب : من فضائل موسى عليه السلام، (٢٣٧٢) .
سنن النسائي،كتاب الجنائز،باب : في التعزية . معجم نوع آخر، (٢٠٩١).

د حدیث فائدې:

۱: ملک الموت د انسانانو چې انبیاء علیه السلام هم په کې راځي د هغوی د روح اخیستلو باندې مقرر شوي دي.

۲: ملایکې د انسان په شکل هم را تللای شي لکه په دې حدیث کې چې ملک الموت موسی علیه السلام ته راغی او موسی علیه السلام د هغه سترګه په څپېړه وویسته.

۳: وایي چې ملک الموت د موسی علیه السلام امتحان ته راغلی و نه د هغه د روح د اخیستلو لپاره.

۴: داسې هم ویل کېږې چې ملک الموت د هغه د امتحان لپاره نه و راغلی، بلکې موسی علیه السلام ملک الموت نه پېژانده لکه څنګه چې ابراهیم او لوط علیهما السلام هغه ملایکې نه پېژندلې چې د انسان په شکل ورته راغلې وې. ابراهیم علیه السلام هغه فرښتو ته چې د انسانانو په شکل راغلې وې هغوی ته یې ډوډۍ وړاندی کړه، چې هغوی ورته وویل مونږ ډوډۍ نه خورو او لوط علیه السلام ته چې کومې فرښتې راغلې وې، نو د ښائسته ځوانانو په شکل راغلې وې، چې هغه پرې وډار شو هسې نه د هغه قوم ورته په بده ونه ګوری.

۵: الله عزوجل په هر څه قادر دی، چې د څه شي اراده وکړي هغه کېږی.

٦: د ملک الموت بېرته د سمې او سالمې سترګې سره راتګ موسی علیه السلام په دې یقیني کړ، چې هغه فرښته ده او د ده د روح اخیستلو لپاره راغلی دی.

۷: مرګ حقیقت دی او هېڅوک ترینه خوندي نه دی که څېرته یو انسان د غویي د وېښتو په اندازه هم ژوند وکړی بیا به هم مړ کېږی.

۸: په غیبو صرف او صرف الله عزوجل خبر دی. د غیبو باره کې نه کوم پیغمبر پوهېږی نه فرښته او نه کوم بل انسان، څکه ملک الموت چې موسی علیه السلام ته ورغلی و، نو هغه داسې فکر کاوه چې هغه به یې په همدې اول وار کې ساه واخلي.

۹: په مقدسو ځایونو کې مرګ فضیلت لري لکه موسی علیه السلام چې دعا کړې وه. د عبدالله بن عمر نه یو مرفوع حدیث روایت دی، چې رسول الله علیه السلام دمدینې باره کې و فرمایل:

(مَن اسْتَطَاعَ أَنْ يمُوتَ بِالْمَدِينَةِ فَلْيَمُتْ بِهَا ،فَإِنِّ أَشْفَعُ لِمَنْ يمُوتُ بِهَا).

ژباړه: که څوک د دې وس لري چې په مدینه کې مړ شي، نو هلته دې مړ شي. زه د هغه چا شفاعت کوم چې مدینه کې مړ شوی وي.

جامع الترمذی: ابواب المناقب، باب: ما جاء فی فضل المدینة (۳۹۱۷)
بن ماجة: ابواب المناسک- باب فضل المدینة (۳۱۱۳) .

۱۳ : په سختیو پسی اسانی وی .

عن أبي هريرة – رضي الله عنه – قال: كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ يَغْتَسِلُونَ عُرَاةً يَنْظُرُ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ ، وَكَانَ مُوسَى يَغْتَسِلُ وَحْدَهُ ، فَقَالُوا: وَاللَّهِ مَا يَمْنَعُ مُوسَى أَنْ يَغْتَسِلَ مَعَنَا إِلا أَنَّهُ آدَرُ ،فَذَهَبَ مَرَّةً يَغْتَسِلُ فَوَضَعَ ثَوْبَهُ عَلَى حَجَرٍ ، فَفَرَّ الْحَجَرُ بِثَوْبِهِ ، فَجَمَعَ مُوسَى فِي إِثْرِهِ يَقُولُ: ثَوْبِي يَاحَجَرُ! ثَوْبِي يا حَجَرُ! حَتَّى نَظَرَت بَنُو إِسْرَائِيلَ إِلَى مُوسَى فَقَالُوا : وَاللَّهِ مَا بِمُوسَى مِنْ بَأْسٍ ، وَ اَخَذَ ثَوْبَهُ فطفق بِالْحَجَرِ ضربا ؟فَقالَ أَبُو هريرة : والله إنهُ لَنَدَب بِالْحَجَرَ سِتَّةٌ أَوْ سَبْعَةٌ ضَرْبًا بِالْحَجَرِ.

د ابو هريرة رضی الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله عليه الصلاة والسلام وفرمايل:
بني اسرائيلو به لوڅ لمبل او يو بل ته به يې کتل موسی عليه الصلاة والسلام به ځانته لمبل. بني اسرائيلو وويل: په خدای قسم چې موسی ځکه زمونږ سره نه لامبي چې هغه داسې مرض لري(د هغه خصيتين پړسيدلی)، چې زمونږ څخه يې پټوی. يوه ورځ موسٰی عليه السلام يواځې لمبل خپل کالي يې په يوه تېره کېښودل. تيږې (د الله په حکم) د موسی عليه السلام کالي و تښتول. موسی عليه السلام د تيږې پسې منډه کړه او ورته يې وويل: ای تيږې! زما کالي. ای تيږی! زما کالي. په دې وخت کې بني اسرائيلو موسی عليه السلام لوڅ وليد، نو په خپلو کې يې سره وويل: قسم په رب ! موسی عليه السلام خو هيڅ داسې مرض نه لري. موسی عليه السلام د تيږې څخه کالي واخيستل او د تيږې په وهلو يې شروع وکړه. ابو هريرة رضی الله عنه وايې: قسم په خدای په هغه تيږه د موسی عليه السلام د وهلو شپږ اوه نښانونه پاتې دي.

دحديث تخريج :

بخاري و هذا لفظه : كتاب الغسل ،باب : من اغتسل عريانا وحده فى الخلوة ،حديث : (۲۷۸) او په كتاب : أحاديث الأنبياء ، باب :(۳۴۰۴) اوپه كتاب التفسير،باب : لاتكون كالذين‌ءاذوا موسى،(۴۷۹۹).
مسلم : كتاب الحيض ،باب : جواز الاغتسال عريانا في الخلوة،حديث :(۳۳۹).

د حديث فائدې:

۱: د بني اسرائيلو سر کشي او په گناهونو کې ډوبېدل تر دې حده رسيدلي وو، چې د يو بل په مخکې به يې لوڅ لمبل او د يو بل شرمگاه ته به يې کتل.
۲: موسی عليه السلام د الله عزوجل نه ډېره حيا کوله .

۳: بد گمان او شک د مریضو او خرابو زړونو لرونکو خلکو کار وي لکه څنګه چې په دې حدیث کې بني اسرائیلو بعضي بد ګمانه کسانو وویل: موسی علیه السلام چې زمونږ سره نه لامبي، نو د هغه په وجود کې به خامخا داسي کوم مرض وي، چې هغه یې زمونږ نه پټوی او همداسې د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دی چې:

قَسَمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَسْمًا ،فَقَالَ رَجُلٌ : إِنَّهَا لَقِسْمَةٌ مَا أُرِيدَ بِهَا وَجْهُ اللهِ ،قَالَ : فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَارَرْتُهُ ،فَغَضِبَ مِنْ ذَلِكَ غَضَبًا شَدِيدًا وَ احْمَرَّ وَجْهُهُ ،حَتَّى تَمَنَّيْتُ أَنِّي لَمْ أَذْكُرْهُ لَهُ ،قَالَ : ثُمَّ قَالَ : " قَدْ أُوذِيَ مُوسَى بِأَكْثَرَ مِنْ هَذَا فَصَبَرَ

رسو الله علیه السلاة والسلام غنیمتونه تقسیمول. یو انصاري کس وویل: رسول الله علیه الصلام والسلام په دې تقسیم سره د الله عزوجل رضا و نه غوښته. عبد الله بن مسعود رضی الله عنه وایي: زه رسول الله علیه السلام ته ورغلم او د هغه مبارک په غوږ کې مې ورته خبره وکړه. رسول الله علیه السلام د هغه د دغه خبرې په باره کې ډېر سخت په قهر شو تر دې چې د هغه مبارک رنګ سور واوښت. ما دا ارمان وکړ چې کاش ما ورته هغه خبره نه وه ویلې. عبد الله بن مسعود رضي الله عنه وایي: بیا رسول الله علیه افضل الصلام والسلام وفرمایل:

موسی علیه السلام د دې نه هم ډېر په تکلیف شوی دی، مګر هغه بیا هم صبر کړی و.

بخاری: کتاب لاستئذان ، باب ، اذا کانو أکثر من ثلاثة فلا بلس بالمسارة والمناجاة حدیث: (۶۳۹۱)
مسلم: کتاب الزکاة، باب: اعطاء المؤلفة قلوبهم علی الاسلام و تصبر من قوی ایمانه (۱۰۶۲)

۴: ګناهونه واړه ګڼل او د هغې پروا نه کول آخر د دې سبب ګرځي، چې انسان ته وړه ګناه بیا هېڅ هم نه ښکاري او دغسې انسان چې بیا هر څه کوي هغه ته خپل کار ښه او د شرعې مطابق ښکاري. الله عزوجل فرمایي:

(أَفَمَنْ زُيِّنَ لَهُ سُوءُ عَمَلِهِ فَرَآهُ حَسَنًا ۖ فَإِنَّ اللَّهَ يُضِلُّ مَنْ يَشَاءُ وَيَهْدِي مَنْ يَشَاءُ ۖ فَلَا تَذْهَبْ نَفْسُكَ عَلَيْهِمْ حَسَرَاتٍ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِمَا يَصْنَعُونَ) فاطر

۵: الله عزوجل په هر څه قادر دی لکه په دې حدیث کې چې تیږې منډه کړه او موسی علیه السلام کالي یې د ځانه سره و تښتول.

٦: د بل انسان عورت ته په سترګو کتل که څه هم لویه ګناه ده، خو په ژبه د بل عورت په باره کې خبرې کول تر ټولو لویه ګناه ده. ځکه خو الله عزوجل د موسی علیه السلام عورت خلکو ته وښوده تر څو د خلکو د ژبې نه په امان کې شي. سترګې د یوه ځان پورې محدودې وي، خو ژبه بیا داسې نه وي.

۷: موسی علیه السلام چې تیره ووهله د دې مانا دا ده، چې موسی علیه السلام ډېر زیات حیا ناک و او همدا حال د ټولو نبیانو وو. د ابو سعید الخدري رضی الله عنه د رسول الله علیه السلام د حیا باره

کي فرمايي:

(كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَشَدَّ حَيَاءً مِنَ الْعَذْرَاءِ فِي خِدْرِهَا)

رسول الله عليه الصلاة والسلام د خواني انجلی (چی هغه د واده په شپه په اول ځل خپل میړه وینی) نه هم ډېر حیاء ناک وه .

بخاري واللفظ له: كتاب المناقب، باب: صفة النبي، حديث: (۳۵۶۳)
مسلم: كتاب الفضائل، باب كثرة حيائه صلى الله عليه وسلم، حديث: (۲۳۲۰)

۸: الله عزوجل چې موسی علیه السلام ته ډېري معجزې ورکړې وې لامل یې همدا و، چې بني اسرائیل په زړونو ډېر سخت او سر کشه وو. په تیره باندې د موسی علیه السلام د وهلو نشان څکه پاتی و تر څو بني اسرائیل د هغې معجزې په لیدلو ایمان راوړي او موسی علیه السلام د هغو د اذیت نه خوندی وي.

۱۴ : اولاد د ژوند ښائست دی .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ،قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " لَمَّا خَلَقَ اللَّهُ آدَمَ مَسَحَ ظَهْرَهُ فَسَقَطَ مِنْ ظَهْرِهِ كُلُّ نَسَمَةٍ هُوَ خَالِقُهَا مِنْ ذُرِّيَّتِهِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ ،وَجَعَلَ بَيْنَ عَيْنَيْ كُلِّ إِنْسَانٍ مِنْهُمْ وَبِيصًا مِنْ نُورٍ ،ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى آدَمَ ،فَقَالَ : أَيْ رَبِّ مَنْ هَؤُلَاءِ ؟قَالَ : هَؤُلَاءِ ذُرِّيَّتُكَ ،فَرَأَى رَجُلًا مِنْهُمْ فَأَعْجَبَهُ وَبِيصُ مَا بَيْنَ عَيْنَيْهِ ،فَقَالَ : أَيْ رَبِّ مَنْ هَذَا ؟،فَقَالَ : هَذَا رَجُلٌ مِنْ آخِرِ الْأُمَمِ مِنْ ذُرِّيَّتِكَ يُقَالُ لَهُ : دَاوُدُ ،فَقَالَ : رَبِّ كَمْ جَعَلْتَ عُمْرَهُ ؟،قَالَ : سِتِّينَ سَنَةً ،قَالَ : أَيْ رَبِّ زِدْهُ مِنْ عُمْرِي أَرْبَعِينَ سَنَةً ،فَلَمَّا قُضِيَ عُمْرُ آدَمَ جَاءَهُ مَلَكُ الْمَوْتِ ،فَقَالَ : أَوَلَمْ يَبْقَ مِنْ عُمْرِي أَرْبَعُونَ سَنَةً ؟،قَالَ : أَوَلَمْ تُعْطِهَا ابْنَكَ دَاوُدَ ،قَالَ : فَجَحَدَ آدَمُ ،فَجَحَدَتْ ذُرِّيَّتُهُ ،وَنُسِّيَ آدَمُ فَنَسِيَتْ ذُرِّيَّتُهُ ،وَخَطِئَ آدَمُ فَخَطِئَتْ ذُرِّيَّتُهُ ".

د ابو هريرة رضی الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله عليه افضل الصلاة والسلام وفرمايل:
کله چې الله عزوجل آدم علیه السلام پیدا کړ د هغه په ملا یې لاس تېر کړ (بلاکیف) بیا د هغه د ملا څخه تر قیامته پورې د هغه د را روان نسل روحونه را ووتل او د هغو د سترګو ترمنځ یې د نور یوه رڼا کېښنوده. بیا یې هغوی ټول د آدم علیه السلام مخ ته وړاندې کړل. آدم علیه السلام الله عزوجل ته عرض وکړ: دا څوک دي؟ الله عزوجل ورته وفرمايل: دا ستا اولاده ده. آدم علیه السلام په دغه کسانو کې یو کس ولید، چې د هغه د سترګو په منځ کې هغه د نور رڼا ډېره خوښه شوه عرض یې وکړ: یا الله دا څوک دی؟ الله عزوجل ورته وفرمايل: دا ستا د اولاد د آخري امت یو غړی دی، چې د هغه نوم داؤد دی. آدم علیه السلام بیا عرض وکړ: یا الله د ده عمر څو کاله دی؟ الله عزوجل وفرمايل: شپېته کاله.

آدم علیه السلام عرض وکړ: یاالله زما د عمر نه څلوېښت کاله ده ته ورکړه! کله چې د آدم علیه السلام عمر پوره شو، نو د مرگ فرښته ورته راغله. آدم علیه السلام ورته وویل: آیا زما د عمر څلوېښت کاله نه دي پاتې؟! فرښتې ورته وویل: آیا تا هغه خپل ځوی داؤد علیه السلام ته نه و ورکړی ؟!!! ابو هریره رضی الله عنه وایي: بیا رسول الله علیه افضل الصلاة والسلام وفرمایل: آدم علیه السلام انکار وکړ، نو له دې امله یې بچیو (نسل ، اولاده) هم انکار وکړ. آدم علیه السلام هیر شول د هغه د اولادونو هم د هیر شول. آدم علیه السلام تېر ووت د هغه اولادونه هم تیر وتل.

دحدیث تخریج:

ترمذی و قال حدیث حسن صحیح: أبواب تفسیر القرآن عن رسول الله، باب من سورة الاعراف حدیث: (۳۰۷۶)

د حدیث فائدې:

۱: آدم علیه السلام د ټولو انسانو پلار دی .

۲ : په دې حدیث کې د الله عزوجل د انسانو په پیدا کولو او د هغوی په مرگ او بیا په ژوندي کولو د قدرت ذکر راغلی دی.

۳: د سالم او ښه فطرت لرونکی انسان په مخ کې نور وي لکه په دې حدیث کې چې د آدم علیه السلام د اولادونو د سترگو په منځ کې یو نور و، څکه هغوی گناهونه نه و کړي او گناهونو څخه پاک و.

۴: په دې حدیث کې د دې ذکر هم شوی، چې آدم علیه السلام خپل اولادونه د انسانانو په شکل لیدلي وو او ددغه حدیث په یوه برخه کې راغلي چې: آدم علیه السلام په دې خلکو کې یو داسې سړی هم ولید، چې د هغه د سترگو ترمنځ سپینوالی او نور د ده ډېر خوښ شو.

۵: د الله عزوجل دا قول چې د داود علیه السلام په باره کې یې آدم علیه السلام ته وفرمایل: دا کس د آخرني امتونو څخه یو دی. د دې دا مانا نه ده، چې د آخرني امت څخه دي د رسول الله علیه السلام امت مراد وي.

٦: د مور او پلار بعضې عادات د هغوی بچیو ته هم انتقالیږی لکه په حدیث کې چې یې ذکر راغلی.

۱۵ : تر ټولو ښه ضامن الله دی .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَّهُ ذَكَرَ رَجُلاً مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ سَأَلَ بَعْضَ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَنْ يُسْلِفَهُ أَلْفَ دِينَارٍ فَقَالَ: ائْتِنِي بِالشُّهَدَاءِ أُشْهِدُهُمْ. فَقَالَ: كَفَى بِاللَّهِ شَهِيدًا. قَالَ: فَأْتِنِي بِالْكَفِيلِ . قَالَ: كَفَى بِاللَّهِ كَفِيلاً. قَالَ: صَدَقْتَ فَدَفَعَهَا إِلَيْهِ إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى، فَخَرَجَ فِي الْبَحْرِ فَقَضَى حَاجَتَهُ ، ثُمَّ الْتَمَسَ مَرْكَبًا يَرْكَبُهَا يَقْدَمُ عَلَيْهِ لِلْأَجَلِ الَّذِي أَجَّلَهُ فَلَمْ يَجِدْ مَرْكَبًا ، فَأَخَذَ خَشَبَةً فَنَقَرَهَا فَأَدْخَلَ فِيهَا أَلْفَ دِينَارٍ وَصَحِيفَةً مِنْهُ إِلَى صَاحِبِهِ ثُمَّ زَجَّجَ مَوْضِعَهَا ثُمَّ أَتَى بِهَا إِلَى الْبَحْرِ، فَقَالَ: اللَّهُمَّ إِنَّكَ تَعْلَمُ أَنِّي كُنْتُ تَسَلَّفْتُ فُلَانًا أَلْفَ دِينَارٍ فَسَأَلَنِي كَفِيلَا فَقُلْتُ: كَفَى بِاللَّهِ كَفِيلَا فَرَضِيَ بِكَ، وَسَأَلَنِي شَهِيدًا فَقُلْتُ: كَفَى بِاللَّهِ شَهِيدًا فَرَضِيَ بِكَ، وَأَنِّي جَهَدْتُ أَنْ أَجِدَ مَرْكَبًا أَبْعَثُ إِلَيْهِ الَّذِي لَهُ فَلَمْ أَقْدِرْ وَإِنِّي أَسْتَوْدِعُكَهَا فَرَمَى بِهَا فِي الْبَحْرِ حَتَّى وَلَجَتْ فِيهِ ثُمَّ انْصَرَفَ وَهُوَ فِي ذَلِكَ يَلْتَمِسُ مَرْكَبًا يَخْرُجُ إِلَى بَلَدِهِ، فَخَرَجَ الرَّجُلُ الَّذِي كَانَ أَسْلَفَهُ يَنْظُرُ لَعَلَّ مَرْكَبًا قَدْ جَاءَ بِمَالِهِ ؛فَإِذَا بِالْخَشَبَةِ الَّتِي فِيهَا الْمَالُ فَأَخَذَهَا لِأَهْلِهِ حَطَبًا،فَلَمَّا نَشَرَهَا وَجَدَ الْمَالَ وَالصَّحِيفَةَ ، ثُمَّ قَدِمَ الَّذِي كَانَ أَسْلَفَهُ فَأَتَى بِالْأَلْفِ دِينَارٍ، فَقَالَ: وَاللَّهِ مَا زِلْتُ جَاهِدًا فِي طَلَبِ مَرْكَبٍ لِآتِيَكَ بِمَالِكَ فَمَا وَجَدْتُ مَرْكَبًا قَبْلَ الَّذِي أَتَيْتُ فِيهِ ، قَالَ: هَلْ كُنْتَ بَعَثْتَ إِلَيَّ بِشَيْءٍ ؟ قَالَ : أُخْبِرُكَ أَنِّي لَمْ أَجِدْ مَرْكَبًا قَبْلَ الَّذِي جِئْتُ فِيهِ ، قَالَ: فَإِنَّ اللَّهَ قَدْ أَدَّى عَنْكَ الَّذِي بَعَثْتَ فِي الْخَشَبَةِ فَانْصَرِفْ بِالْأَلْفِ الدِّينَارِ رَاشِدًا .

د ابو هريرة رضی الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله عليه افضل الصلاة والسلام د بني اسرائيلو د یوه کس ذکر کاوه چې:هغه د یوه بل کس نه زر ديناره قرض وغوښت هغه ورته وويل: داسې شاهدان راوله چې زه د هغوی په شاهدي اعتبار ولرم. قرض غوښتونکي ورته وويل: چې د الله عزوجل شاهدول کافي دي. قرض ورکونکي ورته بیا وويل:کوم ضامن راکړه. قرض غوښتونکي ورته وويل: الله عزوجل د ضمانت لپاره کافي دی. قرض ورکونکي ورته وويل: تا رښتیا وويل او د یوه ټاکلي وخت لپاره يې هغه ته قرض ورکړ.

قرض اخيستونکی د څه کار لپاره د بحر په لاره په سفر لاړ، کله چې هغه خپل کار سرته ورسوه (حاجت يې پوره شو) نو د کشتۍ په تلاش کې و تر څو بېرته په خپل ټاکلي وخت کې قرض دار ته قرض ورکړي، مګر هغه ته کشتۍ پيدا نه شوه. هغه يو لرګی را واخیست او په هغه کې يې سوری وکړ بیا يې زر ديناره او يو خط چې دده له خوا هغه قرض اخیستونکي ته يې ليکلی و په دغه سوري کې کېښودل هغه سوری يې بند کړ او د بحر خواته راغی او ويې ويل: ياالله ته خبر يې چې ما د فلاني نه زر ديناره قرض غوښتی ول او هغه رانه ضامن غوښتی وه او ما هغه ته ويلي ول، چې زما له لوري زما الله ضامن کافي دی او هغه هم په تا راضي شوی و هغه له ما څخه شاهد غوښتی و ما ورته وويل: زما له

لوري زما د الله شاهدي كافي ده او هغه په دې رضا شو. ای الله! ته پوهیږې چې ما ډېر کوشش وکړ چې کومه بار وړونکې کشتۍ پیدا کړم چې د هغه قرض په ټاکلي وخت ور ورسوم، مگر زه په دې کامیاب نه شوم، نو اوس یې زه دا (قرض) تاته سپارم. دغسې هغه سړی هغه لرگی چې په هغه کې پیسې او خط و بحر ته وغورځاو هغه لرگی په اوبو کې و، هغه قرضدار یې بیا هم د دې په لټه کې و چې کشتۍ پیدا کړي او خپل ښار ته لاړ شي. بله خوا هغه کس چې قرض یې ورکړی و د بحر په غاړه په دې انتظار و، چې کېدای شي کومې کشتۍ د ده مال راوړی وي. هغه په همدې انتظار کې و، چې په اوبو کې یې یو لرگی ولید. هغه یې را واخیسته تر څو هغه کور ته یوسي او ویې سوځوي، کله چې یې هغه لرگی مات کړ په هغه کې یې پیسې او خط ولیده.

څه وخت وروسته هغه کس هم راغی چا چې قرض اخیستی و، هغه د زرو دینارو سره هغه کس ته راغی چې د چا نه یې قرض اخیستی وه (هغه دا سوچ کاوه چې کېدای شي چې هغه د چا نه قرض اخیستی وه هغه ته خپلی پیسې نه وي ور رسیدلي) او ورته یې وویل: قسم په رب ! چې ما ډېر کوشش وکړ چې کومه کشتۍ پیدا شي او زه په وخت ستا قرض بېرته تاته وسپارم خو کامیاب نه شوم، مگر نن ایله کامیاب شوم او راغلم. هغه کس ورته وویل: دا راته ووایه چې تا زما په نوم څه را لېږلي و ؟ قرض داره ورته وویل: همدا درته وایم چې زه په دې ونه توانیدم چې کومه کشتې مې پیدا کړې وه، مگر نن وتوانیدم او راغلم. قرض ورکونکي ورته وویل: الله عزوجل ستا هغه قرض اداء کړ کوم چې تا زما په نوم په لرگي کې رالیږلی و، قرضدار په خوشحالي سره د خپلو زرو دینارو سره بېرته ستون شو.

دحدیث تخریج:

بخاری : کتاب الکفالة ،باب الکفالة في القرض والدیون بالأبدان وغیرها (۲۲۹۱) . اوپه کتاب الزکاة ،باب : ما یستخرج من الماء (۱۴۹۸) اوپه کتاب البیوع ،باب : التجارة في البحر کې مختصر روایت (۲۰۶۳) ،همداسی بخاري په کتاب الاستقراض والدیون ،باب : اذا أقرضه الی أجل مسمی أو أجله فی لبیع کې په مختصر ډول راوړی، (۲۴۰۴) ،او په کتاب الشروط ،باب : الشروط في القرض کې په مختصر ډول راوړی دی،(۲۷۳۴)

د حدیث فائدې:

۱: پورتنی کیسه مونږ ته دا رابنیي چې په بني اسرائیلو کې خیر او عدل شتون درلود.

۲: تر ټولو بهترین شاهد او کفیل الله عزوجل دی، څکه خو په دغه حدیث کې هغه سړي ویلی ول: (ائْتِنِي بِالشُّهَدَاءِ أُشْهِدُهُمْ. فَقَالَ: كَفَى بِاللَّهِ شَهِيدًا. قَالَ: فَأْتِنِي بِالْكَفِيلِ . قَالَ: كَفَى بِاللَّهِ كَفِيلاً.) .

۳: په خپل وخت کې قرض ورکول تر ټولو اولنیو حقوقو او واجباتو څخه دی.

۴: په یقین سره دعا کول د دعا د قبلېدلو سبب گرځي خو د اسبابو لټول هم مهم دي لکه په دغه پورتنۍ کیسه کې چې دغه سړي په شپږو ځایونو کې د اسبابو د پیدا کولو کوشش کاوه.

الف: د هغه دا کوشش تر څو یوه کشتۍ پیدا کړي، خو هغه کامیاب نشو.

ب: د هغه سړي خبره چې ما ډېر کوشش وکړ خو کامیابه نه شوم.

ج: د لرګي پیدا کول او هغه سوری کول.

د: تر هغې د هغه ځایه لاړ نه، تر څو چې هغه لرګی په بحر کې روان نشو.

ه: څه وخت یې چې لرګی اوبو ته وغورځاوه د هغې نه وروسته بیا هم د کشتۍ په لټه کې و.

و: هغه سړی د ځانه سره زر دیناره اضافي هم را اخیستي و تر څو خپل قرض په صحیح توګه ادا کړي.

۵: رحمن او رحیم رب د هغه سړي دعا قبوله کړه او هغه لرګی چې ده په کې پیسې ایښې وې هغه خپل حقداره ته ورسېدلې، کله چې هغه په بحر کې لرګی ولید نو هغه یې را واخیسته تر څو تربنه په کور کې ګټه واخلي، خو په هغه کې یې پیسې ولیدلې.

٦: د هر هغه کارونو او خبرو نه ځان ساتل په کار دي، چې د هغې له امله دعا نه قبلېږي لکه: حرام او د غلا مال، رشوت، سود او داسې نور. أبو هريره رضی الله عنه نه روایت دی چې وایي: رسول الله علیه افضل الصلاة والسلام وفرمایل:

(الرَّجُلَ يُطِيلُ السَّفَرَ أَشْعَثَ أَغْبَرَ يَمُدُّ يَدَهُ إِلَى السَّمَاءِ يَارَبِّ يَا رَبِّ وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ وَغُذِّيَ بِالْحَرَامِ فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لِذَلِكَ).

هغه کس چې ډېر اوږده سفرونه کوي او په ګردونو او دوړو کې پټ وي خپل لاسونه یې د آسمان لورته نیولي وي او داسې دعا کوي، چې یارب! یارب حال دا چې د هغه خوراک هم حرام وي، څښاک یې هم حرام وي، لباس یې هم حرام وي او غذا یې هم حرامه وي آیا د هغه دعا به قبوله شي.

مسلم: كتاب الزكاة، باب: قبول الصدقة من الكسب الطيب وتربيتها (١٠١٥)
ترمذي: ابواب تفسير القرآن باب، ومن سورة البقرة (٢٩٨٩)

٨: هر انسان باید په دې پوه شي، چې هغه چا چې ده ته یې قرض ورکړی هغه به خپل مال ته سخت اړ او محتاج وي لکه په دغه حدیث کې چې راغلي و چې هغه سړي د بحر غاړې ته تللی و تر څو وګوري چې کومه کشتۍ خو د ده مال نه دی راوړی.

۹: د الله عزوجل نه وېره کول د ژوندانه د آسانی سبب ګرځي، څکه خو اول ته الله عزوجل خپل مال وسپاره او هغه بل اضافي زر درهمه د ځانه سره را اخیستی و او هغه سړي ته ورغی چې هسې نه ده ته خپل مال نه وي رسیدلی او دا ورکړي، خو هغه ورته وویل: چې ماته مال را رسیدلی. الله عزوجل فرمایلی:

(ومن يتق الله يجعل له مخرجا) .

الله عزوجل دې ما او تاسو د رسول الله علیه افضل الصلاة والسلام د دغه دعا په کسانو کې وګرځوي چې وایي:

اللهم اکفني بحلالک عن حرامک .

۱۶: د الله عزوجل عظمت او د هغه نه ویره.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ – صلى الله عليه وسلم – قَالَ « رَأَى عِيسَى رَجُلاً يَسْرِقُ ،فَقَالَ لَهُ: أَسَرَقْتَ ؟ قَالَ :كَلاَّ وَاللَّهِ الَّذِى لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ . فَقَالَ عِيسَى : آمَنْتُ بِاللَّهِ ،وَكَذَّبْتُ عَيْنِى.

د ابو هريرة رضی الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله علیه افضل الصلاة والسلام وفرمایل:

عیسی علیه السلام یو سړی په غلا کولو ولید، هغه ته يې وويل: تا غلا وکړه ؟ هغه ورته ځواب ورکړ: زما دې په هغه الله قسم وي چې د هغه نه بغیر بل څوک د عبادت لائق نه دی ما غلا نه ده کړې عیسی علیه السلام وویل: ما په الله ایمان راوړ او په خپلو سترګو دوکه شوم (په سترګو لیدل شوی حال دروغ ګڼم).

دحديث تخريج :

بخاری واللفظ له: كتاب احاديث الأنبياء، باب قول الله تعالى (واذكر فى الكتب مريم اذ انتبذت من أهلها، حديث (۳۴۴۴)

مسلم: كتاب الفصائل، باب فضائل عيسى عليه السلام، حديث: (۲۳۶۸)

نسايي: كتاب أداب القضاء، باب كيف يستحلف الحاكم، حديث (۵۴۲۹)

ابن ماجة: ابواب الكفارات، باب من حلف بملة غير الاسلام، حديث (۲۱۰۲)

د حديث فائدې :

۱: د نبیانو او مؤمنو دا صفت دی چې که په ظاهره یو څه ویني، نو بیا هم د هغې په باره کې پوښتنه کوي لکه په دغه مبارک حدیث کې چې عیسی علیه السلام هغه کس ولید، چې غلا يې وکړه او بیا يې هم ورته وویل: چې غلا دې وکړه ؟ تر څو نوره هم روښانه شي.

۲: څوک چې قسم کوي هغه ته په کار دي، چې هغه رښتونی وي څکه د عمران بن حصين رضی الله عنه نه روايت دی چې وايي: رسول الله علیه افضل الصلاة والسلام وفرمایل:

(مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ مَصْبُورَةٍ كَاذِبًا ،فَلْيَتَبَوَّأْ بِوَجْهِهِ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ).

چا چې د دروغو قسم (د کوم مشر او یا حاکم په مخکې) وخوړ، نو هغه دې په جهنم کې د خپل مخ ځای جوړ کړي.

بي داود: اول كتاب النذور والايمان، باب: التلغيظ فى اليمين الفاجرة (۳۲۴۲).

۳: د قسم لویوالی عیسی علیه السلام دیته مجبور کړ، چې هغه ووايي چې ما په الله ایمان راوړی دی او زما نفس زه د دوکې ښکار کړم.

۴: عیسی علیه السلام چې خپل ځان دروغژن وګاڼه دا څو اسباب لري.

الف: دغه سړی چې دغه مال ور سره و کېدای شي په هغه مال کې د ده حق و.

ب: کېدای شي د مال څښتن هغه ته د اخیستلو اجازه ورکړي وي او یا هم د مال څښتن هغه ته دغه مال په خپله ورکړی وي.
ج: کېدای شي د هغه نیت د دغه مال اخیستلو نه غلا او غصب نه وه.
د: کېدای شي عیسی علیه السلام ته داسې برېښیدلي وي، چې هغه څه واخیستل، څکه هغه سړی چې قسم وخوړ عیسی علیه السلام تېر شو او هغه یې پرېښود.
هـ: په خلکو باید تل د ښو گومان وشي

۱۷ : جنت کی هر هغه څه شته چی انسان یی وغواړي.

عنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، " أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَوْمًا يُحَدِّثُ وَعِنْدَهُ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْبَادِيَةِ : (أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ اسْتَأْذَنَ رَبَّهُ فِي الزَّرْعِ ،فَقَالَ لَهُ : أَولَسْتَ فِيمَا شِئْتَ ؟ قَالَ : بَلَى ،وَلَكِنِّي أُحِبُّ أَنْ أَزْرَعَ ،فأسرَعَ وبَذَرَ ،فَتَبَادَرَ الطَّرْفَ نَبَاتُهُ وَاسْتِوَاؤُهُ وَاسْتِحْصَادُهُ و تَكويرُهُ أَمْثَالَ الْجِبَالِ ،فَيَقُولُ اللَّهُ تعالى : دُونَكَ يَا ابْنَ آدَمَ،فَإِنَّهُ لَايُشْبِعُكَ شَيْءٌ)،فَقَالَ الْأَعْرَابِيُّ : يا رَ سُولَ اللَّهِ لَاتَجِدُ هذا إِلَّا قُرَشِيًّا أَوْ أَنْصَارِيًّا ،فَإِنَّهُمْ أَصْحَابُ زَرْعٍ ،وَأَمَّا نَحْنُ فَلَسْنَا بِأَصْحَابِ زَرْعٍ ،فَضَحِكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

د ابو هریرة رضی الله عنه نه روایت دی، چې یوه ورځ رسول الله علیه افضل الصلاة والسلام خبرې کولې او په دغه وخت کې هلته یو کوچی (شپون) هم ناست و رسول الله علیه افضل الصلاة والسلام وفرمایل:
په جنت کې یو جنتي د الله عزوجل نه د کرنې اجازت وغوښت. الله عزوجل ورته وفرمایل : آیا هغه څه چې ته یې غواړې نه یې لرې؟ هغه ورته وویل: ولي نه؟!! خو زه غواړم کرنه وکړم هغه سمدستي کرنه وکړه او د هغه کرنه غټه شوه او بیا هغه اواره شوه او مېوه یې ونیوله او د غرونو په اندازه یې ذخیره شوه. الله عزوجل به ورته و وایي : ای بني آدمه ! دا واخله ، تا هیڅ شی هم نشی مړولی ، هغه کوچی (شپون) و ویل : ای د الله رسوله ! دا به کوم قریشی یا انصاري وی څکه همدا خلک دهقانان (زمینداران) دی مونږه خو دهقانان نه یو ، رسول الله علیه افضل الصلاة والسلام د شپون په دی خبره وخندل .

دحدیث تخریج :

بخاری: کتاب التوحید ، باب کلام الرب مع أهل الجنة، حدیث (۷۵۱۹) او په کتاب المزارعة ، باب : کراء لأرض بالذهب والفضة (۲۳۴۸)

د حدیث فائدې :

۱: رسول الله علیه الصلاة والسلام به صحابه رضی الله عنهم جنت ته تشویقول او د جنت کیسې به يې ورته کولې.
۲: جنتیان به د الله عزوجل سره خبرې کوي.
۳: په جنت کې د نفس شهوات او غوښتنې پوره کېږی لکه څنګه چې په دغه حدیث کې هغه جنتي د کرني سوال کړی و او الله عزوجل د هغه سوال قبول کړ. الله عزوجل فرمایلی:
(وَلَكُمْ فِيهَا مَاتَشْتَهِي أَنْفُسكُمْ وَلَكُمْ فِيهَا مَاتَدَّعُونَ) ، فصلت ۳۱ ایت .

۴: په جنت کې چې انسان د دنیاوی شیانو نه څه وغواړي هغه ورته حاصلیږی.
۵: که انسان لږ سوچ وکړي، نو په دې به پوه شي چې هغه د دنیا لپاره نه دی پیدا شوی، ځکه که یو کس ټوله دنیا هم ولري، نو هغه پرې نه مړیږی.
٦: د هغه کوچې خبرې ته د رسول الله علیه الصلاة والسلام خندا کول دا ثابتوي چې رسول الله علیه الصلاة والسلام ډیره زیاته تواضع درلودله.

۱۸ : ځان وژنه .

عن جُنْدَبُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الْبَجَلِيُّ قال : قَالَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ رَجُلًا مِمَّنْ كَانَ قَبْلَكُمْ ،خَرَجَتْ بِهِ قُرْحَةٌ ،فَلَمَّا آذَتْهُ ،انْتَزَعَ سَهْمًا مِنْ كِنَانَتِهِ فَنَكَأَهَا ،فَلَمْ يَرْقَإِ الدَّمُ حَتَّى مَاتَ ،قَالَ رَبُّكُمْ : " قَدْ حَرَّمْتُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ " .

د جندب بن عبدالله رضی الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله علیه افضل الصلاةوالسلام وفرمایل: په مخکنیو خلکو کې په یوه کس دانه را وخته. کله چې هغه د دغې دانې نه ډېر په تکلیف شو، نو هغه د خپلو غشو د کڅوړې نه یو غشی را وویست او هغه دانه یې پرې څیری کړه او هغه د وینې د نه بندېدو له امله مړ شو. رسول الله علیه افضل الصلاة والسلام وفرمایل: الله عزوجل وفرمایل: ما په هغه جنت حرام کړ.

دحدیث تخریج :

بخاری: کتاب أحادیث الأنبیاء، باب ما ذکر عن بني اسرائیل، حدیث: (۳۴۶۳) او بخاري په کتاب الجنائز، باب: ما جاء فی قاتل النفس (۱۳۶۴)
مسلم وللفظ له: کتاب الایمان، باب: بیان غلظ تحریم قتل الانسان نفسه ... حدیث(۱۱۳) .

د حدیث فائدې:

۱: ځان وژنه حرامه ده او په ځان وژونکي جنت حرام دی.

۲: په ځان وژونکي جنت حرام دی، ځکه کېدای شي هغه خپله وژنه داسې حلاله ګڼلي وي لکه یو کس چې شراب حلال ګڼي، نو د هغوی ځای بیا دایمي جهنم دی.

۳: چې ځان وژنه حرامه شوه، نو د بل وژنه خو بیخي حرامه ده.

۴: د الله حدودو ته تسلېمېدل ځکه زمونږ نفسونه زمونږه نه دي بلکې دا د الله عزوجل امانت دی.

الله عزوجل فرمایلی:

(تِلْكَ حُدُودُ اللّهِ فَلاَ تَعْتَدُوهَا وَمَن يَتَعَدَّ حُدُودَ اللّهِ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ) . دبقرې سورت ۲۲۹ آیت.

دا ذکر شوي شیان د الله حدود دی، نو تاسو د الله عزوجل له حدودو څخه مه تېرېږئ او هغه څوك چې د الله د حدود څخه تېرېږي، نو همدغه کسان ظالمان دي.

۵: هر هغه شی چې انسان وژنې ته نزدې کوي هغه حرام دی.

۶: په هر څه صبر کول تر څو انسان داسې حال ته ونه رسېږی، چې هغه بیا د اولني حال نه ډېر دردناک او سخت وي. الله عزوجل فرمایلی:

(وَلَنَبْلُوَنَّكُم بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الأَمْوَالِ وَالأنفُسِ وَالثَّمَرَاتِ ۗ وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ) بقرة ۱۵۵.

او مونږ تاسو په یوه شي آزمویو، چې هغه عبارت دی د دښمن له وېره، لوږې (قحطی) او د مالونو نفسونو او د مېوو کموالی ده او صبر کونکو ته زیری ورکړه.

۱۹ : د الله عزوجل رحمت .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ،عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ،قَالَ : "كَانَ رَجُل يُسْرِفُ عَلَى نَفْسِهِ فَلَمَّا حَضَرَهُ الْمَوْتُ،قَالَ لِبَنِيهِ : إِذَا أَنَا مُتُّ فَأَحْرِقُونِي ثُمَّ اطْحَنُونِي ثُمَّ ذَرُّونِي فِي الرِّيحِ ، فَوَ اللهِ لَئِنْ قَدَرَ الله عَلَيَّ رَبِّي لَيُعَذِّبَنِّي عَذَابًا مَا عَذَّبَهُ أَحَدًا ،فَلَمَّا مَاتَ فُعِلَ بِهِ ذَلِكَ فَأَمَرَ اللَّهُ تعالى الْأَرْضَ ، فَقَالَ : اجْمَعِي مَا فِيكِ مِنْهُ ،فَفَعَلَتْ فَإِذَا هُوَ قَائِمٌ ،فَقَالَ : مَا حَمَلَكَ عَلَى مَا صَنَعْتَ ؟،قَالَ : يَا رَبِّ خَشْيَتُكَ حَمَلَتنِي ، فَغَفَرَ لَهُ ،وَقَالَ غَيْرُهُ مَخَافَتُكَ يَارَبِّ " .

د ابو هريرة رضی الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله عليه افضل الصلاة والسلام وفرمايل:
يو کس چې هر وخت به يې خپل وخت عبث تېراوه (د ګناهونو په کولو به اخته و او د حد نه زياته ګناه به يې کوله) کله چې يې مر ګ را نږدې شو خپلو بچيو ته يې وويل: کله چې زه مړ شوم ما وسوځوئ او بيا مې اوړه کړئ او بيا مې د باد په خوله ورکړئ (په باد کی می خوشی کړی چی باد می ويسی)، والله! که رب مې راباندې قوت وموند نو داسې عذاب به راکړې چې چاته يې هم نه وي ورکړی، کله چې مړ شو نو يې اولاد هغه څه ورسره وکړل چې ده يې وصيت کړی وو، بيا الله تعالی ځمکې ته امر وکړ، چې د ده اجزاء را غونډ کړي، ځمکې همداسې وکړل او دی (د الله تعالی په وړاندې) ولاړ وو، الله تعالی ځنې وپوښتل: ولې دې داسې وکړل؟ ده ورته عرض وکړه ربه! ستا له وېرې، نو الله تعالی هغه وبانښه.

د حديث تخريج :

بخاری وهذا لفظه: کتاب أحاديث الأنبياء، باب حديث الغار: حديث (۳۴۸۱) او (۳۴۷۸) او (۳۴۷۹) او په کتاب التوحيد، باب: قول الله:(يريدون أن يبدلوا کلم الله) حديث (۷۵۰۶)او بخاری همداسې په کتاب: الرقاق، باب: الخوف من الله، حديث: (۶۴۸۱)
مسلم: کتاب التوبة، باب فی سعة رحمة الله تعالی و أنها تغلب غضبه: حديث (۳۷۵۶)
نسايي: کتاب لجنائز، معجم (باب) ارواح المؤمنين، حديث (۲۰۸۱)
ابن ماجة: أبواب الزهد، باب: ذکر التوبة (۴۳۵۵)

د حدیث فایدې :

۱: هر مؤمن ته پکار دي چې د ګناه د کولو نه ځان وساتي، ځکه شیطان بیا په آخر کې انسان د مغفرت نه مایوسه کوي.

۲: هر هغه کس چې ډېر ګناهونه یې کړی وي هغه ته پکار دي، چې توبه اوباسي او د لله عزوجل د رحمت نه مایوسه نه شي.

۳: کله نا کله دوالدینو جهل بچیانو کې هم پاتې کېږی لکه دغه پورتنی کیسه کې چې پلار خپلو بچیو ته ویلي وو، چې کله زه مړ شوم نو ما وسوځوئ او ایرې یې باد ته خوشې کړئ.

۴: الله عزوجل د انسان په بیا پیدا کولو قادر دی لکه په دغه حدیث کې چې الله عزوجل ځمکې ته امر کړئ.

۵: د الله عزوجل رحمت د هغه د غضب نه مخکې دی. د ابو هریرة رضی الله عنه نه روایت دی، چې وایي رسول الله علیه افضل الصلاة والسلام وفرمایل:

(إِنَّ اللَّهَ لَمَّا قَضَى الْخَلْقَ كَتَبَ عِنْدَهُ فَوْقَ عَرْشِهِ إِنَّ رَحْمَتِي سَبَقَتْ غَضَبِي) ،

ژباړه: الله عزوجل چې کله مخلوقات پیدا کړ د عرش دپاسه یې ولیکل: زما رحمت په غضب باندې مخکې دی.

بخاري: کتاب التوحید، باب: و کان عرشه علی الماء (۷۴۲۳)
مسلم: کتاب التوبة، باب: فی سعة رحمة الله تعالی، وأنها تغلب غضبه (۲۷۵۱)
ترمذي: ابواب الدعوات، باب: ان رحمتی تغلب غضبی (۳۵۴۳) ابن ماجة: (۴۲۹۵)

۲۰ : د الله عزوجل ښښنه .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ،عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ،قَالَ : " إِنَّ رَجُلًا لَمْ يَعْمَلْ خَيْرًا قَطُّ وَكَانَ يُدَايِنُ النَّاسَ ،فَيَقُولُ لِرَسُولِهِ : خُذْ مَا تَيَسَّرَ ،وَ اتْرُكْ مَا عَسُرَ ،وَ تَجَاوَزْ لَعَلَّ اللَّهَ تَعَالَى أَنْ يَتَجَاوَزَ عَنَّا ،فَلَمَّا هَلَكَ . قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ لَهُ : هَلْ عَمِلْتَ خَيْرًا قَطُّ ؟ . قَالَ : لا ،إِلَّا أَنَّهُ كَانَ لِي غُلَامٌ وَكُنْتُ أُدَايِنُ النَّاسَ ،فَإِذَا بَعَثْتُهُ لِيَتَقَاضَى ،قُلْتُ لَهُ : خُذْ مَا تَيَسَّرَ وَ اتْرُكْ مَا عَسُرَ وَ تَجَاوَزْ لَعَلَّ اللَّهَ يَتَجَاوَزُ عَنَّا . قَالَ اللَّهُ تَعَالَى : قَدْ تَجَاوَزْتُ عَنْكَ .

د ابی هریرة رضی الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله علیه افضل الصلاة والسلام وفرمایل:

یو کس هېڅ ښه کار نه و کړی، مګر هغه خلکو ته قرض ورکاوه هغه به خپل استازي ته(چې د قرضونو پسې به یې لیږه) ویل: خلکو ته چې څه اسانه وو هغه اخله او چې ورته ګران وو هغه پرېږده او در ګذر کوه کېدای شي الله عزوجل مونږ ته(دګناهونو په ښنلو کې) در ګذر وکړي. کله چې دغه کس مړ شو الله عز وجل ورته وفرمایل: آیا تا کوم نیک کار کړی؟ هغه ورته وویل: نه! مګر ما به خلکو ته قرض

ورکاوه او زما یو غلام و کله به چې هغه د قرض د پیسو راوړلو پسی ته، نو ما به هغه ته ویلې: ځه چې درته خلک په اسانی درکوي هغه اخله او د هغوی سره سختي مه کوه او ښننه ورته کوه کېدای شي الله عزوجل مونږ ته (په دغه کار) ښننه وکړي. الله عزوجل ورته وفرمایل: ما هم ته معاف کړی.

دحدیث تخریج :

بخاري: کتاب لبیوع ، باب من أنظرمعسرا، حدیث: (۲۰۷۸)او په أحدیث الأنبیاء، باب: حدیث الغار، حدیث (۳۴۸۰)

مسلم: کتاب المساقاة، باب فضل انظار المعسر والتجاوز فی الاقتضاء من الموسر والمعسر، حدیث: (۱۵۶۲)

ترمذي د أبی مسعود نه د الفاظو په اختلاف راویت کړی دی. ابواب البیوع عن رسول الله، باب: ماجاء فی انظار المعسر والرفق به (۱۳۰۷)

سنن النسایي و هذا لفظه : کتاب البیوع، باب: حسن المعاملة والرفق فی المطالبة، حدیث (۴۶۹۸)

د حدیث فائدې :

۱: په معامله کې اساني او نرمي د عذاب څخه د خلاصون سبب گرځي. د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دی. چې وایي رسول الله علیه افضل الصلاة والسلام وفرمایل:

(أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِمَنْ يَحْرُمُ عَلَى النَّارِ أَوْ بِمَنْ تَحْرُمُ عَلَيْهِ النَّارُ عَلَى كُلِّ قَرِيبٍ هَيِّنٍ سَهْلٍ).

آیا زه تاسو ته داسي څوک در ونه ښیم چې په هغه د دوزخ اور حرام دی او هغه د دوزخ پر اور حرام دی ؟ هغه، هغه کس دی چې خپلوانو ته اساني او سهولت ورکوي.

ترمذي: أبواب صفة القیامة(والرقائق والورع عن رسول الله) باب: فضل کل قریب هین سهل (۳۴۸۸)

۲: د قیامت په ورځ هېڅوک هم دروغ نه شي ویلی او نه هم څه پټولی شي.

۳: په نورو رحم او په په سختیو کې د هغوی سره مرسته د الله عزوجل د رضاء سبب گرځي لکه په پورتنی کېسه کې چې الله عزوجل هغه بنده ته چې هغه هېڅ نېک عمل نه و کړی وویل: ما ستا گناهونه وبښل.

۲۱ : په ښه انداز دعوت د نجات سبب گرځي .

عن أَبِي هُرَيْرَةَ قال : سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ : (كَانَ رَجُلَانِ فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ مُتَوَاخِيَيْنِ ،فَكَانَ أَحَدُهُمَا يُذْنِبُ وَالْآخَرُ مُجْتَهِدٌ فِي الْعِبَادَةِ ،فَكَانَ لَايَزَالُ الْمُجْتَهِدُ يَرَى الْآخَرَ عَلَى الذَّنْبِ فَيَقُولُ : أَقْصِرْ ،فَوَجَدَهُ يَوْمًا عَلَى ذَنْبٍ فَقَالَ لَهُ : أَقْصِرْ . فَقَالَ : خَلِّنِي وَرَبِّي أَبُعِثْتَ عَلَيَّ رَقِيبا ،فَقَالَ : وَاللَّهِ لَايَغْفِرُ اللَّهُ لَكَ ،أَوْ لَا يُدْخِلُكَ اللَّهُ الْجَنَّةَ ،فَقَبَضَ أَرْوَاحَهُمَا فَاجْتَمَعَا عِنْدَ رَبِّ

الْعَالَمِينَ ،فَقَالَ لِهَذَا الْمُجْتَهِدِ : أَكُنْتَ بِي عَالِمًا ؟أَوْ كُنْتَ عَلَى مَا فِي يَدِي قَادِرًا ؟ وَقَالَ لِلْمُذْنِبِ : اذْهَبْ فَادْخُلْ الْجَنَّةَ بِرَحْمَتِي،وَقَالَ لِلآخَرِ : اذْهَبُوا بِهِ إِلَى النَّارِ).

د ابو هريرة رضی الله عنه نه روايت دی چې وايې: ما درسول الله عليه افضل الصلاة والسلام نه واورېدل چې ويل يې:

په بني اسرائيلو کې دوه کسانو يو بل ته ورور ويلي وو. يو به په گناهونو کې مشغول و او بل به په عبادت کې ډېر کوشش کاوه ،عبادت کونکي به چې کله هم هغه بل په گناهونو کې غرق ليد، نو هغه ته به يې د گناه د پرېښودلو وصيت کاوه. هغه يوه ورځ هغه په گناه کولو وليد نو ورته يې وويل: داسې مه کوه! هغه ورته وويل: ما خپل رب ته پرېږده. آيا ته زما د حال او اعمالو ساتونکی ټاکل شوی يې هغه ورته وويل: په خدای قسم! چې الله به تاته بښنه ونه کړي. کله چې هغوی دواړه مړه شول او د الله عزوجل په مخ کې وړاندی شول. الله عزوجل په عبادت کې کوښښ کونکي ته وويل: آيا تا زما په باره کې ډېر معلومات درلودل او که هغه څه چې زما په لاس کې دي ته په هغې قادر وې. الله عزوجل گنهگار ته وويل: ځه او زما په رحمت جنت ته داخل شه او هغه بل ته يې وويل: دا (د جهنم اور) اور ته بوځئ. ابو بکر رضی الله عنه وايي: په هغه ذات مې د ې قسم وي، چې زما نفس د هغه په واک کې دی هغه داسې يوه خبره وکړه چې د هغه دنيا او اخرت يې تباه کړ.

دحديث تخريج :

سنن أبي داود: أول كتاب الأدب، باب في النهي عن البغي. حديث (۴۹۰۱)

د حديث فائدې :

۱: گناهگار او تيروتلي ته نصيحت ډېر بد ښکاري.

۲: کله چې يو کس چاته نصيحت او کومه ښه خبره کوي او دا ورته معلومه شوه، چې اوس نصيحت او يا د ښې خبرې کولو نه نور مشکلات پيدا کېږي، نو په انسان واجبه ده چې نصيحت کول پرېږدي.

۳: کوم کس چې بل ته نصيحت يا ښه خبره کوي هغه ته په کار دی د ډېرې نرمۍ، صبر او حلم نه کار واخلي.

۴: هر هغه کس چې بل سره په دنيا کې دعوه لري او يا يې ورسره جنگ کړی وي د قيامت په ورځ سره يو ځای کېږي تر څو د هغوی منځ کې انصاف وشي لکه پورتنی کېسه کې چې راغلي.

۵: د غيبو په پوهېدلو او يا د دې دعوه کول چې زه د سبا نه خبر يم کفر دی.

٦: الله عزوجل گنهگار ته وويل: (ته زما په رحمت سره جنت ته لاړ شه) او هغه چې مجتهد و د هغه په باره کې يې وويل: (دا اور ته بوځئ) د ابي هريرة رضی الله عنه نه روايت دی، چې وايي رسول الله عليه الصلاة والسلام وفرمايل:

(إنَّالله خَلقَ الرَّحْمَةَ يومَ خلَقَهَا مائةَ رحمةٍ ،فَأُمسَكَ عندهُ تسعة وتسعينَ رحمة ،و أرسلَ في خَلقِهِ كلِّهم رحمة واحدة ،فَلو يَعلمُ الكافرُ بكلِّ الذي عند اللهِ من الرحمةِ لم يَيْأسْ مِن الجنة ،و لو يعلم المؤمن بكل الذي عندَ اللهِ من العذابِ لم يَأْمَن من النار).

کله چې الله عزوجل رحمت پیدا کړ، نو هغه یې سل برخې (حصې) کړ. نهه نوي برخې د خپل ځان سره وساتلې او یوه برخه یې ټولو مخلوقاتو ته را ولیږه. که چېرته کافر ته د هغه رحمت معلومات وشي چې هغه د الله عزوجل سره دی، نو هغه به د جنت نه نا امیده نشی او که مؤمن ته د هغه عذاب معلومات وشي، چې هغه د الله سره دی، نو هغه به د دوزخ څخه هېڅ وخت بې ویرې پاتې نه شي.

بخاري: کتاب الرقاق، باب: الرجاء مع الخوف (۶۴۶۹)

۲۲ : دوه ښځې او انصاف .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : كَانَتْ امْرَأَتَانِ مَعَهُمَا ابْنَاهُمَا ،جَاءَ الذِّئْبُ فَذَهَبَ بِابْنِ إِحْدَاهُمَا فَقَالَتْ لِصَاحِبَتِهَا : إِنَّمَا ذَهَبَ بِابْنِكِ ، فَقَالَتْ الْأُخْرَى :إِنَّمَا ذَهَبَ بِابْنِكِ ،فَتَحَاكَمَتَ إِلَى دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَام ،فَقَضَى بِهِ لِلْكُبْرَى، فَخَرَجَتَا عَلَى سُلَيْمَانَ بْنِ دَاوُدَ عَلَيْهِمَا السَّلَام ،فَأَخْبَرَتَاهُ فَقَالَ :ائْتُونِي بِالسِّكِّينِ أَشُقُّهُ بَيْنَهُمَا ،فَقَالَتْ الصُّغْرَى :لَا تَفْعَلْ ، يَرْحَمُكَ اللَّهُ ، هُوَ ابْنُهَا فَقَضَى بِهِ لِلصُّغْرَى .

د ابو هریرة رضی الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله علیه افضل الصلاة والسلام وفرمایل: دوه ښځې وې چې هغوی سره دوه ځامن ول. لېوه راغی او د هغو ښځو څخه یې د یوې ښځې ځوی یوړ ، یوې ښځې بلې ته وویل: ستا ځوی لېوه یوړ دا بلې ورته وویل: نه! ستا ځوی لېوه یوړ. هغه دواړه ښځې داود علیه السلام ته د فیصلې لپاره راغلې. داود علیه السلام فیصله د لوې ښځې په حق کې وکړه. هغه دواړه سلیمان بن داود علیهما السلام ته راغلې او کیسه یې ورته وکړه. سلیمان علیه السلام ورته وویل:

چاړه (چاقو) راوړی ترڅو دا ماشوم دوه ټوټې کړم او هره ټوټه یې یوې یوې ته ورکړم. کشرې (وړی) ښځې وویل: الله دې درباندی ورحمېږی داسې مه کوه. دا د مشرې ځوی دی. سلیمان علیه السلام چې د کشرې ښځې دا خبرې واورېدې، نو د کشرې (وړې) په حق کې یې فیصله وکړه او ځوی یې ورته وسپاره.

دحدیث تخریج :

بخاری و هذا لفظه: کتاب احادیث الأنبیاء، باب: قوله تعالی: و وهبنا لداود سلیمن نعم العبد انه أواب، حدیث: (۳۴۲۷)او په کتاب الفرائض، باب: اذا ادعت المرأة ابنا (۶۷۶۹)

مسلم: کتاب الأقضیة، باب اختلاف المجتهدین، حدیث: (۱۷۲۰)

سنن النسائي: كتاب آداب القضاء، باب حكم الحاكم بعلمه (۵۴۰۴)

د حدث فائدې:

۱: جنگ د انسان خاصیت دی لکه په پورتنی کیسه کې یوې ښځې بلې ته وویل: لیوه ستا ځوی وړی دی او بلې ورته وویل: نه. بلکې ستا ځوی یې وړی دی.

۲: د جنگ په وخت کې په بل فیصله کول یو ښه کار دی.

۳: دا شوني ده چې ځوی دی د پلار نه په احکامو ډېر پوه وی.

۴: د حق د ښکاره کېدلو لپاره حیله کول جائز دي.

۵: د مور د رحم نه د الله رحم اووه څله ډېر دی او بل داسې ځوک نشته چې هغه د مور د ترحم نه ډېر ترحم ولري.

۲۳ : د سلیمان علیه السلام د عاګانې .

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو ،عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " أَنَّ سُلَيْمَانَ بْنَ دَاوُدَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا بَنَى بَيْتَ الْمَقْدِسِ ، سَأَلَ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ خِلالًا ثَلاثَةً : سَأَلَ اللَّهَ عَزَّوَ جَلَّ حُكْمًا يُصَادِفُ حُكْمَهُ فَأُوتِيَهُ ،وَسَأَلَ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ مُلْكًا لا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ مِنْ بَعْدِهِ فَأُوتِيَهُ ،وَسَأَلَ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ حِينَ فَرَغَ مِنْ بِنَاءِ الْمَسْجِدِ أَنْ لا يَأْتِيَهُ أَحَدٌ لا يَنْهَزُهُ إِلَّا الصَّلَاةُ فِيهِ أَنْ يُخْرِجَهُ مِنْ خَطِيئَتِهِ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ .

د عبد الله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله علیه الصلاة والسلام وفرمایل:

سلیمان بن داود علیهما السلام چې کله بیت المقدس جوړ کړ، نو د الله عزوجل نه یې درې سوالونه وکړل.

(۱) داسې فیصله (حکم) چې دهغه (الله عزوجل) د حکم مطابق وي.

(۲) داسې پاچاهي چې د ده نه وروسته د بل چا په نصیب نه شي.

(۳)کلهچې د بیت المقدس د جوړولو نه فارغ شو نو داسې دعا یې وکړه : هر ځوک چې دې جومات ته صرف د لمونځ په نیت راشي هغه دې د ګناهونو نه داسې پاک شي لکه په کومه ورځ چې د مور څخه د ګناهونو څخه پاک پیدا شوی یې.

دحدیث تخریج :

سنن النسایي و هذا لفظه: كتاب المساجد، باب فضل المسجد الأقصى والصلاة فيه، حديث (۶۹۴)
بن ماجة: أبواب اقامة الصلوات والسنة فيها، باب ماجاء فى الصلاة فى مسجد بيت المقدس. حديث (۱۴۰۸)

د حدیث فائدې :

۱: کله چې د صالحینو نوم یادیږی باید دعا ورته وشي او دا کار د اسلام له ادابو څخه دی.

۲: که یو کس بل ته د هغه په نه شتون کې دعا کوي، نو داسی یوه فرښته شته چې ستا دعا ته امین وایي او همغسې دعا چې تا کړې تاته کوي. د ابو الدرداء رضی الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله علیه افضل الصلاة والسلام فرمایلی:

(مَنْ دَعَا لِأَخِيهِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ قَالَ : الْمَلَكُ الْمُوَكَّلُ بِهِ آمِينَ ،وَلَكَ بِمِثْلٍ).

ژباړه:کله چې څوك خپل بل ورور ته د هغه په غیاب کې دعا وکړي، نو موکلة فرښته دهغه ددعا په ځواب کې وايي آمین او تاته دې هم دا څه (چې ده دعا کړي وئ) حاصل شي.

مسلم: کتاب الذکر والدعاء والتوبة والاستغفار، باب: فضل الدعاء للمسلمین بظهر الغیب(۲۷۳۲)
بو داود: کتاب الصلاة، باب تفریع أبواب الوتر، باب الدعا بظهر الغیب (۱۵۳۴)
ابن ماجة: کتاب: المناسک، باب: فضل الدعاء الحاج (۲۸۹۵)

۳: د جومات جوړول ډېر فضیلت لري. د عثمان بن عفان رضی الله عنه نه روایت دی چې وايي: ما د رسول الله علیه افضل الصلاة والسلام نه واورېدل چې هغه وفرمایل:

(مَنْ بَنَى مَسْجِدًا بَنَى اللَّهُ لَهُ مِثْلَهُ فِي الْجَنَّةِ) .

چا چې مسجد جوړ کړ الله عز وجل به ورته په جنت دهغه په رنګ کور جوړ کړي.

بخاري: کتاب الصلاة، باب: من بني مسجدا (۴۵۰)
مسلم: کتاب: المساجد و مواضع الصلاة، باب: فضل بناء المساجد والحث علیها (۵۳۳)

۴: هغه څه چې الله عزوجل نازل کړي په هغې حکم کول واجب دي دا کار د انسان ملک ساتي او عزت زیاتوی.

۵: څوک چې په هغو جوماتونو کې لمونځ کوي، چې هغه خلکو په خپلو پیسو جوړ کړی وی، نو د جوړونکي په حسناتو کې زیاتوالی راځي. رسول الله علیه الصلاة والسلام فرمایلی:

(مَنْ سَنَّ فِي الْإِسْلَامِ سُنَّةً حَسَنَةً فَعُمِلَ بِهَا بَعْدَهُ كُتِبَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِ مَنْ عَمِلَ بِهَا ،وَ لَا يَنْقُصُ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْءٌ) ،

چا چې په اسلام کې ښه خبر (یا ښه کار) وکړه هغه پرې عمل وکړ او نورو هم پرې عمل وکړ، نو هغه ته د هغه د عمل کولو او د نورو په هغه د عمل کولو دواړه ثوابه دی او د هغوی په اجرونو کې کموالی نه راځي.

مسلم: کتاب الزکاة، باب: الحث علی الصدقة ولو بشق التمرة او کلمة طیبة (۱۰۱۷)

۲۴ : د الله عزوجل په حکم د حیواناتو خبری کول .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قالَ : سَمِعْتُ رَسُولَ الله صلى الله عليه وسلم يقول : بَيْنَمَا رَاعٍ فِي غَنَمِهِ عَدَا عَلَيْهِ الذِّئْبُ فَأَخَذَ مِنْهَا شَاةً فَطَلَبَهُ الرَّاعِي ،فَالْتَفَتَ إِلَيْهِ الذِّئْبُ ،فَقَالَ : مَنْ لَهَا يَوْمَ السَّبُعِ يَوْمَ لَيْسَ لَهَا رَاعٍ غَيْرِي ؟، وَبَيْنَمَا رَجُلٌ يَسُوقُ بَقَرَةً قَدْ حَمَلَ عَلَيْهَا فَالْتَفَتَتْ إِلَيْهِ فَكَلَّمَتْهُ ،فَقَالَتْ : إِنِّي لَمْ أُخْلَقْ لِهَذَا وَلَكِنِّي خُلِقْتُ لِلْحَرْثِ " . قَالَ النَّاسُ : سُبْحَانَ اللَّهِ ،فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " فَإِنِّي أُومِنُ بِذَلِكَ وَ أَبُوبَكْرٍ . وَ عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا .

د ابو هريرة رضی الله عنه نه روایت دی، چې ما د رسول الله علیه افضل الصلاة والسلام نه واورېدل چې فرمایل یې:

یو شپون چې هغه خپله رمه څروله لېوه د هغه په رمه حمله وکړه او یوه میره (ګډه) یې ترینه وتښتوله، شپون د میرې د خلاصولو په هڅه کې د لېوه پسې روان شو. لیوه ورته را وکتل او ورته یې وویل: د هغه ویرې په ورځ به دا میره څوک وساتي په کومه ورځ چې به زما نه بغیر بل شپونکی نه وي. یو کس په غوا سور روان و. غوییي د هغه خوا ته وکتل او ورته یې وویل: زه د دې لپاره نه یم پیدا شوی بلکه د پټیو د کرنې لپاره پیدا شوی یم. خلکو وویل: سبحان الله. رسول الله علیه الصلاة والسلام وفرمایل: زه ابوبکر او عمر په دې ایمان لرو.

دحدیث تخزیج :

بخارى ۽ هذا لفظه: كتاب، فضائل اصحاب النبى عليه السلام، باب: باب قول النبى صلى الله عليه وسلم ـوكنتم تخذا خليلا (٣۶۶٣) او په كتاب المزارعة، باب: استعمال البقر للحراثة (٢٣٢۴)
مسلم: كتاب، فضائل الصحابة رضى الله عنهم، باب من فضائل أبي بكر الصديق رضى الله عنه حديث (٢٣٨٨)
ترمذي: كتاب الدعوات، أبواب المناقب عن رسول الله، باب قوله فان لم تجدينى فأتي أبا بكر، حديث (٣۶٧٧) او (٣۶٩٥)

د حدیث فائدې :

١: حیوانات پوهیږي لکه څنګه چې په پورتنی کبسه کې لېوه وویل او یا هم غوا وویل چې زه ددې لپاره نه یم پیدا شوی.

٢: د لېوه خبرې نه دا معلومېږی، چې دنیا په خپل حالت نه پاتې کېږی.

٣: د غوایي د خبرو نه معلومیږی، چې غوایی د بار لپاره نه ده پیدا شوی.

۴: رسول الله علیه افضل الصلاة والسلام په حیواناتو د رحم امر کړی. د شداد بم أوس رضی الله عنه نه روایت دی وایي: ما د رسول الله علیه افضل الصلاة والسلام نه واورېدل چې ویې فرمایل:

(إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ كَتَبَ الْإِحْسَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ ، فَإِذَا قَتَلْتُمْ ، فَأَحْسِنُوا الْقِتْلَةَ ، وَإِذَا ذَبَحْتُمْ ، فَأَحْسِنُوا الذِّبْحَةَ ، و لِيُحِدَّ أَحَدُكُمْ شَفْرَتَهُ ، وَلْيُرِحْ ذَبِيحَتَهُ) .

الله عزوجل د هر شي سره احسان واجب کړی دی. کله چې تاسو قتل کوی نو په ښه توګه قتل وکړی او کله چې (یو څه) حلالوئ، نو په په ښه توګه یې حلال کړئ او (حلالونکي ته پکار دي چی) خپله چاړه ښه تېره کړي او ځناور ته راحت (ارام) و رسوي.

ابی داود: کتاب الضحايا، باب: فی النهی أن تصبر البهائم والرف بالذبيحة (۲۸۱۴)
ترمذي: کتاب الديات عن رسول الله صلی الله عيه وسلم، باب: ما جاء فی النهي عن المثلة (۱۴۰۹)
نسايي: کتاب الضحايا، باب الأمر باحداد الشفرة (۴۴۱۰)
ابن ماجة: ابواب الذبائح، باب: اذا ذبحتم فأحسنوا الذبح (۳۱۷۰)
۵: رسول الله عليه افضل الصلام والسلام په حيواناتو د ظلمو کولو څخه منع کړی ده.

۲۵: د ربښتيني صدقي برکت .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ،عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . قَالَ : " قَالَ رَجُلٌ : لَأَتَصَدَّقَنَّ بِصَدَقَةٍ ،فَخَرَجَ بِصَدَقَتِهِ فَوَضَعَهَا فِي يَدِ سَارِقٍ ، فَأَصْبَحُوا يَتَحَدَّثُونَ : تُصُدِّقَ عَلَى سَارِقٍ ،فقَالَ : اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ ، لَأَتَصَدَّقَنَّ بِصَدَقَةٍ ،فَخَرَجَ بِصَدَقَتِهِ فَوَضَعَهَا فِي يَدِ زَانِيَةٍ ،فَأَصْبَحُوا يَتَحَدَّثُونَ : تُصُدِّقَ اللَّيْلَةَ عَلَى زَانِيَةٍ ،فَقَالَ : اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ، عَلَى زَانِيَةٍ ،لَأَتَصَدَّقَنَّ بِصَدَقَةٍ ،فَخَرَجَ بِصَدَقَتِهِ ،فَوَضَعَهَا فِي يدِ غَنِيٍّ ،فَأَصْبَحُوا يَتَحَدَّثُونَ : تُصُدِّقَ عَلَى غَنِيٍّ ،فَقَالَ : اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ عَلَى زَانِيَةٍ ، وَ عَلَى غَنِيٍّ ،وَعَلَى سَارِقٍ ،فَأُتِيَ فَقِيلَ لَهُ : أَمَّا صَدَقَتُكَ عَلَى سَارِقٍ فَلَعَلَّهُ أَنْ يَسْتَعِفَّ عَنْ سَرِقَتِهِ و أَمَّا الزَّانِيَةُ فَلَعَلَّهَا أَنْ تَسْتَعِفَّ عَنْ زِنَاهَا ، وَ أَمَّا الْغَنِيُّ فَلَعَلَّهُ يَعْتَبِرُ فَيُنْفِقُ مِمَّا أَعْطَاهُ اللَّهُ .

د ابو هريرة رضي الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله عليه افضل الصلاة والسلام وفرمايل:

يوه سړي دا اراده وکړه چې نن شپه به زه صدقه ورکوم. هغه د خپلې صدقې د ور کولو په خاطر ووته. هغه(په ناپوهي کې) خپله صدقه يوه غل ته په لاس کې کېښوده. خلکو داسې خبرې کولې چې غل ته يې صدقه ورکړه. صدقه ورکوونکي وويل: ای زما ربه! يواځې ته د ثنا او صفت لايق يې. زه به (نن) بيا صدقه ورکوم. هغه د خپلې صدقې په خاطر ووته او خپله صدقه يې(په نا خبری کې) يوې بد کارې (زناکارې) ښځې ته ورکړه. خلکو داسې خبرې کولې چې زنا کارې ته يې صدقه ورکړه. صدقه کوونکي وويل: ای زما ربه! يواځې ته د ثنا او صفت لايق يې. زه به نن بيا صدقه ورکوم. هغه د خپلې صدقې د ورکولو په خاطر ووته او خپله صدقه يې (په نا پوهي کې) يو مالداره ته ورکړه. خلکو خبرې کولې چې نن يې صدقه يو مالداره ته ورکړه. صدقه کوونکي وويل: ای زما ربه! د ثنا او صفت لايق يواځې ته يې. ياالله ستا شکر دی چې زما صدقه مالدار، غله او زناکارې په لاس ورغله. هغه سړي ته يو کس (په خوب کې) راغی او ورته يې وويل: ستا صدقه قبوله شوه. تا چې هغه بد کارې ښځې ته کومه صدقه ورکړې وه کېدای شي هغې ستا په دغه صدقه د بد کاری څخه ځان ساتلی وي. تا چې غل ته کومه صدقه ورکړې وه کېدای شي د هغه له امله هغه غلا پريښي وي او تا چې مالداره ته کومه صدقه

ورکړه کېدای شي هغه ووايي چې خلک صدقه ورکوي زه يې ولې ور نه کړم او هغه څه چې الله ورکړي په هغې کې صدقه ورکړي.

دحديث تخريج :

بخاري واللفظ له: كتاب الزكاة، باب اذا تصدق على غنئ و هو لا يعلم. حديث (١٤٢١)
مسلم: كتاب الزكاة، باب ثبوت أجر المتصدق، وان وقت الصدقة فى يد فاسق ونحوه،حديث (١٠٢٢)
نسايي: كتاب الزكاة، باب اذا أعطاها غنيا و هو لايشعر، حديث: (٢٦٢٤)

د حديث فائدې:

١: په حديث کې د زناکارې او غل نوم نه دی ذکر شوی ځکه اسلام د پردې دين دی.

٢: مؤمن هر وخت د ښو کارونو کولو په لټه کې وي.

٣: عملونه د نيت پورې تړلی دی.

۴: که څه هم په دغه کېسه کې راغلي چې هغه سړي خپله صدقه، غل، زناکارې او مالدار ته ورکړه خو بيا يې هم د الله عزوجل حمد او ثنا ويله يعني په هر حال بايد انسان د الله عزوجل حمد بيان کړي.

۵: الله عزوجل فرمايلی:

(وَعَسَىٰ أَن تَكْرَهُوا شَيْئًا وَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ) ، د بقرې سورت ٢١٦ آيت.

ژباړه: او ښايي چې تاسو يو شی بد وګڼی او هغه ستاسو لپاره ښه وي.

هغه سړي دا کار بد وګڼه چې غل، بد لمني او مالدار ته يې صدقه ورکړه، خو په خوب کې يې وليدل چې څوک ورته وايي، چې کېدای شي ستا صدقه چې دوی ته دې ورکړې ده زناکاره له زنا، غل له غلا او مالدار زکات ورکړی.

٦: کېدای شي يو مالدار بخيل او کبرجن هم و اوسی.

٧: د يو انسان کار په بل اثر کوي.

٢٦ : د الله عزوجل اراده .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ،قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " قَالَ سُلَيْمَانُ : لَأَطُوفَنَّ اللَّيْلَةَ عَلَى تِسْعِينَ امْرَأَةً كُلُّهُنَّ تَأْتِي بِفَارِسٍ يُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللهِ ،فَقَالَ لَهُ صَاحِبُهُ : قُلْ : إِنْ شَاءَ اللَّهُ،فَلَمْ يَقُلْ : إِنْ شَاءَ اللَّهُ، فَطَافَ عَلَيْهِنَّ جَمِيعًا،فَلَمْ يَحْمِلْ مِنْهُنَّ إِلَّا امْرَأَةٌ وَاحِدَةٌ ،جَاءَتْ بِشِقِّ رَجُلٍ ،وَايْمُ الَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ ،لَوْ قَالَ : إِنْ شَاءَ اللَّهُ لَجَاهَدُو افِي سَبِيلِ اللَّهِ فُرْسَانًا أَجْمَعُونَ " .

دابو هريره رضی الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله وسلم وفرمايل: يوه ورځ سليمان عليه السلام وويل: نن شپه به زه خپلو ٩٠ کور والا (ښځې) سره کور والی کوم او هره يوه به آس ځغلونکی

ماشوم راوړي چې (هغوی ټول به) د الله په لاره کې جهاد کوي. د سلیمان علیه السلام ملګري هغه ته وویل: ان شاء الله و وایه، مګر د سلیمان علیه السلام نه د ان شاءالله ویل د یاده ووتل. سلیمان علیه السلام خپلو بیبیانو ته ورغی، مګر د هغه د یوې بیبي نه بغیر نور د هیچا حمل و نه شو او د هغې یوې هم چې ماشوم وشو هغه هم ناقص وه. رسول الله علیه الصلام والسلام وفرمایل: زما دې په هغه ذات قسم وي، چې د محمد نفس د هغه په واګ کې دی که چېرته سلیمان علیه السلام ان شاءالله ویلي و (د هغه د ټولو بیبیانو نه به ځامن پیدا شوی وو) هغوی ټولو به د الله په لار کې په آس سواره جهاد کړی وو.

دحدیث تخریج :

بخاري و هذا لفظه: کتاب الأیمان والنذور، باب کیف کانت یمین النبی صلی الله علیه وسلم، حدیث (۶۶۳۹)او په کتاب الجهاد، باب: من طلب الولد للجهاد (۲۸۱۹)بخاري په: کتاب أحادیث الأنبیاء، باب: قول الله تعالی (و وهبنا لداود لسیمن، نعم العبد، انه أواب (۳۴۲۴)په کتاب النکاح ، باب: قول الرجل: لأطوفن اللیلة علی نسایي (۵۲۴۲)په کتاب: کفارات الأیمان، باب: الاستثناء في الأیمان (۶۷۲۰) او په کتاب التوحید، باب: في المشیئة والارادة، حدیث (۷۶۶۹)
مسلم: کتاب الایمان، باب الاستثناء في الیمین وغیرها، حدیث (۱۶۵۴)
نسایي: کتاب الایمان والنذور، باب اذا حلف فقال له رجل ان شاءالله، هل له استثناء؟ حدیث (۳۸۶۲)

دحدیث فائدې :

۱: لوی او غټ همت او د اجر نیت د مسلمان له صفاتو څخه دی.

۲: ټول أنبیاء بشر دی او هغوی لکه د نورو عامو انسانانو غوندې شیان ورڅخه هېرېږی لکه په دغه کیسه کې چې د سلیمان علیه السلام نه د ان شاء الله ویل هېر شول.

۳: کله چې یو کس د کوم کار اراده وکړي د مثال په توګه ووایي، چې سبا دا کار کوم نو بهتره دا ده چې داسې ووایي: ان شاءالله سبا به دا کار وکړم. الله عزوجل فرمایلی:

(وَلَا تَقُولَنَّ لِشَيْءٍ إِنِّي فَاعِلٌ ذَٰلِكَ غَدًا (23) إِلَّا أَن يَشَاءَ اللَّهُ ۚ وَاذْكُر رَّبَّكَ إِذَا نَسِيتَ وَقُلْ عَسَىٰ أَن يَهْدِيَنِ رَبِّي لِأَقْرَبَ مِنْ هَٰذَا رَشَدًا) . د کهف سورت ۲۳ او ۲۴ مبارک آیتونه .

ژباړه: او مه وایه یو شي ته چې زه دغه کار سبا ته کوم، مګر (ورسره وایه ای محمده) چې د الله اراده وي او کله چې دی هېره شي، نو خپل رب یادوه او (ای محمده) دوی ته ووایه چې ښایي زما رب ماته سمه لار وښیي.

۲۷ : عفریت او لمونځ .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : إِنَّ عِفْرِيتًا مِنْ الْجِنِّ تَفَلَّتَ عَلَيَّ الْبَارِحَةَ أَوْ قال كَلِمَةً نَحْوَهَا ـ لِيَقْطَعَ عَلَيَّ الصَّلَاةَ ، فَأَمْكَنَنِي اللَّهُ مِنْهُ ، فَأَرَدْتُ أَنْ أَرْبِطَهُ إِلَى سَارِيَةٍ مِنْ سَوَارِي الْمَسْجِدِ حَتَّى تُصْبِحُوا وَتَنْظُرُوا إِلَيْهِ كُلُّكُمْ ،فَذَكَرْتُ قَوْلَ أَخِي سُلَيْمَانَ : { رَبِّ هَبْ لِي مُلْكًا لَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ مِنْ بَعْدِي}، قَالَ رَوْحٌ : فَرَدَّهُ خَاسِئًا .

د ابو هريرة رضی الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله عليه الصلاة والسلام وفرمايل:

تېره شپه يو سرکشه او چالاکه پېری ماته راغی (او يا يې همداسې کومه خبره وفرمايله) تر څو زما لمونځ خراب کړي. الله عزوجل زه په هغه کامياب کړم ما غوښتل چې هغه د جومات د ستنې (پايې) پورې وتړم تر څو چې تاسو سهار راشی، نو تاسو ټول يې ووينی خو د خپل ورور سليمان عليه السلام دا خبره را ياده شوه چې : (رَبِّ هَبْ لِي مُلْكًا لَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ مِنْ بَعْدِي).

ای ربه! ماته داسې ملک(پاچاهی) راکړه چې زما څخه وروسته د هيچا په نصيب نه شي.

د حديث راوي روح وايي: هغه (پيری) بيا الله عزوجل د ذلت او رسوايي سره وشاړه.

د حديث تخريج :

بخاري ءاللفط له: کتاب الصلاة، باب لأسير أو الغريم يربط فی المسجد، حديث (۴۶۱)بخاري په أبواب لعمل فی الصلاة، باب: ما يجوز من العمل فی الصلاة، حديث (۱۲۱۰)په کتاب: بدء الخلق باب: صفة بليس وجنوده کې په مختصره توګه روايی (۳۲۸۴)په کتاب: أحاديث الأنبياء، باب: قول الله تعالی:(و وهبنا لداود سليمن، نعم العبد، انه أواب) (۳۴۲۳)او په کتاب التفسير (سورة ص) باب قوله: وهب لی ملکا لا ينبغي لأحد، حديث (۴۸۰۸)

مسلم: کتاب المساجد و مواضع الصلاة، باب جواز لعن الشيطان فی أثناء الصلاة، والتعوذ منه ... حديث (۵۴۱)

د حديث فائدې:

۱: کله چې يو پيری ډېر قوی او ضرر رسونکی وي هغه ته بيا عفريت وايي. الله عزوجل د نمل مبارک سورت په ۳۹ آيت کې فرمايلی:

(قَالَ عِفْرِيتٌ مِّنَ الْجِنِّ أَنَا آتِيكَ بِهِ قَبْلَ أَن تَقُومَ مِن مَّقَامِكَ ۖ وَإِنِّي عَلَيْهِ لَقَوِيٌّ أَمِينٌ) .

ژباړه: له پيريانو څخه يو زورور او قوي پيری وويل: زه به تاته دا تخت د دې نه مخکې رواړم چې ته له خپله ځايه پاڅېږی او زه پر دغه تخت راو ړلو کې قوي امانت ګريم.

۲: مسجد کې د بندي تړل جايز دي لکه څنګه چې په پورتني حديث کې راغلي.

۳: انسان پيريان ليدلی شي که هغه په خپل شکل وي او که شکل يې بدل کړی وي لکه د ابوهريرة رضی الله عنه حديث او يا هم لکه دار الندوة کې چې د سراقة بن مالک په صورت راغلی و او يا هم لکه په پورتني حديث کې چې رسول الله عليه الصلاة والسلام فرمايلی: چې ما هغه د ستنې پورې تاړه.

۴: شیطان هر وخت د دې په لټه کې وي، چې انسان په هر هغه څه کې چې هغه د خپل الله سره په رابطه کې وي خلل پیدا کړي.
۵: لمونځ تر ټولو لوی او ستر عبادت دی، ځکه خو عفریت رسول الله علیه الصلاة والسلام ته یواځې په لمانځه کې راغلی وه.
٦: په لمانځه کې خشوع ډېر مهم رکن دی ځکه دا د بنده او د الله عزوجل ترمنځ رابطه ده.
۷: ربښتونې وروروولي د اسلام وروروولي ده لکه په پورتني کیسه چې رسول الله علیه افضل الصلاة والسلام فرمایلي: ما د خپل ورور سلیمان علیه السلام خبره را یاده شوه.
۸: د دې نه ښکاري چې رسول الله علیه افضل الصلام والسلام د ادب یوه نمونه و ځکه خو یې عفریت ونه تاړه، سلیمان علیه السلام داسی دعا کړې وه چې: یا ربه ماته داسې بادشاهي راکړې چې زما څخه وروسته چاته په نصیب نه شي.
۹: کله چې بنده د خپل الله سره تعلق څومره زیاتیږی او ایمان یې پخېږی دومره د شیطان چل او فریب کمېږی. الله عزوجل فرمایلی:
(إِنَّ كَيْدَ الشَّيْطَانِ كَانَ ضَعِيفًا) سورة النساء ٧٦ مبارک آیت.

۲۸ : شیطانان د میړه او ښځې ترمنځ جدا والی راولی .

عَنْ جَابِرٍ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " إِنَّ إِبْلِيسَ يَضَعُ عَرْشَهُ عَلَى الْمَاءِ ،ثُمَّ يَبْعَثُ سَرَايَاهُ ، فَأَدْنَاهُمْ مِنْهُ مَنْزِلَةً أَعْظَمُهُمْ فِتْنَةً ،يَجِيءُ أَحَدُهُمْ ،فَيَقُولُ : فَعَلْتُ كَذَا وَ كَذَا ، فَيَقُولُ : مَا صَنَعْتَ شَيْئًا،قَالَ : ثُمَّ يَجِيءُ أَحَدُهُمْ ،فَيَقُولُ : مَاتَرَكْتُهُ حَتَّى فَرَّقْتُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ امْرَأَتِهِ ،قَالَ : فَيُدْنِيهِ مِنْهُ، وَيَقُولُ : نِعْمَ أَنْتَ " ، قَالَ الْأَعْمَشُ : أُرَاهُ قَالَ : فَيَلْتَزِمُهُ .

د جابر رضی الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
ابلیس علیه اللعنة خپل عرش په اوبو ږدي او بیا خپل فوځونه (ټولګي) استوي په دوی کې چې څوک شیطان ته نزدې وې هغه تر ټولو د لویې او غټې فتنې اچونکي وي. په دوی کې یو راشی او ابلیس ته ووایې: چې ما داسې او داسې وکړل. ابلیس ورته وایي: تا څه هم نه دي کړي. بیا بل راشي او ورته ووایې: ما فلانی سړی تر دې پرې نه ښوده تر څو چې مې د هغه او د هغه د مېرمنې ترمنځ جداوالی را نه وست. ابلیس هغه ځان ته نزدې کړي او ورته وایي: ته په ټولو کې ښه یې. اعمش وایي: هغه په غیږکې نیسي.

دحدیث تخریج :

مسلم: کتاب صفات المنافقين واحکامهم باب: تحريش الشيطان، وبعثه سراياه لفتنة الناس...حديث (۲۸۱۳)

د حديث فائدې:

۱: ابليس يعنې د الله د رحمت نه نا اميده شوی.

۲: ابليس عليه اللعنة په بحر کې اوسېږی لکه څنګه چې په پورتني حديث کې راغلي.

۳: ابليس عليه اللعنة خپل فوځونه لري، چې دی ملعون ورته أمر کوي او هغوی ملعونين يې امر په ځای کوي.

۴: کله چې يو مشر د خپل ځان سره ظالم او بد عمله خلک وساتي، نو بيا فساد او ظلم په ځمکه خپل عوج ته رسيږی.

۵ : تيټ خلک تل د دې په لټه کې وي، چې څنګه لوړ پوړو ته ځانونه نزدې کړي هغوی د نزدې والي او د شاباشي لپاره هر رقم کارونو ته غاړه ږدي تر څو خپل مشر خوشحاله کړي لکه په پورتني حديث کې چې واړه شيطانان ابليس عليه اللعنة ته وايي ما دا او دا وکړل.

۶: داعيانو او علماؤ ته پکار دي، چې په خپل دعوت او علم خپرولو کې ډېر زيات کوښښ وکړي. ځکه کله چې ابليس عليه اللعنة په وړو، وړو کارونو نه خوشحاله کېږی، نو داعيان او علماؤ ته پکار دي چې دعوت او د علم په خپرولو کې يوه لحظه هم سستي ونه کړي.

۷: ابليس تر هر څه ډېر د يوه مسلماني مېرمن او د هغه د مېړه ترمنځ په جداوالي ډېر خوشحاله کېږي ځکه بيا انسان زنا ډېر زر کوي او په ټولنه کې فساد او خرابوالی رامنځ ته کېږي.

۸: کله چې کافر او مفسد په خپل دعوت کې مصروفه وي او هغوی په هرو سختيو صبر کوي، نو داعايانو او علماؤ ته پکار دي چې هغوی خو لا ډېر د صبر او زغم نه کار واخلي.

۲۹ :ايوب عليه السلام او برکت .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ،عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ،قَالَ : " بَيْنَمَا أَيُّوبُ يَغْتَسِلُ عُرْيَانًا خَرَّ عَلَيْهِ جَرَادٍ مِنْ ذَهَبٍ ،فَجَعَلَ أَيُّوبُ يَحْثِي فِي ثَوْبِهِ، فَنَادَاه رَبُّهُ : يَا أَيُّوبُ ! أَلَمْ أَكُنْ أَغْنَيْتُكَ عَمَّا تَرَى ؟، قَالَ : بَلَى وَعِزَّتِک ،وَلَکِنْ لاغِنَی بِي عَنْ بَرَکَتِكَ .

د ابی هريرة رضی الله عنه نه راويت دی، چې رسول الله عليه الصلاة والسلام وفرمايل:

ايوب عليه السلام (يو ځل) لوڅ لمبلې، چې د سرو زرو ملخان پرې را ووربدل. ايوب عليه السلام (ملخان) په خپلو کاليو کې ټولول، الله عزوجل ورته وفرمايل: ای ايوبه! ما د دغه شيانو نه چې ته يې ويني نه وي بې نيازه کړي؟ ايوب عليه السلام عرض وکړ :چې هو زما ربه! زما دې ستا په عزت قسم وي، مګر ستا د برکت نه زه بې نيازه نه يم.

بخاري وهذا لفظه: كتاب الغسل، باب من اغتسل عريانا وحده في الخلوة، حديث (٢٧٨)او په كتاب: أحاديث الأنبياء، باب، حديث(٣٤٠٤)او په كتاب التفسير (سورة الأحزاب) باب: لا تكونوا كالذين اذوا موسى، حديث (٤٧٩٩)
نسايي: كتاب الغسل والتيمم، باب: الاستتار عند الغسل، حديث (٤٠٩)

د حديث فائدې :

١: كله چې انسان يواځې او ځان ته وي او بل څوک يې نه ويني، نو دا مباح ته چې لغړ ولامبي، ځکه الله عزوجل أيوب عليه السلام ته د ملخانو د ټولولو ووېل نه دا چې ته ولې لوڅ لامبې.
٢: الله عزوجل د نبيانو سره مستقيماً يا د وحيو په ذريعه خبرې کړي.
٣: كله چې يو انسان مالداره وي، نو د حلال مال جمع كول جايز دي، خو چې د دغه مال له امله په فتنه کې واقع نشي.

٣٠ : د الله عزوجل رحمت .

أن أبا هريرة رضي الل عنه ، قَالَ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ،يَقُولُ : " قَرَصَتْ نَمْلَةٌ نَبِيًّا مِنَ الْأَنْبِيَاءِ ،فَأَمَرَ بِقَرْيَةِ النَّمْلِ فَأُحْرِقَ ،فَأَوْحَى اللَّهُ إِلَيْهِ ،أَنْ قَرَصَتْكَ نَمْلَةٌ أَحْرَقْتَ أُمَّةً مِنَ الْأُمَمِ تُسَبِّحُ ،

د ابو هرير رضى الله عنه نه روايت دى، چې ما د رسول الله عليه الصلاة والسلام څخه واورېدل چې وېې فرمايل: په نبيانو کې يو نبي (عزير يا موسى عليهما السلام) ميږي(ميږه تون) وچيچه، نو دهغه په امر د ميږيو ټول كلي (كورونه، غارونه) په اور وسوځول شول. الله عزوجل ورته وحيه وکړه، چې ته يو ميږه تون وچيچلې او داسې يو امت دی ټول وسوځوه چې د الله عزوجل تسبيح يې بيانوله.

دحديث تخريج:

بخاري و هذا لفظه: كتاب كتاب الجهادوالسير،باب إذاحرقالمشركالمسلمهليحرق ؟ حديث : (٣٠١٩).
او په كتاب: بدء الخلق، باب: اذا وقع الذباب فى الشراب أحدكم فليغمسه فان فى أحد جناحيه داء وفي الآخرة شفء، وخمس من الدواب فواسق يقتلن في الحرم، حديث (٣٣١٩)
مسلم: كتاب السلام، باب النهي عن قتل النمل، حديث (٢٢٤١)
أبي داود: كتاب، أبواب النوم، باب في قتل الذر، حديث (٥٢٦٦)
نسايي: كتاب الصيد والذبائح، باب (معجم) قتل النمل، حديث (٤٣٦٣)
ابن ماجة: ابواب الصيد، باب ما ينهي عن قتله، حديث (٣٢٢٥)

د حديث فائدې :

١: ټول انبياء بشر دی هغوی مريضان او مړه کيږی.

۲: د غصې نه ځان ساتنه پکار ده. په پورتني حديث کې يو نبي د قهر له امله د ميږه تنو(ميږيو) کلی وسوځاوه.

۳: الله عزوجل په هر څه رحيم او مهربان دی.

۴: په کون کې هر شی د الله تسبيح وايي البته مونږ پرې نه پوهيږو.

۵: څوک چې د الله عزوجل ذکر کوي هغه د الله په نزد ژوندی دی او څوک چې د ذکر کولو نه محرومه وي هغه د مړو په مثال دی. رسول الله عليه افضل الصلاة والسلام فرمايلي دي:

(مَثَلُ الَّذِي يَذْكُرُ رَبَّهُ وَالَّذِي لاَ يَذْكُرُ رَبَهُ ،مَثَلُ الحَيِّ وَ المَيِّتِ) .

هغه کس چې د الله عزوجل ذکر او هغه چې هغه د الله ذکر نه کوي د ژوندي او مړي په مثال دی.

بخاري: کتاب الدعوات، باب فضل ذکر الله عزوجل (۶۴۰۷)
مسلم: کتاب صلاة المسافرين و قصرها، باب استحباب صلاة النافلة فی بيته وجوازها (۷۷۹)